نن سهار د ( الله اکبر ) غږ او لړزوونکی غږ د اسې
خوندور لګېده لکه چې د سړي په زړه او رګونو ننوځي، ویښ
زړونه یې لا بیداروله - جذبې او ولولې یې نورې هم راپارولې او ټوندې
کولې.

د هغه سهار د لمر ځرک ځلنده او طلایي پلوشې له بل هر
وخت نه بریښنده او ورنګنې وې - د لمر څرېې د دښمن تور زړونه
څیرلي وو او د آزادۍ او بریمیال مقاومت د پیل او دوام کرښې
یې انځور کړې وې.

دغه سهار له بل هر سهار نه په خورا زیات توپیر سره پیل
شو - سترګو یو بل ته د ویلو د پر ځلا او زړونو د پر نا ویلي رازونه
سپړلو ته لیکه کړي وو؛ په شوندو او ژبو د څرګندولو د پرې نوې
او مینه ناکې خبرې ګرځېدې.



سیند نن مرام یون ته کاوه څکمو څپوڅپو یې په ډېره تیزۍ او بې صبرۍ
له یو بل سره تندي جنګول.

د سیند د اړو غاړو ته د ټک د ټک چنارونه لکه وسله وال
سپاهیان د دفاع او مقابلې لپاره تیار سڅ ولاړ وو.

د بریښنا د فابریکې په نهر کې کبانو د اوبو له تل نه د نن
ورځې د یادونې ننداري ته پر له پسې غوټې راوهلې.

د خلکو له څېرو یو ډول مینه ناک هیبت او صلابت
ځلیده - لیرې نه د اپرون و آبله ورځ موچې همدغه وکړي لیدل
او نن مو له نظره تېرول د پر زیات تغییر ترې بریښېده.

پرون چې دیوه بزګر پر اوږه بېل او کلنګ ؤ او وچو شوندو
او سپېره مخ یې د بدې ورځې تصویر وړاندې کاوه، نن یې پر اوږه
یوه توره بړې د ایماني پرتم او ځواک ننداره ښیله او له څېرې یې له
یوه اوږده غموونکي انتظار وروسته د یوه فاتح وصال وړانګې
ځلیدې.

نن وړونکي ننداره وه - پاروونکي ننداره او مینه ماتوونکې.
زړونه باغ باغ وو او بدنونه له خوښۍ او ولولو په جامو کې نه ځاییدل
تا به ویل په کاشانو کې له یوې مخې ساه او روح پوکلی شوی - له هرې
تیږې هر کمر - هرې څانګې او هرې پاڼې د آزادۍ او خوښت
ترانې زمزمه کیدې او چې د سیند د څپو آواز به د زړ کو له غاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اود کوم مجاهد دخوښۍ له شلیک سره غبرګې شوې نو د غوئې
دخونړۍ کودتا دیوه یونیم کال په نوه پروبت زنګ یې له یوې مخې
لیرې کاوه .

مجاهدینو په نیول شویو موټرو نو کې د سیمې یوې او بلې
برخې ته دوځکړو د واد له پاره د تکبیر له ملکوتي او کفرځپوونکو
نارو سره داسې یوهیجان جوړ کړی ؤ ، چې سړي فکر کاوه
ځمکه - غرونه او کمرونه لړزیږي او خوځیږي .

د مجاهدینو له سترګو نه د امیدونو - خوښیو - تحرک
او نشاط دیوه دروند احتواج ورانګې ځلیدلې . له سترګو مینه - له نړونو امیدونه
او لړزونه اوله متو قوت او مهابت ورېده .

مجاهدین په خپل ایماني او روحي ځواک او پیاوړتیا
ویاړېدل او د خپلو سوبو او برلاسیو په هنداره کې یې د یوه ملي غروره
لارې پرنښه کولې .

د مجاهدینو مشران د سیمې د امنیت او کنټرول له پاره
راغونډ ؤ . تاتا به دیل جاې یې په وسپنو پټې دي - ټوپک به یې پر
ځنګون ایښی ؤ او له کارتوسو ډک کتارونو یې دلمر له وړانګو سره
بریښنا ایښوه شغلې شیندلې ، څېرو یې د ایماني پرتم او عظمت ګنډنګې
کوله - د تیرو یادونو زاړه او کل پلوشه یې را تازه کول - د تیر ویاړمن تاریخ
تلپاتنه ویاړونه یې را سپړل او د خپل ولس د تورې او سرلوړۍ د ننګ



د ننګ شلې یې ودانول .

د تیهرمانانو شملې پورته وې - د ننګ شادرونه خواره وو
د پت پټکي په سرونو مل ول پرانه وو - او له عقابي سترګو سترګو
یې دیوه ژور او شاهیني لید جولان بریښیده تا به ویل چې اتڅرسی ګې د محمد جانخان
روح غږېدلی د هغه راژوندی شوی او دازادی د قافلې مخکې دخپلو وینو ډیوې بلوي .
دلته مشران په خپلو کې سره جرګه وو - په پوره داد او باور
یې د پیښو په هکله دیو بل خبرې او نظریات اوریدل او د خپل اسلامي
بصیرت ، ولسي تجربو او پوهې په رڼا کې یې غوڅې پریکړې او ځرګندونې
وړاندې کولې .

دوه ، درې ګروپونه په بېلا بېلو برخو کې د تنبتیدلو
خلقیانو او جاسوسانو په لټه کې وو - ځینې له کاه دانې نه راایستلي - بل
به یې دوچې رشقې د دلیو له منځه راولاړ کړي ؤ ، هغه دریم یې له
کلاشینکوف سره د تیتېدو پر وخت نیولي ؤ - او همدا رنګه نورې هم
بې بي له پټو ځایونو راروان کړي وو .

مشران ناست وو - لږ اخوا ورته وسله وال سړي تیار يې
ولاړ وو او په انقلابي وینبتابه سمبال . - او د جهادي بیداریه او
لید په روحیه ځواکمن .

مشرانو د یو بل خبرې واوریدې ، سلا مشورې یې سره
وکړې او په ګډه یې لومړني تدابیر ونیول او د اسلامي انقلابي
شورا تشکیل اعلان کړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د کوم مجاهد د خوښې له شلیک سره غبرګې شوې نو د غوڅې د خونړۍ کودتا د یوه یونیم کال په ترڅ پروټ زنګ یې له یوې مخې لیرې کاوه .

مجاهدینو په نیول شویو موترونو کې د سیمې یوې او بلې برخې ته د وسلو د داد له پاره د تکبیر له ملکوتي او کفرځپوونکو نارو سره داسې یو هیجان جوړ کړی و ، چې سړي فکر کاوه ځمکه - غرونه او کمرونه لړزیږي او خوځیږي .

د مجاهدینو له سترګو نه د امیدونو - خوښیو - تحرک او نشاط ډیوې روښانه وې ... له سترګو مینه - له زړونو اُمیدونه او له زړونو نه او له متو قوت او مهابت ورېده .

مجاهدین په خپل ایماني او روحي ځواک او پیاوړتیا ویاړېدل او د خپلو سوبو او بریالیتوبو په هنداره کې یې د یوه ملي غورځنګ لارې پړانیستې کولې .

د مجاهدینو مشران د سیمې د امنیت او کنټرول له پاره راغونډ وو تا به ویل چې یې په وسپنو پټې دي - ټوپک به یې په ځنګون ایښی و او د کارتوسو ډک کتاروونه یې د ملي لمر وړانګو سره یې بېښنا ، یونه شغلې شیندلې ، ځیروټې د ایماني پرتم او عظمت ننداره کوله - د تیرو یادونو زاړه او کال پلوشه یې راتازه کول - د تیرو ویاړمنو تاریخ تلپاتې ویاړونه یې را سپړل او د خپل ولس د توري او سر لوړۍ د ننګ



د ننګ شملې یې ودانول .

د قهرمانانو شملې پورته وې - د ننګ څادرونه خواره وو د پت پټکي په سرونو ولو ول پراته وو - او له عقابي سرو سترګو یې د یوه زړور او شاهیني لید جولان بریښیده تا به ویل چې پر هر سري کې د محمد جان خان روح غزېدلی ، هغه راژوندی شوی او د ازادۍ د قافلې په مخ کې د خپلو وینو ډیوې بلوي .

دلته مشران په خپلو کې سره جرګه وو - په پوره داد او باور یې د پېښو په هکله د یو بل خبرې او نظریات اورېدل او د خپل اسلامي بصیرت ، ولسي تجربې او پوهې په رڼاکې یې غوڅې پریکړې او ځرګندونې وړاندې کولې .

ده ، دې ګروپونه په بېلا بېلو برخو کې د تنبتیدلو خلقیانو او جاسوسانو په لټه کې وو - ځینې له کاه دانې نه را ایستلی - بل به یې د وچې رشتې د دلیو له منځه راولاړ کړی و ، هغه د ډیم یې له کلاشینکوف سره د تیښتې پروخت نیولی و - او همدا رنګه نورې هم یې یو له پټو ځایونو راروان کړي وو .

مشران ناست وو - لږ اخوا ورته وسله وال سرتیاري ولاړ وو او په انقلابي وېښتابه سمبال - او د جهادي بیدارۍ او لید په روحیه ځلاکمن .

مشرانو د یو بل خبرې واورېدې ، سلا مشورې یې سره وکړې او په ګډه یې لومړني تدابیر ونیول او د اسلامي انقلابي شورا تشکیل اعلان کړ :

عبدالکبیر د اسلامي انقلابي شورا مشر .
محمد منیر اخندزاده د اسلامي انقلابي شورا مرستیال .
ډګروال ارکان حرب غلام دستګیر نظامي قوماندان .
حاجي محمد امان - ملک امیرخان - ملک خانصاحب - ملک غلام حید ر
او . . . . د غبرګو په توکـــــــــــــــــــــــــــــــــــه
پـــــــــــه غه اسلامي او انقلابي شورا کې راغونډ او د سیمې او مجاهدینو
قیادت ورته سپارل شو .
که ووایم چې د یوه مقتدر حکومت بنسټ یې کېښود مبالغه
به نه وي .
قضايي څانګه - د امنیت څانګه - د وعظ او تبلیغ له پاره د
علماوو څانګه او د غسې د نورو څانګو هستې کیښودل شوې .
د غلته سرې ته تابیري چې د ولس له منځه راولاړشوی قوت

کولی شي د د بېرو مشهورو سیاست پوهانو - او هغو کسانو نه چې په
سیاست او سیاسي مانورو کې یې د بېرې خولې بهولې وې بو یالي
وځېږي او وریمن . او د اسې کړنې وکاري او په نښه کړي چې د د بېرو
سیاسیونو د عمرونو هلې ځلې نشي ور یسې ورسیدای . په ربښتیا
هم چې « ملتونه له سیاستمدارانو نه هوښیار دي او د حالاتو
په نبض پوه . »



هلته د عصر د مدني تکنالوژۍ او عصري تخنیک په نشه
مستو او د جهاني سیاست د د پلو ماسي متخصصین ، د کې جي بي
د شیطنت او سیاسي تزویر په بتي کې پخو شوو کارپوهانو - جنرالانو
سیاسیونو او دیپلوماتانو دخپلې غلامانه بقا او د خپل مستکبر باداران په
لار بنوونه د ولسونو د له منځه وړلو او د خپل ناروا تسلط د دوام په خاطر
د کمپیوټر د عصر په سیوري کې پلانونه جوړول
او دلته یو بې وزلي - ځپل شوي - او اسکېرلي ولس او مشرانو
یې د خپل ایماني بصیرت او ولسي تجربې او اسلامي پوهې په رڼا کې
د حق د دښمنو د لا پوځالي اوبرې د لاره یون کاوه
هلته د ټانک - توپ - او بمونو د قوت په ځمار کې د منظم
عسکري انضباط - یونیفورم - لباس - تاکتیک - ستراتیژۍ او فن
ماهران لګیا وو .
او دلته په ولسي جامو کې د خادي او د رانه پټکي اولوړې شملې
خاوندان .
هلته ټانک ، - بمونه او اوس .
دلته ایمان ، جذبه او احساس .
د خلقیانو او جاسوسانو بندیان یو یو راوستل شول پوښتنې
او څېړونې ترې وشوې او هر یو ته د هغه د ګناه مطابق جزا ګانې
وټاکل شوې .

عبدالکبیر د اسلامي انقلابي شورا مشر .
محمد منیر اخندزاده د اسلامي انقلابي شورا مرستیال .
ډګروال ارکان غرب غلام دستګیر نظامي قوماندان .
حاجي محمد امان - ملک امیرخان - ملک خانصاحب - ملک غلام حید ر
او . . . . د غبرګو په توګه
پسـ‍ــد غه اسلامي او انقلابي شورا کې راغونډ او دسیمي او مجاهدینو
قیادت ورسپارل شو .
که ووایم چې دیره مقتدره حکومت بنسټ یې کیښود مبالغه
به نه وي .
قضایي څانګه - د امنیت څانګه - دوعظ او تبلیغ له پاره د
علما و څانګه او دغسې د نورو څانګو هستې کیښودل شوې .
د غلته سرې ته تابیري چې د رلس له منځه را ولاړېږي قوت

کولی شي د دېرو مشهورو سیاست پوهانو - او هغو کسانو نه چې په
سیاست او سیاسي مانورو کې یې دېرې خولې بهولې وې بوسالې
وخېژي او بریمن . او داسي کړنې وکاري او په نبنه کړي چې د دېرو
سیا سیونو د عمرونو هلې ځلې نشي ورېسې رسیدای . په رښتیا
هم چې « ملتونه له سیاستمدارانو نه هوښیان دي اود حالاتو
په نبض پوه . »



هلته د عصر د مدني تکنالوژۍ او عصري تخنیک په نشه
مستواو د جهاني سیاست د د پلو ماسي متخصصین ، د کې جي بي
د شیطنت او سیاسي تزویر په بتۍ کې پخو شوو کارپوهانو - جنرالانو
سیا سیونو او دپلوماټانو د خپلې غلامانه بقا او د خپل مستکبر باداړ په
لاربنوونه د ولسونو د له منځه وړلو او د خپل ناروا تسلط د دوام په خاطر
د کمپیوټر د عصر په سیوری کې پلانونه جوړول
او دلته یو بېوزلي - ځپل شوي - او استکبري ولس او مشرانو
یې د خپل ایماني بصیرت او ولسي تجربې او اسلامي پوهې په رڼا کې
د حق د دښمنانو د لا پوځالي او بري د لارې یون کاوه
هلته د ټانک - توپ - او بمونو د قوت په خمار کې د منظم
عسکري انضباط - یونیفورم - لباس - تاکتیک - ستراتیژۍ او فن
ماهران لګیا وو .
او دلته په ولسي جامو کې د خادې او درانه پټکي او لوړې شملې
خاوندان .
هلته ټانک ، - برق او اور .
دلته ایمان ، جذبه او احساس .
د خلقیانو او جاسوسانو بندیان یو یو راوستل شول پوښتنې
او څېړنې ترې وشوې او هر یوه ته د هغه د ګناه مطابق جزا کانې
وټاکل شوې .

د مجاهدینو کروپونه دیکې ددفاع او ساتنې لپاره غوره کړې شول - د ایماني ولولو او انتقامي جذبو په تو پانو د تکبیر د اروا پالونکو نارو په پیلا مه وخوځیدل - د لارې په اوږدو کې د خلکو له خوا د زنده باد او تکبیر په نارو بدرګه کیدل - د کلو ماشومانو به وړیښې د تکبیر نارې غبرګې کړې - سپین ږیرو به خوږه خوبه ځای پر ځای د ښکران او دعاګانو په ښارونې پالل - بوډاګانو به د تشجیع او حمیت په درنو کلماتو ستایل .

دغو کروپونو د سیمې د ساتنې په لارکې د سنګرونو د جوړولو له پاره لازم ځایونه او ستراتیژیکي برخې لټولې او د سنګر نیولو کوښښ یې په ښه کولې .

د هیواد هر ګوټ او هره کته د افغانانو له پاره طبیعي سنګر دی - کرنګونه د دښمن د ځپلو کندې دي - هر کمر یو پوخ سنګر دی او هره تیږه یو نه ښریدونکی مورچل - هره تره د غلیم د وینو تږې ده او هر خوړ د دښمنو د کرکټو د رغړیدو لپاره - څومره زړه ورونکی او بدن-نونکی منظر دی چې د ایماني جذبو او ولولو ښدله د خدای د سر تیرو بندګانو له ښیرو وبرینې - له زړونو د ایمان د عشق او شور هنګامې پورته شي - له ستو یې د پیاوړتوب او ځواک د ولټ سهسک کړي - له سترګو یې د ایماني پرتم بریښنا وپړقیږي د فکر په ساحه کې یې پرانځې د خدای (ج) په لارکې د قرباني تلوسه ولړزیږي او په مغزو



کې یې د جهاد کفن ځپونکی او آزادی بښونکی روح راپارېږي او په حرکت یې راولي - نو ژوند او مرګ دواړه ورته یوه معنا غوره کړي پدغه لارکې مرګ هم د ژوند مفهوم او دوهم نوم وګڼي - ځکه شهادت د ولسونو ژوند دی .

او څومره هیښ کوونکی دی هغه منظر چې پنځلس د دښمن (پروسپیرو) او بې جوړو بارکونو او پخو تأسیساتو وروخیژي - د کولیو باران او د اور لمبې د ټانکونو ناولي او د خپلې توري د عظمت نوغ اوچت کړي او ویې ړوي - څومره دا دمنده هغه صحنې چې یو ولس - یو بیوزلی ولس یو بې اسرې ولس دیو داسې په ځان مغرور او له مادي اځه ځواکمن طاقت پرورانديز وسله راپورته کا چې تر شایي د نړۍ د یو ستراو دیرې لوی شیطاني (او استعماري) اقتدرت ولاړ دی - څو د غه مستضعف ولس راولاړ شي - یون پیل کړي - د خوځښت لار خپله کړي - ودانګي - غورځنګونه شروع کړي - فتح او سوبې یې په برخه شي - حماسې وزیږوي - کارنامې رامنځ ته کړي په نړۍ کې پر استکبار د استضعاف د بري او پر مستکبرینو د مستضعفینو د بریالي ژوندی بیلګې وځلوي او په تولنیزو کې او تاریخ جوړوونکی دوران رهبري کړي .

ځکه شهادت د ولسونو ژوند دی - او مسلمان شهادت ابدي او سرلوړی ژوند ګڼي هغه ته ژوند او مرګ یوه معنا لري - د حق په لارکې مرګ د ژوند دوهم نوم بولي ځکه چې د مسلمان ژوند عقیده دی او جهاد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجاهدینو کروپونه د یې د دفاع او ساتنې لپاره غوره کړي شول - د ایماني ولولو او انتقامي جذبو په تو پانو د تکبیر د اروا پالونکو نارو په پیلامه وخوځېدل - د لارې په اوږدو کې د خلکو له خوا د زنده باد او تکبیر په نارو بدرګه کېدل - د کلو ماشومانو به وړېسې د تکبیر نارې غبرګې کړې - سپین ږیرو ښځو به ځای پر ځای د شکران او دعاګانو په نشارولو پالل - بوډاګانو به د تشجیع او حمیت په ډېرو کلماتو ستایل .

دغو کروپونو د سیمې د ساتنې په لارکې د سنګرونو د جوړولو له پاره لازم ځایونه او ستراتیژیکي برخې لټولې او د سنګر نیولو کوښښ یې په نښه کولې .

د هیواد هره برخه او هره کته د افغانانو له پاره طبیعي سنګر دی - کړنګونه د د ښمن د ځپلو کندې دي - هر کمر یو پوخ سنګر دی او هره تیږه یو نه ښکېدونکی مورچل - هره تره د غلیم د وینو تږې ده او هر خور د دښمنو د کمکریو د رغړیدو لپاره - څومره زړه وړونکی او بون - نوونکی منظر دی چې د ایماني جذبو او ولولو ښندلو د خدای د سرتېرو بندګانو له شیرو وړبېنې - له زړونو د ایمان د عشق او شور هنګامې پورته شي - له ستوني د پیاوړتوب او ځواک د ولګ سرهسک کړي - له سترګو یې د ایماني پرتم بریښنا وپرقیږي د فکر په ساحه کې یې یرانچې د خدای (ج) په لارکې د قربانۍ تلوسه ولړزیږي او په مغزو



کې یې د جهاد کفن خپور کړي او آزادي بښونکي روح او پاریږي او په حرکت یې راولي - نو ژوند او مرګ دواړه وړته یو معنا غوره کړي په دغه لارکې مرګ هم د ژوند مفهوم او دوام نوم وګڼي - ځکه شهادت د ولسونو ژوند دی .

او څومره هیښ کوونکی دی هغه منظر چې پنځلس د دښمن پروسپنزو او پرجوډو بارکونو او پخو تأسیساتو وروخیژي - د کولیو باران او د اورلمبو ... ناوړولې او د خپلې تورې د عظمت تږغ اوچت کړي او وېې ربوي - څومره د ادمنه ده هغه صحنه چې یو ولس - یو بېوزلی ولس بې اسرې ولس دیو داسې په ځان مغرور او له مادي اخځو ځواکمن طاقت پروړاندې وسله راپورته کا چې تر شایې د نړۍ دیرسترا ودېر لوی شیطاني اقتدرت ولاړ دی - خو د غه مستضعف ولس ماتې - یون پیل کړي - د خوځښت لارخپله کړي - ودانګي - غورځنګونه شروع کړي - فتح او سوبې یې په برخه شي - حماسې وزیږوي - کارنامې رامنځ ته کړي په نړۍ کې پراستکبار د استضعاف د برې او پر مستکبرینو د مستضعفینو د برلاسي ژوندۍ بېلګې وځلوي او پښتولو نړۍ کې تاریخ جوړوونکی دوران رهبري کړي .

ځکه شهادت د ولسونو ژوند دی - او مسلمان شهادت ابدي او سرلوړی ژوند ګڼي، هغه ته ژوند او مرګ یو معنا لري - د حق په لارکې مرګ د ژوند دوهم نوم بولي ځکه چې د مسلمان ژوند عقیده دی او جهاد .

# ... او یو ځل بیا تر توپان وړاندې چوپتیا خوره شوه!

د هلیکوپترونو په بدرګه تانکونو په ډېره تیزۍ پر پاخه سړک خپلې پولادي ځانې ښخولې. د مخابرې د ماشین موظف په ډېر اضطراب او هیجاني حالت کې له مرکز سره د شفرونو په ژبه خبرې کولې ؛ پس تندي یې د حالاتو د مقابلې هیبت د خولو کړې وړې لیکې ایستلې وې چې د ډېرو په خیږو کې یې لارې جوړولې .

د زغره والو شوبلو عسکر د مقابلې ویرې له بل هر خیال او سوچ نه ښخمه کړي وو . د مغو د مغزو په دایره کې د توپک د ډز او دکولو د لمبو کرښو یکنواخته او ستومانوونکي زلزله جوړه کړې وه .



د یوه مجاهد د غټ پټکي ، د کارتوسو ډک کمربند او د ټوپک خونړۍ شپیلۍ په هغه خپل ځیګرته خپره لیدله - او پر ماشه ایښې ګوتې یې هره لحظه هغه د زړه مزي راسستول، د ډېر دخوب احساس ان دوړو، کړ دونو یې خولې لکه د زهرو ترخې کړې وې .

د توپ دوبرې او سپیرې دښتې د دوه لاپې پرس چې پخوا به للمه غنمو یکرنګ پوښلې وه ان د شمال له ورمو سره په ډغنو ګښې لکه دیوه مستانه اتڼ چې یوه سیله خوا خوځیدې خو تر خلقي وحشت وروسته دا دښته تر اوسه ښاپه پرته ده .

دلته د تانکونو او توپونو اوبند کتار پنډ شو او هلیکوپترو پرې د پاسه وزرونه وغوړول .

اوس نو د مقابلې میدان رانودې وو - پل په پل د یوې خونړۍ جګړې مرکونې ننداره تر سترګو کېده .

اوس نو ښایېده چې د تانکونو او الوتکو تر اورلاندې هر څه نینه شوي وای - هغوی باید خپلې وسلې راټولې کړې او ولسوالۍ یې ورته تعاله کړې وای د خپلو وژل شوو کمونستو ملګرو په بدل کې یې ډېر سرونه د تانکونو په ښوکې رغړولي وای .

دلته یو ځل بیا لوړ رتبه صاحبمنصبانو نظامي میتنګ جوړ کړ - څخونو ته یې د سیمې نقشې وغوړېدې - څو ځاینه په ګوته کړای شول. دوه درې ځایونه نور هم په نښه شول - یو ځل بیا هر څه له سره وکتل شول

# ... اویوځل بیا ترتوپان وړاندې چوپتیا خوره شوه !

د هلیکوپټرونو په بدرګه تانکونو په ډېره تېزۍ پرڅاخه سرک خپلي پولادي ځانګې بنخولې . د مخابرې د ماشین مؤظف په ډېر اضطراب او هیجاني حالت کې له مرکز سره د شفرونو په ژبه خبرې کولې ؛ پس تندي یې د حالاتو د مقابلې هیبت د خولو کرښې ورېچ لیکې ایستلي وې چې د ورو په خیرو کې یې لاره جوړولې .

د زغره والو شوبلو عسکر د مقابلې ویرې له بل هر خیال او سوچ نه بېغمه کړي وو . د مغو د مغزو په دایره کې د توپک د ډز او د کولو د لمبو کرښو یکنواخته او ستوماتوونکي زلزله جوړه کړې وه .



د یوه مجاهد دغه پټکی ، د کارتوسو ډک کمربند او د ټوپک خوږې شپیلۍ به هغه خپل ځیګرته خبره لیدله . او پر ماشه ایښې ګوتې به هره لحظه د هغه د زړه مزي راسستول ، د ډز د خوب احساس او ډور ، کرو وینو یې خولې لکه د زهرو ترخې کړې وې .

د توپ د وېرې او سپېرې د بنتې د دوه لاپې پرسر چې پخوا به للمه غنمو یکرنګ پوښلې وه او د شمال له ورموسره به د غنمو وږي لکه دیوه مستانه اتڼ چې پیوه سله خوا خوځېدل خو ترخلقي وحشت وروسته دا دبنته تر اوسه شاړه پرته ده .

د لنه د تانکونو او توپونو ابند کتار پنډ شو او هلیکوپټرو پرې د پاسه وزرونه وغوړول .

اوس نو د مقابلې میدان رانودې وُ . پل په پل د یوې خونړۍ جګړې مرکونې نندارې ترسترګو سترګو کیده .

اوس نو ښایېدله چې د تانکونو ان الوتکو تراولاندې هرڅه نینه شوی وای . هغوی باید خپلې وسلې راټولې کړې او ولسوالۍ یې بېرته نعاله کړې وای د خپلو وژل شوو کمونستو ملګرو په بدل کې یې ډېر سرونه د تانکونو په پښو کې رغړولي وای .

د لته یوځل بیا لوړ رتبه صاحبمنصبانو نظامي میټنګ جوړ کړ . څخونو ته یې د سیمې نقشې وغوړېدې . څوځایونه یې ګوته کړای شول . دوه درې ځایونه نور هم په نښه شول . یوځل بیا هرڅه له سره وکتل شول .

د هرڅېن جاج واخیستل شو- د مخالفو غرونو بیا پوره ته شول ، د خیرت راپور نه تبادله شول ، د وړاندې تګ خبر تېر شو او د تیارۍ او حرکت وروستی اطلاع ورکړه شوه .

هلیکوپټرو له پاخه سړك نه د خام سړك لوری ونیو- ټانکونو هم له خام سړك نه د دوړو بړبوکه راپورته او پر دړنوې پیل وکړ، ګرده لارې یوې او بلې خواته دړې کولې - د صاحب منصبانو پرځونډو برېتونو د تورو دوړو پرده پرېبل پسې غوړېدې او د خولو لیکو پرې له یوې او بلې خوا لکه ورسره نقشې لیکې ایستلې داسې لکه چې پرخېړو یې د سیمې د نقشې کرښې کښل شوې وي او یا یې د دوی د رسوایی او ماتې لارې په نښه کړې وي

د پولادو او وینو مقابله پیل شوه د ایمان او اوسپنې ډغره ونښته .

ګولۍ وچلېدې - ټانکونه وغورېدل - الوتکې وغرمبېدې او اورونه ووریدل .

د یوې خوا وسله یوازې ټوپک ؤ او د بلې خوا درانه اتومات ټوپونه ټانکونه، بمونه، الوتکې او...

جنګ ونښت اوښه تود روان ؤ، مجاهدینو د کمروشاته سنګرونه نیولي ؤ، په ډېر احتیاط او باورې دزې کولې ، داسې چې کارتوس یې باید بېځایه ونه لګېږي - دوهم دقت به یې کاوه او داسې ځای به یې



کوت لکه چې په ګولۍ یې زړه نه کېږي - ځکه له هر یوه سره یوازې دوه سوه ګولۍ وې او اوس یې له یوه مجهز او ترغاښو پورې مسلح پوځ سره مقابله روانه وه .

کوم کارتوس به یې چې په نښه سم ونه لګېده د زړه تفس به یې داسې تنګ شو چې زړه به یې ورهم سم وبربښېده .

د کلاشنکوفونو د ضربه دزو په نه شلېدونکې تسلسل کې به د مجاهدینو د برېښ تسپار داسې انګازه خوروله لکه چې د کلاشنکوف تولې مرمۍ یې په شا شړلې وي .

* * *

درې ورځې کېدې چې د سیمې د شاوخوا استوګنو بوډا ګانو- ماشومانو او تورسرو کړې ورځ په غرونو کې تېروله- سهار به چې لا لمر ختلی نه وه وهلي نو د غرونو خواته به د ورو او تورسرو بیوه ښتوره لیکه خوځېده .

تراچې کلي ته راورسېده نو لوړې یې د « بمبئ » په کلي کې د حاجي محمد منیر اخندزاده د کلا پرخوا ټانکونه راوګرځول - له کلا بېګا ټول کسان وتلي وو - خو هغوی یوازې خپل سرونه ایستلي وو کورونه ټول ډك پاته وو - تردې چې په تنارو کې د خوراك دیګونه او کټوی هم سلامتي ایښې وې .

د هرځین جاج راخیستل شو- د دښمن د غرونو بیا پوره شول ، د خیرت راپورونه تبادله شول ، د ورانډې تګ خبرې تېرې شوې او د تیارۍ او حرکت وروستی اطلاع ورکړه شوه .

هلیکوپترو له پاخه سړك نه د خام سړك لوری ونیو- ټانکونو هم له خام سړك نه د دوړو بربوکي راپورته او پر ډزو پیل وکړ ، ګرده لارې یوې او بلې خواته ډزې کولې - د صاحب منصبانو پر ځونډو برېتونو د تورو دوړو پرده یې پر بل پسې غوړېدې او د خولو لیکو یې له یوې او بلې خوا لکه ورسره نقشې لیکې ایستلې داسې لکه چې پرځېرو یې د سیمې د نقشې کرښې کښل شوې وي او یا یې د دوی د رسوایۍ او ماتې لارې په نښه کړې وي

د پولادو او وینو مقابله پیل شوه د ایمان او اوسپنې جګړه ونښته .

ګولۍ وچلیدې - ټانکونه وغورځېدل - الوتکې وغرمبیدې او اوبونه ولوړېدل .

د یوې خوا وسله یوازې توپک ؤ او د بلې خوا درانه اتومات توپونه ټانکونه ، بمونه ، الوتکې او ...

جنګ ونښت او بیا تود روان ؤ مجاهدینو د کمو شاته سنګرونه نیولي ؤ ، په ډېر احتیاط او بار بار یې ډزې کولې ، داسې چې کارتوس یې باید بېځایه ونه لګېږي - دوهم دقت به یې کاوه او داسې ځای به یې



کوټ لکه چې په ګولیو نه کېږي - ځکه له هر یوه سره یوازې دوه سوه ګولۍ وې او اوس یې له یوه مجهز او ترغاښو پورې مسلح پوځ سره مقابله روانه وه .

کوم کارتوس به یې چې په نښه سم ونه لګېده د زړه تفس به یې داسې تنګ شو چې نږدې به یې وچاودېده سم و بریښیده .

د کلاشنکوفونو د ضربه ډزو په نه شلېدونکې تسلسل کې د مجاهدینو د برې تنها داسې انګازه خوروله لکه چې د کلاشنکوف توپلي مړمۍ یې په شا شړلې وي .

* * *

درې ورځې کېدې چې د سیمې شاوخوا استوګنو بوډاګانو- ماشومانو او تورسرو کړې ورځ په غرو کې تېروله - سهار به چې لا لمر ځیره نه وه وهلې نو د غرونو خواته به د وړو او تورسرو بیوه ستونزه لیکه خوځېده .

تر اوچې کلي ته راورسیده نو لوړي یې د « بمبۍ » په کلي کې د حاجي محمد منیر اخند زاده د کلا پر خوا ټانکونه راوګرځول - له کلا بېګا نږدې کسان وتلي وو - خو هغوی یوازې خپل سرونه ایستلي وو کورونه ټول ډك پاته وو - تر دې چې په تنارو کې د خوراك دیګونه او کټوی هم سلامتي ایښې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقي صاحبنصبان او عسکر د لارې په اوږدو کې د مجاهدينو مقابلې او بريدونو له اخ او توخ نه غوږځولې وو. د عسکرو مړي خو زياتره ترې پاته وو خو د ټوپلو زخميانو يې نور هم پر اعصابو تېرې چړې نيستې.

کلي ته په رارسيدو تانکونو مخ د کلا خواته وګرځوله خلقيان په يوه ساختګي ناڅانه اندان پر کلا ور ننوتل لکه وحشي ځناور په يوه او بل کوټه ورايله شول، ګرانبيه شيزونه يې په خوړا وحشت راايستل او موټرونو ته يې اچول - او دغسې يې د کلا ستري دروازې ته ديناميټ کېښودل او اور يې ورته کړ - کلايې وسوځوله.

له نورو کورونو يې هم ډېر شيزونه ولوټل حتی د بيوزله کورنيو ديوې غوا ژير غوړي يې هم ورسره ښنبودل.

د خلکو د تيار په ترڅ کې چې کوم خلقيان وژل شوي وو په ډېر وحشت د مغوی د غچ اخيستلو له پاره بېګناه وږنو ته لاس واچول شو - ډېر کسان ژوندي ونيول شول چې بيا يې هيڅ درك ونه لګېده.

له کورونو چې تور سرې - او ماشومان غرونو ته ختلي وو دك دك کورونه ترې پاته وو، کوم يوه يې چې څه وخت ميندلی و قوخپل قيمتي شيزونه يې بنخ کړي چې صفحم په خوروځوکې تول خراب او له منځه تللي وو.

خاروي په شپو شپو په اخوروونو نهس ولاړ وو د تي پړسېدو او تانکونو له دړنو. ژويهم پړی شلولي وو او يو بل ځای ته تبتيدل خو دروسته چې له دړنو او جګړو سره اموخته شول بيا به د ډېرو سختو



دړنو او بمبارۍ پر وخت هم پر اخور کراره ولاړ وو.

عسکري قوا د چك په هوتل کې ځای پر ځای شوه - مجاهدين په شا وخوا غرونو کې وو او د حملې لپاره يې تياری نيوله چې يو ځل بيا د کفر او الحاد بې ننګه بريښونه د شهيدانو انجام ننداره وښيي نو ځکه وو چې په سيمه کې يو ځل بيا ترټو پان وړاندې چوپتيا خوره شوه!

خلقي صاحبمنصبان او عسکر د لارې په اوږدو کې د مجاهدینو مقابلې او بریدونو له اخ او توغ نه غورځولي وو. د عسکرو مړي خو زیاتره ترې پاته وو خو د ټوپکو زخمیانو یې نور هم پر اعصابو تېرې چړې نیستي.

کلي ته په رارسیدو تانکونو مخه د کلا خواته وګرځوله خلقیان په یوه ساختګي ناڅاپه انداز پر کلا ورننوتل لکه وحشي ځناور په یوه او بل کوټه ورایله شول، ګرانبیه شیزونه یې په خوړا وحشت راایستل او موټرونو ته یې اچول - او دغسې یې د کلا ستړی دروازې ته وینا میټ کېښودل او اور یې ورته کړ - کلا یې وسوځوله.

له نورو کورونو یې هم ډېر شیزونه واخیستل حتی د بېوزله کورنیو دیوې غوا ژیړ غوړي یې هم ورپسې پنښودل.

د خلکو د تیار په ترڅ کې چې کوم خلقیان وژل شوي وو په ډېر وحشت د مغوی د غچ اخیستلو له پاره بې ګناه وژنو ته لاس واچول شو - ډېر کسان ژوندي ونیول شول چې بیا یې هیڅ درک ونه لګید.

له کورونو چې تور سرې - او ماشومان غرونو ته ختلي وو دګ دګ کورونه ترې پاته وو، کوم یوه یې چې څه وخت میندلی و قیمتي شیزونه یې بنخ کړي چې صفحم په خپو ورځو کې ټول خراب او له منځه تللي وو.

څاروي په شپو شپو په اخورونو نهس ولاړ وو د توپیو او ټانکونو له ډزو. ژوبه هم پړي شلولي بو او یو بل ځای ته تښتیدل خو وروسته چې له ډزو او جګړو سره اموخته شول بیا به د ډېرو سختو



ډزو او بمبارۍ پر وخت هم پر اخور کراره ولاړ وو.

عسکري قوا د چټک په هوټل کې ځای پر ځای شوه - مجاهدین په شا و خوا غرونو کې وو او د حملې لپاره یې تیاری نیوله چې یو ځل بیا د کفر او الحاد بې ننګه بریخوته د شهیدانو انجام ننداره وښیي نو ځکه وو چې په سیمه کې یو ځل بیا ترټوپان ورانډې چوپتیا خوره شوه!

# ... او د سهار لمونځ یې د فتحې په میدان ادا کړ!

ماز یگرنی لمر له درې څخه په تیزۍ سره خپله لمن ټوله کړه - پل په پل یې د غرونو له لوړو نه لوړو څوکو سره خپلې وروستۍ وړانګې او ځلونې او لګولې او غونډیو سره یې پخپله سرې څنونه رڼا په مخ ښکلې کوله.

د درې د دواړو خواوو غرونه د تل په شان په باعظمته او ښایسته اندازه نګې غاړې ولاړ وو او په ډېر غرور یې د خپل هیواد د ویروونو او ویاړونو ننداره یې کوله او چې څومره لمر ډوبېدو ته نږدې کېده او ژیړېده دومره په سیمه کې د یوه بریمن خوشبخت ازانګې خپرېدې.

د مجاهدینو په یوه نرۍ لیکه د غونډیو له پاسه جګېدله او کوزېدله شاوخوا دلې دلې ټوپک پر اوږو ځوانانو د انتقام او غورځنګ د جذبو او ولولو په توپان کې د یو غیر عادي هیجان او اضطراب ښکارندونه

کوله

له ستړگو يې داسې بریښېده چې د دې پر خاى چې خان ته يې پام وي
کوم بل لیري ځاى په نظر کې لري او ځان ترې هېر دی .

د خلکو اوږده کتاروونه خوځېدل - مخونه يې د پېګړیو په شملو
پټ شوي وو چې يوازې تېزې او عقابي سترګې يې له ورا ځلېدې .

دوګړو يو جوړ او بهير له ګرېوو بېو لارو د يوې نقطې شاو خوا
راغونډېده .

د خلکو بهير چوپ روان و چې د پټنو له بنګالو سره دلاې په اوږدو
کې د کوه‌ونو له پامونو د سپين سرو بنځو د دعا ګانو انګازه ورسره
غبرګېده . د کليو ځنې ته د ماشومانو وږې وږې وېل د دغه خوځښت ننداره
ته ولاړې وې - داسې ښکارېده لکه چې په سترګو کې يې د يوې معصومانه مينې
هيبت او وجد ځلکونو بريښنا يېزه تود برېښ تمثيلاوه .

د ماښام د لماځه وروسته د کوه‌ونو سپين سرې لا له خپلو
اوږدو دعاګانو نه وې وزګارې شوې چې د توپکو د ډزو تندرېز بارونو
د تيارو په زړو کې د نور کربنې وايستلې ، لحظه په لحظه د ډزو تسلسل -
زياتېده او د اميدونو او هيجانونو سمندر سترواني کېده .

ستوري يو يو د آسمان پر تندي وځلېده - سپوږمۍ په ډېره
تلوسه د غرونو له کنډوونه د حق او باطل د دغه ويارمنې معرکې
ننداري ته سر راپورته کې مجاهدينو له شلورو خواونه د ملحدينو



مرکز چې د چک په بنګلي هوټل کې يې ځاى نيولى و ترمحاصرې لاندې
ونيو .

د چک هوټل د مرمرينو دهلېزونو رنګين ماحول هغه غږونو د لګښي
نه دړلوده ، د وېرې او مرګ غوغا له هر پوړ کوټې نه پورته کېده .

عسکرو په ډېره ستوماني خپلې کوټې د کلاشنکوف پرماشه خوځولې
هغه هم د خپلو کمونستو منصبدارانو له وېرې چې په ډېر ليونتوب به يې پر
عسکرو د غوصې او تهديد خوله راخلاصه کړه او د جنګ شدت ته به يې
هڅول .

د هوټل د شيشو تر ټود عسکرو او منصبدارو پر مخ خپلې منګولې
ښخې کړې وې - او له هر لوري د مرګ کيږ پلوشې د تيارو په سينه کې يو
او بل ته خوا ځغلېدې .

مجاهدينو د ريو خوا ته خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه او د سوله
داومن بيرې په تلوسه يې د دښمن د زړه ستنې لړزولې ..

او چې شپه خوره پخېده دومره د مجاهدينو بريدونه د بري درشل
ته نژدې کېدل - د شپې تياره چې خومره تېينګېده له دښمن لوري اولوډن
ورکېده .

د هوټل دننه د خلقيانو او صاحب منصبانو ترمنځ د مجاهدينو د
بريدونو د مخنيوي او تکتولو په تاکتيکونو باندې سخت کشمکش روان و - د
مرګ او نابودۍ وېرې ترې لار ورکه کړې وه - څينو به يوه طرحه وړاندې

کوله

له سترګو یې داسې بریښېده چې د دې پر ځای چې ځان ته یې پام وي کوم بل لیرې ځای په نظر کې لري او ځان ترې هېر دی .

د خلکو اوږده کتارونه خوځېدل - مخونه یې د پګړیو پس شملو پټ نیولي وو چې یواځې تېزې او عقابي سترګې یې له ورا ځلیدې .

د وګړو یو جوړګ او بهیر له ګرېږو وږو لارو د یوې نقطې شا او خوا راغونډېده .

د خلکو بهیر چوپ روان و چې د پښتو له ښکالو سره دلاړې په اوږدو کې د کوړونو له بامونو د سپین سرو ښځو د دعاګانو انګازه ورسره غبرګېده . د کلیو ځنې ته د ماشومانو ورې ورې ډلې د دغه خوځښت ننداره ته ولاړې وې - داسې ځیر یې کتل چې په سترګو کې یې د یوې مینې معصومانه هیبت او وجد ځلکوینو بریښنا بیزه تود برېښ تمثیلاوه .

د ماښام دلماځه وروسته د کوړونو سپین سرې لا له خپلو اوږدو دعاګانو نه وې ولاړې شوې چې د توپکو د ډزو تندرېزو باړونو د تیارو په زړه کې د نور کرښې وایستلې ، لحظه په لحظه د ډزو تسلسل - زیاتېده او د امیدونو او هیجانونو سمندر ستوپاني کېده .

ستوري یو یو د آسمان پر تندي وځلېده - سپوږمۍ په ډېره تلوسه د غرونو له کنډوونه د حق او باطل د دغه ویارمنې معرکې ننداري ته سر راپورته کړ ، مجاهدینو له څلورو خواوو نه د ملحدینو



مرکز چې د چک په ښکلي هوټل کې یې ځای نیولی و تر محاصرې او ورلاندې ونیو .

د چک هوټل د مرمرینو دهلیزونو رنګین ماحول هغه ښکلی دلکشي نه درلوده ، د وېرې او مرګ غوغا له هر یوه کوټ نه پورته کېده .

عسکرو په ډېره ستومانه خپلې کوټې د کلاشنکوف پر ماشه خوځولې هغه هم د خپلو کمونستو منصبدارانو له وېرې چې په ډېر لیونتوب به یې پس عسکرو د غوږې او تهدید خوله راخلاصه کړه او د جنګ شدت ته به یې هڅول .

د هوټل د شیشو تو تو د عسکرو او منصبدارو پر مخ خپلې منګولې ښخې کړې وې - او له هر لوري د مرد کیو پلوشې د تیارې په سینه کې یوه او بله خوا ښغلیدې .

مجاهدینو د ریو خواو ته خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه او د سیوه دامن بري په تلوسه یې د دښمن د زړه ستنې لړزولې..

او چې شپه څومره پخېده دومره د مجاهدینو بریدونه د بري درشل ته نژدې کېدل - د شپې تیاره چې څومره ټینګېده له دښمن لوري او لوږن ورکېده .

د هوټل د ننه د خلقیانو او صاحبمنصبانو ترمنځ د مجاهدینو د بریدونو د مخنیوي او تکولو په تاکتیکونو باندې سخت کشمکش روان و - د مرګ او نابودۍ وېرې ترې لار ورکه کړې وه - ځینو به یوه طرحه وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله او څېنو به د بلې لارې او بل تجویز عملي کول پیشنهادول او په یوه او بل به یې د سلامتۍ تورونه لګول . او په پای کې به یې ټول ذوکټ او تاو ښیا د خپلو عسکرو په وژلو - کنځلو - ترټلو او شړلو سړه او یا د شاوخوا په کلو او کوروونو د هشکو او درنو ماشیندارو په بې دریغه ډزو؛ شپې د بېره مهیبه او درنه بنه نیولې وه .

سپوږمۍ د اسمان پرتنتر خپلې پلوشې خپرې کړې وې - د اسې ښکارېده لکه چې د روسي غلامانو پر سرکوزو دار بې غیرتۍ او شرمیدلې ماته په کړیکړیو خاندي د مجاهدینو خوشنده سیوري چې پل په پل یې د ورانديې تېګ هڅه کوله د سپوږمۍ په تته رڼا کې یو له بله او ښتل او ښتل .

سیند نن بیا مړاو یون کاوه تا به ویل چې د حق او باطل د معرکې شور او زوږ ته یې غوږ نیولی او د ډزو له خونده یې خپلې څپې ویدې کړې دي .

د هوټل د محاصرې کړۍ ساعت په ساعت تنګیده او ورسره د دښمن د مقاومت بورجلونه سرېدل او ډزې یې ورو په ورو کراریدې - د ټېښتې ټولې لارې تړلې وې د مقابلې توان نه درلود نه د شپې په تیاره کې نا معلوم لوري ته کډه بارکړې وه - یوه مخه ورته بېرته وه او هغه د تسلیمېدو مخه وه - او د تسلیمېدو له تصور سره به د ولس د انتقام د جذبې ډېرغزانده لمبې ترې چارپېر شوې ؛ که تسلیم شي او - ژوندی د دغه پاریدلي او تهریدلي ولس څوکو ته ورشي څه لوبې او



نخرې به پرې وکړي ! خو پدې نپوهیدل چې په اسلام کې له دښمن سره هم د عدالت په اساس د چلند امر شوی دی . . .

سهار لا سپیدې نه وې چاودلې چې د دښمن له خوا خال خال ډزې هم بندې شوې - د مجاهدینو په ډزو کې هم لږ کمښت راغی خو د بېرته بېرته زیاتې او سختې شوې .

چرګانو پرله پسې په زوره زوره بانګونه ویل د اسې ښکارېده چې د مجاهدینو د سولې په استقبال کې د زړه له تل نه د خوښۍ زیری کوي .

د پېرې کلي د جوماتو د اذان له ( اللّٰه اکبر ) سره د دښمن د - تسلیمېدو غږ پورته شو او سلو پر ځمکه کېښودو ، مجاهدین فاتح پرې ووتل - او د سهار لمونځ یې د فتحې پر ځمکه میدان ادا کړ .

کوله او څېنو به د بلې لارې او بل تجویز عملي کول پیشنهادول او په یوه او بل به یې د سلامتۍ تورونه لګول . او په پای کې به یې تول ذوکړ او تاو سیا د خپلو عسکرو په وژلو - کنځلو - تر ټېلو او ډېرلو سره او یا د شاو خوا په کلو او کورونو د هشکو او درنو ماشینډارو په بې دریغه ډزو : شېې د یره مهیبه او درنه بڼه نیولې وه .

سپوږمۍ د اسمان پر تنګ خپلې پلوشې خپرې کړې وې - داسې ښکارېده لکه چې د روسي غلامانو مرګونو دار بې غیرتۍ او شرمیدلې ماته په کرېږو کرېږو خاندي ، د مجاهدینو خوښنده سپوږمۍ چې پل په پل یې د وراندې ټیګ هڅه کوله د سپوږمۍ په تته رڼا کې یو له بله او بښتل او بښتل .

سپینډ نن بیا سراړ یون کاوه تا به ویل چې د حق او باطل د معرکې شور او زوږ ته یې غوږ نیولی او د ډزو له خونده یې خپلې ځپې ویدې کړې دي .

د هوټل د محاصرې کړۍ ساعت په ساعت تنګیده او ورسره د دښمن د مقاومت بوږجلونه سړېدل او ډزې یې واړه په واړه کړاریدې - د تېښتې ټولې لارې تړلې وې د مقابلې توان ترې د شپې په تیاره کې نا معلوم لوری ته کډه بار کړې وه - یوه مخه ورته ښېرته وه او هغه د تسلیمېدو مخه وه - او د تسلیمېدو له تصور سره به د ولس د انتقام د جذبې ټېغرانده لمبې ترې چار پېر شوې ؛ که تسلیم شي او - ژوندی د دغه پاریدلي او تهریدلي ولس منګولو ته ورشي څه به لوبې او



غرې به پرې وکړی ! خو پدې نپوهیدل چې په اسلام کې له دښمن سره هم د عدالت په اساس د چلند امر شوی دی . . .

سهار لا سپیدې نه وې چاودلې چې د دښمن له خوا خال خال ډزې هم بندې شوې - د مجاهدینو په ډزو کې هم لږ کمښت راغی خو د بېرته بېرته زیاتې او سختې شوې .

څرګانو پرله پسې په زوره زوره بانګونه ویل داسې ښکاریده چې د مجاهدینو د سولې په استقبال کې د زړه له تل نه د خوښۍ زیری کوي .

د پېرې کلې د جومات د اذان له ( اللّٰهُ اَکْبَرُ ) سره د دښمن د - تسلیمیدو غږ پورته شو د سلهې پر ځمکه کېښوده ، مجاهدین فاتح پرې ورو ورو ختل - او د سهار لمونځ یې د فتحې پر ځمکه میدان ادا کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ... او تول ولس د ورور ولۍ په مزي سره راغونډ شوی و

خلکو خپلې ورځنۍ چارې په عادي توګه پر مخ بیولې او د خپلې خوارۍ او مزدورۍ په خولو کې ډوب وو- یوې خواته به چې سرې کتل نو یو داسې تحول او اوښتون به یې تر سترګو شو چې هر څه به ورته بدل او بل ورېړ بښېدل تر دې چې د خلکو په څېرو کې هم د یوه ژور بدلون نښې ځلېدې - خود همدغه بدلون بلې خواته یو داسې آرام او مطمئن ماحول مسلط و چې وګړو به پوره ډاډ د خپلې ژوندچارې تر سره کولې ، داسې لکه چې هیڅ هم نه وي پېښ شوي ، کړاه کړارې وه او د خلکو د اند ښنو پر ژبغراندو اوراوبه توی شوې وې .

کله چې په افغانستان کې حکومتونه ټینګ و ، ولایتونه ، ولسوالۍ او علاقدارۍ فعالې وې ، هم لا یې د غسې یو امناك او ډاډمن چارپېرچل کې چا ساه نه وه اخیستې سړې حیران شي چې په د غسې بحراني او خطرناکو حالاتو کې چې یو ولس په تش لاس له یوه

مجهز غاصب پوځ سره په نابرابره جګړه کې وي ځکه دغسې یو آفاقي تنظیم پیوستون
اود یوې خوځنده کې بولیږ دولسونو ترمنځ رابنیږي وغځوي.

داد افغاني ټولنې یوه ستره او بارزه ځانګړنه ده چې په لویو او تاریخي حساسو شرایطو کې وګړي دملي ګټو په جهت اود هیواد دپت او آزادۍ د دفاع په لارکې ځپله سره تنظیم او پر یوه الهي رسۍ ونښلي شي.

کوم نظم چې افغاني ټولنې په دغسې حساسو او بحراني شرایطو کې خپل کړي د هغو بیلګه نوراً لږ میندل شوې چې بیا په عادي شرایطو او حکومتونو د ټینګښت پر وخت هم نده لیدل شوې او په عادي او آرام چاپېریال کې د همدغه ټولنې له کوټو هم وتلې ده.

*　*　*

د زرګونو وسله والو مجاهدینو چې همېش یې د سیمې پر دفاع کړینوکي سنګرونه نیولي وو بیاللاو د هغوی دارتیاوو پوره کول ټول دولس پرغاړه وو- هر سنګر ته خوراکي مواد رسول او د دغو موادو د رسولو له پاره د پروګرام پلان او نوبت ترتیب او تعمیل هم دولس کار و. هره ورځ هر کلي په خپل واربیله کوم شوربا اوکرکیچ څخه پخې ډوډۍ ټولولې او د سیمې لوی جومات ته به یې راوړې هلته به د نوبت له مخې په منظم او اوږون سنګرونو ته رسول کېدې دا سې چې نه یوه ورځ پکې ځنډ راغی او نه کوم چا ترې ځان وغړاوه - سرې فکر کاوه چې دا کارونه ځپله کېږي دا هر څه یوه معجزه غوندې برښېده. ولسي قرارداد ونو هر څه تنظیم او عیار کړي وو.



هر کلي ته د سپینږیرو مشرتیا کل شوې وه خود یخواني «ملک» په بنه نه بلکې یو ولسي مشر- د کلو دغو مشرانو بیا د سیمې په سطحه مشرتوب درلود او هغه مشر بیا په شورا کې برخه درلوده- پدې ډول یخواني دخانانو او ملکانو روست او مستبد نظام خپل ځای یوه ولسي نظام ته پرېښود.

زه دا نه وایم چې دغه سیستم بشپړ نیمګړتیا او کمزورې نه لرلې او یا به یې د طراحانو او کرځوونکو له خوا په چاڅه زور زیاتی نه وي شوې بلکې زما هدف د عموميا تو لورې دی چې څه وړ په حساسو او بحراني حالاتو کې خلک سره رانولېږي. راولاړېږي تنظیم کېږي او یوه ولسي اداره چلوي

*　*　*

د سیمې بریدونه تیاکل شوي وو- له برید سره سم د مجاهدینو بیرغو نه رېپېدل او د خپلې ریا په شپوکې یې دولس د آزادۍ او پرېتم تسرا یې غږولې- د لته د مجاهدینو وروستۍ ریا یکاوه چې سیمې ته د ننوتو او وتو د کنټرول ترڅنګ یې د دفاع دلومړنۍ کړنې حیثیت هم درلود.

تلفون له همدغه پایګاه نه د شورا تر دفتر او بیا د سیمې ترټولو مهمو برخو او مرکزونو پورې غزېدلی ؤ، چې وخت پر وخت د لازمو هدایاتو او خبرتیاوو په اره ترې ګټوره استفاده کېده.

د برېښنا فابریکه چالانه وه، کابل ته یې برېښنا قطع کړې وه خو د سیمې د استوګنو له پاره یې برېښنا برابروله. امنیت دومره ټینګ و چې یخوا به ځوانو ملکانو د ساتېرۍ له پاره له باغونو نه منې او نورې میوې غلا کولې خو پدې وخت کې هغه دساتېرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجهز غاصب پوځ سره په نابرابره جګړه کې وي خنګه د غښتي یو آفاقي تنظیم پیوستون او د یوې خولې بولۍ د ولسونو ترمنځ رینبي وغځوي .

دا د افغاني ټولنې یوه ستره او بارزه ځانګړنه ده چې په لویو او تاریخي حساسو شرایطو کې وکړي د ملي ګټو په جهت او د هیواد د پت او آزادۍ د دفاع په لاره کې پخپله سره تنظیم او پر یوه الهي رسۍ وتړل شي .

کوم نظم چې افغاني ټولنې په غښتي حساسو او بحراني شرایطو کې خپل کړی د هغو بېلګه خورا لږ میندل شوې چې بیا په عادي شرایطو او د حکومتونو د ټینګښت پر وخت هم نده لیدل شوې او په عادي او آرام چاپېریال کې د همدغه ټولنې له کوټو جم وتلې ده .

*　*　*

د زرګونو وسله والو مجاهدینو چې همېش یې د سیمې پر دفاعي کرښو کې سنګرونه نیولي وو او پالل او د هغوی دارتیاوو پوره کول ټول د ولس پر غاړه وو - هر سنګر ته خوراکي مواد رسول او د دغو موادو د رسولو له پاره د پروګرام پلان او نوبت ترتیب او تعمیل هم د ولس کار و . هره ورځ هر کلي په خپل وار بېله کوم شور او کرکېچ څخه پخې ډوډۍ ټولولې او د سیمې لوی جوماټ ته به یې راړسولې هلته به د نوبت له مخې په ډېر نظم او اوډون سنګرونو ته رسول کېدې دا سې چې نه یوه ورځ پکې ځنډ راغی او نه کوم چا ترې ځان وغړاوه . سړی فکر کاوه چې دا کارونه پخپله کېږي دا هرڅه یوه معجزه غوندې برېښېده . ولسي قرار دادونو هر څه تنظیم او عیار کړي وو .



هر کلي ته سپین ږیري مشر ټاکل شوی و خود ځواني «ملک» په بڼه نه بلکې یو ولسي مشر - د کلو د غو مشرانو بیا د سیمې په سطحه بل مشر درلود او هغه مشر بیا په شورا کې برخه درلوده - پدې ډول ځواني د خانۍ او ملکۍ وروستۍ او مستبد نظام خپل ځای یوه ولسي نظام ته پرېښود .

زه دا نه وایم چې دغه سیستم بېڅه نیمګړتیا او کمزورۍ نه لرلې او یا به یې د طراحانو او کړځوونکو له خوا په چاڅه زور زیاتی نه وي شوی بلکې زما هدف د عمومیاتو لوري دی چې څه ورپه حساسو او بحراني حالاتو کې خلک سره راټولېږي - راولاړېږي تنظیم کېږي او یوه ولسي اداره چلوي

*　*　*

د سیمې بریډونه ټاکل شوي وو - له برید سره سم د مجاهدینو بیرغونه رپېدل او د خپلې رڼا په څپو کې یې د ولس د آزادۍ او پرېتم ترانې غږولې - دلته د مجاهدینو وروستي پایګاوې چې سیمې ته د ننوتو او وتو د کنټرول ترڅنګ یې د دفاع د لومړنۍ کرښې حیثیت هم درلود .

تلفون له همدغه پایګاه نه د شورا تر دفتر او بیا د سیمې ترنورو مهمو برخو او مرکزونو پورې غزېدلی و ، چې وخت پر وخت د لازمو هدایاتو او خبرتیاوو په اړه ترې ګټوره ، استفاده کېده .

د برېښنا فابریکه چالانه وه ، کابل ته یې برېښنا قطع کړې وه خود سیمې د استوګنو له پاره یې برېښنا برابروله . امنیت دومره ټینګ و چې ځوا به ځوانو هلکانو د ساتېرۍ له پاره له باغونو نه مڼې او نورې مېوې غلا کولې خو پدې وخت کې هغه د ساتېرۍ

دغلا نخه هم ونیول شوه او هیڅ داسې پېښه ونه شوه چې په هغه کې دې دچا مال او حیثیت ته صدمه رسېدلې وي عجیبه خبره خو دا ده چې پخوا به له حقوقي دعواګانو نه پرولسوالۍ او محکمه وار نه کېده خو پدې وخت کې دغه ګردې ربړې او ارې شوې نښکارېدې، پخوانۍ د ښمنۍ او بد بینۍ هم له منځه ولاړې - د پرسخت مخالفین هم دیو بل ترڅنګ ودرېدل . خوله بده بخته چې وروسته د ځان غوښتنو او د قدرت د لیونتوب او د ګوند بازیو بزکشیو او منفي رقابتونو د سیمې دغه د امن ، ورورۍ او اطمینان فضا تر ډېره ګرد جنه کړه او هغه شوراي نظام یې د ګوندي مسابقو او ګوندیو اختلافاتو لورې ته ورساوه .

خو په سیمه کې اسلامي او بنستون دژوندانه دعادي حالت د استقرار او پاینت تر څنګ د یوه بنیادي تحول او بدلون لار هم پرانستله دومره چې په غوجنګونو کې د سیمې د ښوونځیو ودانۍ روغې رمټې پاتې وې او د برېښنا فابریکه د اولس په ګټه فعاله ساتله شوه .



# . . . او سهار لمر لا څیره نه وه وهلې . . .

یو ځل بیا پر سیمه دیوې نوې او سختې حملې خبر راورسېد - خبر له کابله رارسېدلی ؤ داسې چې له میرویس میدان څخه تر ارغندۍ پورې سړک ټول ټانګونو او نورو پوځي وسیلو او لاریو نیولی وو چې مخ په وړاندې روان وو .

د روژې مبارکه میاشت وه زما په خیال چې ۱۳ مه روژه وه، ملایانو فتوی ورکړې وه چې مجاهدینو ته د روژې خوړل روا دي . خو یوه مجاهد هم د روژې خوړلو ته زړه نه شو ښه کولی - که څه هم په رواوالي کې یې څه شک نه درلود خو خوړل یې د ځان دپاره شرم او یو ډول بې مروتي ګڼله او بله دا چې دوی د اسلام په لار کې وسله راپورته کړې او اوس پخپله روژه وخوري دا ورته ډېره سخته ښکارېده له دښمن سره له جګړې هم سخته او د ټانک او بم له مقابلې هم ګرانه، دا د ولس اعتقاد ؤ او ولسي انګیرنه .

لمر لا نه ؤ ختلی، خلک له حوما تونو نوی راګرځېدلي وو بزګرانو چې پرون د قوې درانګ آوازه اورېدلې وه کارته د تلو په اړه دوه زړي وو . په تېره په کورونو کې د مېندو خویندو او مېرمنو له خوا ډېره ټینګتیا کېده څو نن ورځ له کاره تېر شي . خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غلاځه هم ونیول شوه او هیڅ داسې پېښه ونه شوه چې په هغه کې دې دچا مال او حیثیت ته صدمه رسېدلې وي عجیبه خبره خو دا ده چې پخوا به له حقوقي دعواګانو نه پرولسوالۍ او محکمه وار نه کېده خو پدې وخت کې دغه ګردې ربړې او اړې شوې ښکارېدې، پخوانۍ د ښمنۍ او بد بینۍ هم له منځه ولاړې - د پرسخت مخالفین هم دیوبل ترڅنګ و درېدل . خوله بده بخته چې وروسته د ځان غوښتنو او د قدرت دلیونتوب او دګوند بازیو بزکشیو او منفي رقابتونو د سیمې دغه د امن، ورورۍ او اطمینان فضا تر ډېره ګردجنه کړه او هغه شوراي نظام یې دګوندي مسابقو او ګوندیو داختلافاتو لورې ته ورساوه .

خو په سیمه کې اسلامي او ښتون دژوندانه دعادي حالت داستقرار او پاینت ترڅنګ د یوه بنیادي تحول او بدلون لار هم پرانستله دومره چې پدغو جنګونو کې د سیمې د ښوونځیو ودانۍ روغې رمتې پاتې وې او د برېښنا فابریکه داولس په ګټه فعاله وساتله شوه .



# ...او سهار لمر لاخیره نه وه وهلې ...

یو ځل بیا پر سیمه دیوې نوې او سختې حملې خبر راورسېد - خبر له کابله راورسېدلی ؤ داسې چې له میرویس میدان څخه تر ارغندي پورې سړک تول ټانکونو او نورو پوځي وسیلو او لاریو نیولی وو چې مخ په وړاندې روان وو .

د روژې مبارکه میاشت وه زما په خیال چې ۱۳ مه روژه وه، ملایانو فتوی ورکړې وه چې مجاهدینو ته د روژې خوړل روادي . خو یوه مجاهد هم د روژې خوړلو ته زړه نه شو ښه کولی - که څه هم په رواوالي کې یې څه شک نه درلود خو خوړل یې د ځان دپاره شرم او یو ډول بې مروتي ګڼله او بله دا چې دوی د اسلام په لار کې وسله راپورته کړې او اوس پخپله روژه وخوري دا ورته ډېره سخته ښکارېده له دښمن سره له جګړې هم سخته او د ټانک او بم له مقابلې هم ګرانه، دا د ولس اعتقاد ؤ او ولسي انګیرنه .

لمر لا نه ؤ ختلی، خلک له جوماتونو نوی راګرځېدلي وو بزګرانو چې پرون د قوې دراتګ آوازه اورېدلې وه کار ته د تلو په اړه دوه زړې وو . په تېره په کورونو کې د میندو خویندو او میرمنو له خوا ډېره ټینګښتیا کېده څو نن ورځ له کاره تېرشي . خو د

هغوی همداڅرنګه وو، که داسې هره ورځ د توپو له آوازې او راټولو سره هغوی کارپرېږدي زراعت به په ټپه ودرېږي، ځمکې به شاړې پاتې شي. کښتونه به وسوځېږي او ښکاره ده چې بیا به مجاهدین هم لدغه لارې د راولاړو شویو ستونزو او ربړو له لاسه آرام نه مومي او جهاد به هم له یوې اقتصادي تکیې او ملاتړ څخه بې برخې شي.

هغوی مجبور وو، د خپل کار سامان او وسایل پې برابر او روان شول، خو دوه ورځې هر یوه وویل: چې که حالات خراب شول او قوه راورسېده څوک واره پدوی پسې مه لیږئ هسې نه چې بمباري پرې وشي هغوی پوهېږي او خپله چاره کولی شي.

د شورا رئیس - مرستیال قومندان او غړو اضطراري غونډه جوړه کړې وه د شورا رئیس پخپل ګمانګری دراندې انداز د اولسوال په شعبه کې د هغه د میز ترشا ناست و، له ستړګو یې یو نوی او مخصوص هیبت ښکارېده او یو ډول تریخ او پاڅوونکی کیفیت تري ځلېده. په غونډه کې د ټولو غړو په یوه خبره اتفاق وو او هغه د مقابلې او مقاومت خبره او تر وروستی سلګی پورې د جنګېدو هوډ.

دغونډې په پای کې هغه ژر ژر د تېلفون اندول وګرځاوه او د معمول خلاف یې په لنډو ټکو کې د مجاهدینو مرکزونو ته د تیارسۍ او حرکت امر وکړ. د تېلفون غوږۍ یې قومندان ته ورکړه او هغه په یوه ساده عسکري انضباط او نظم څو مختصري جملې وویلې او د حرکت بولنه یې ورکړه.

د لږې شېبې له پاره یو معنا دار سکوت حکم وچلاوه چې د شورا د رئیس دنرۍ او ترخې موسکا یوې لنډې شېبې مات کړ.



د شورا له دفتر نه د باندې د ساتونکو په ستړګو کې یو مهیب حرکت ترسترګو کېده د شورا دفتر چې څه موده مخکې د خلقیانو د بې جلبه واکمنۍ، لنډغرۍ او د سیمې د مؤمنو او پتمنو استوګنو د ځورولو او ویرولو یو مرکز و، دا څه وخت بله بڼه غوره کړې وه، بېل نظم او نظام پکښې چلېده - بېلې خبرې پکښې لیدل کېدې او نورې خبرې او فیصلې پکښې اجرا کېدې.

نن دغه دفتر بیا څه بل ډول ښکارېده خو هغه ورځ نه لکه د خلقیانو دناروا واکمنۍ په وخت کې.

مؤظفین او محافظین ګرندی او په جدي څېره کې د دفترونو ته تلل او راتلل او په بېړې سره به یوه لوري ته روانېدل.

دقوماندې په رسېدو د حملې د مخنیوی او مقابلې له پاره په ټوله سیمه کې د تیارسۍ غږ خپور او د غزا ډول ووهل شو، دالله اکبر چیغه پورته شوه او د مجاهدینو منظمو ګروپونو حرکت وکړ.

له پاسه یو دوه ګروپه مجاهدین راورسېدل - خدای خبر چې څه وخت به یې حرکت راکړی وي او څومره لاره یې وهلې او څومره به ستومانه وو، په مخونو یې د لارې د دوړو او ګرد ونو پیکه نښه ناسته وه - دوی به ستړي وو خو د ستومانۍ نښې نه پکې لیدل کېدې - دوی یوه ناا نډوله جنګ ته روان وو خو د په شا ټک او مانۍ فکر نه و، وو سره دوی له یو ټوپک او ۲۰۰ ګولیو سره د ټپا نکونو، توپونو او الوتکو مقابلې ته ورننوتې کېدل خو ویرې او اندېښنې آثار نه پکې تر سترګو کېدل.

له هغې خوا تر غاښونو پورې ډک وسله وال دښمن د ځغرولو ټانکونو په بهیر کې روان و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی همدا ثوندوُ که داسې هره ورځ د توپ له آوازې او راکټو سره هغوی کار پرېږدي
زراعت به په ټپه ودرېږي، ځمکې به شاړې پاتې شي. کښتونه به وسوځېږي او
ښکاره ده چې بیا به مجاهدین هم لدغه لارې د راولاړو شوېو ستونزو او ربړو له لاسه
آرام نه مومي او جهاد به هم له یوې اقتصادي تکیې او ملاتړ څخه بې برخې شي.
هغوی مجبوروُ. د خپل کار سامان او وسایل بې برابر او روان شول،
خو دومره هریوه وویل: چې که حالات خراب شول او قوه راورسېده څوک واړه
پدوی پسې مه لېږئ هسې نه چې بېباري پرې وشي هغوی پوهېږي او خپله
چاره کولی شي.

د شورا رئیس - مرستیال قومندان او غړو اضطراري غونډه جوړه کړې وه د
شورا رئیس پخپل ګمانګرې درانده انداز د اولسوال په شعبه کې د هغه د میز سر
شا ناست وُ له ستړکو یې یو نوی او مخصوص هیبت ښکارېده او یو ډول تریخ
او پاڅوونکی کیفیت ترې ځلېده. په غونډه کې د ټولو غړو په یوه خبره اتفاق
وو او هغه د مقابلې او مقاومت خبره او تر وروستۍ سلګۍ پورې د جنګېدو هوډ.

دغونډې په پای کې هغه ژر ژر د تېلفون انډول وګرځاوه او د معمول خلاف
یې په لنډو ټکو کې د مجاهدینو مرکزونو ته د تیارسۍ او حرکت امر وکړ. د تېلفون
غوږې یې قومندان ته ورکړه او هغه په یوه ساده عسکري انضباط او نظم څو مختصرې
جملې وویلې او د حرکت بولې یې ورکړه.

د لږې شېبې له پاره یو معنا دار سکوت حکم وچلاوه چې د شورا د رئیس د نوې
اوتریخې موسکا یوې لنډې شېبې مات کړ.



د شورا له دفتر نه د با ندې د ساتونکو په سترګو کې یو مهیب حرکت ترسترګو
کېده د شورا دفتر چې څه موده مخکې د خلقیانو د بې جلبه واکمنۍ، لنډغرۍ او د
سیمې د مؤمنو او پټمنو استوګنو د ځورولو و یرووونکی مرکز وُ، دا څه وخت بله بڼه
غوره کړې وه، بېل نظم او نظام پکښې چلېده - بېلې خبرې پکښې لیدل کېدې او نورې
خبرې او فیصلې پکښې اجرا کېدې.

نن دغه دفتر بیا څه بل ډول ښکارېده خو هغه ورځ نه لکه د خلقیانو د ناروا
واکمنۍ په وخت کې.

مؤظفین او محافظین ګرندی او په جدي څېره کې د دفترونو ته تلل او راتلل او
په بیړې سره به یوه لوري ته روانېدل.

دقوماندې په رسېدو د حملې د مخنیوی او مقابلې له پاره په ټوله سیمه کې د
تیارسۍ غږ خپور او دغزا ډول وډنګېده د الله اکبر چیغه پورته شوه او د مجاهدینو
منظمو ګروپونو حرکت وکړ.

له پاسه یو دوه ګروپه مجاهدین راورسېدل - خدای خبر چې څه وخت به یې
حرکت راکړی وی او څومره لاره یې وهلې او څومره به ستومانه وو، په مخونو یې
د لارې د دوړو او ګردونو پیکه نښه ناسته وه - دوی به ستړي وو خو د ستومانۍ
نښې نه پکې لیدل کېدې - دوی یوه نا ارامه ډوله جنګ ته روان وو خو د په شا ټک او ماتې
فکر نه وُ ورسره دوی له یو توپک او ۲۰۰ ګولیو سره د ټانکونو، توپونو او الوتکو
مقابلې ته ورننوتې کېدل خو ویرې او اندېښنې آثار نه پکې تر سترګو کېدل.
له هغې خوا تر غاښونو پورې تړک وسله وال د ښمن د ځمکنیو او هوایي ځواکونو په ملاتړ روان وُ

چې کن شپې هلیکوپترونو بدرګه کاوه اولدې خوا پښتې اېپلې په نس وړی مجاهد په خپلو پښو پلې یون کاوه.

له هغه لوري د ټانکونو او شوبلو درزا او غرار خوت او لدې خوا دحق دلارې بې وسلې او بې وسیلې مجاهدینو درانده، آرام متین او پاخه قدمونه اوچتول.

په یوه لیکه د حق او باطل د لبنکرو مقابله پیل شوه - کولې وچلېدې ټانکونو ځکه ولړزوله او الوتکو داور ګولې واورولې.

سهارلمرلا خپره نه وه وهلې او د دکو غرونو پر څوکو د لمر طلایي وړانګو لا د نور کربنې نه وې ایستلې چې د غرونو پر امتداد د سرو ګولیو پلوشې خپرې شوې او وریسې د ټانکونو سختو ډزو ځمکه ولړزوله دالوتکو مهیب کړس د دښمن د نړېدلې او وارخطا موقف څرګندوی وکړه - لدغو لړزوونکو ډزو او کړسهار سره ماشومان د خپلې پربستر وکې راکښېناستل - د پوښتنو په ډول انداز یې یو بل ته وکتل - زړو پوهېدل - په پټه خوله یې یو بل ته څوڅو واره وکتل او په ستر ګوستر ګو کې یې د برخه سره وویل او دیو بل په زړه وپوهېدل - د سترګو دغه معصومانه جنګ یو عالم اسرار او سوالونه لرل. چې اوس به ټانکونه د هغوی پرکوروونو ورخېژي داو بوس په ډزو به یې کورنړېږي، الوتکې به پرې بمونه غورځوي - په پلار، ورور او نورو خپلوانو به یې څه څه تېرېږي او په دوی به څه حال راځي....

بې وسلې خلک د غرونو په لور روان شول ځکه که قوه وړاندې تېره شي د هغوی د سر خطر دی.

هلته جنګ بنه تود روان ؤ، مجاهدینو په دریو برخو کې د دښمن مقابلې ته



سنګرونه نیولي وو - لدې خوا به د مجاهد د ټوپک له یوه ډز سره له هغه خوا د درند و ماشینګنو او توپونو یو دوامدار باړ وچلېد - سړی به فکر کاوه چې په دغه مسلسل شلیک چې د مجاهد د ټوپک دیوه ډز په ځواب کې د هغه په مورچل شوی هغه څه کوې کانې به هم اوره شوي وي او ځمکه به پر بل مخ اوښتې وي، خو چې کتل به دې بیا به له همهغه مورچې د مجاهد د ټوپک ډز شو داسې رسا ډز چې که په دوربین کې به دې وکتل نو ګولې به وختې د د ښمن پر بدن مېښتې وه.

بنځو خپلې کاڼې چې د پخوانیو پاچاهانو د وخت کومه ښه بندکړې روپۍ وه له ځینو نورو ځیزونو سره یو ځای بل ځای ښخولې - چې یو ځای کې به یې خښې کړې نو ډېره به بیا څه وېره وویل په هغه ځای به بې باوره شوې بل ځای ته به یې یووړې ځکه که قوه راتېره شي نو دا هیڅ به پرې نږدي نو رخو څه کوې چې دکورونو دزېږو غوږو په لوټلو هم دریغ نکوي.

قوه له وړاندې تګ څخه پاته شوه خوځکره په ټول قوت سره روانه وه په یوه برخه کې په اوار ډاګ کې مجاهدینو قوه محاصره کړې وه.

محمد نبي مجاهد به ویل: ماته د د ښمن لدو یشتلو څخه د ډزو په تسلسل کې د هغوی رغړېدل اوله وحشت څخه د که ټېښته خوند راکوي او همېشه به یې د دښمن د لیونې ټېښتې لذت یاداوه، و به یې خندل او بیا به یې پورته وغورځولې او په خندا کې په ووک غږ به یې ویل: ماته یې د کولیو په باران کې دوی ډابې ایمانه تر یکې خوند راکوي.

هغه به کله ناکله د شوخۍ له مخې ویل: زه یې له تندي پرته بل ځای نه

چې کن شپ هلیکوپترونو بدرګه کاوه اولدې خوا پښتني اېپلي په نس وړې مجاهد په خپلو پښو پلي یون کاوه.

له هغه لورې د ټانکونو او شوبلو درزا او غرار خوت او لدې خوا دحق دلارې بې وسلې او بې وسیلې مجاهدینو درانده، آرام متین او پاخه قدمونه اوچتول.

په یوه لیکه دحق او باطل دلښکرو مقابله پیل شوه ـ کولې وچلېدې ټانکونو ځکه ولړزوله او الوتکو داورګولې واورولې.

سهار لیرلا خپره نه وه وهلې او د دګرغرونو پر څوکو دلمر طلايي وړانګو لا د نور کرښې نه وې ایستلې چې دغرونو پر امتداد دسرو ګولیو پلوشې خپرې شوې او وریسې د ټانکونو سختو ډزو ځمکه ولړزوله دالوتکو مهیب کړس ددښمن دنړېدلې او وارخطا موقف څرګندوي وکړه ـ لدغو لړزونکو ډزو او کړسهار سره ماشومان دخپلو پربسترو کې راکښېناستل ـ دپوښتنو په ډول اندازې یو بل ته وکتل ـ زړو پوهېدل ـ په پټه خوله یې یو بل ته څو څو واره وکتل او په سترګو سترګو کې یې د پرڅه سره وویل او دیوبل په زړه وپوهېدل ـ دسترګو دغه معصومانه جنګ یو عالم اسرار او سوالونه لرل. چې اوس به ټانکونه دهغوی پرکورونو ورخېژي داوبوس په ډزو به یې کورونړېږي، الوتکې به پرې بمونه غورځوي ـ پلار، ورور او نورو خپلوانو به یې څه څه تېرېږي او په دوی به څه حال راځي . . . .

بې وسلې خلک دغرونو په لور روان شول ځکه که توره وراندې تېره شي دهغوی د سرخطر دی.

هلته جنګ بنه تود روان ؤ، مجاهدینو په دریو برخو کې ددښمن مقابلې ته



سنګرونه نیولي وو ـ لدې خوابه دمجاهد دټوپک له یوه ډز سره له هغه خوا دډرند و ماشینګنو او توپونو یو دوامداره باران وچلېد ـ سړی به فکر کاوه چې په دغه مسلسل شلیک چې دمجاهد د ټوپک دیوه ډز په ځواب کې د هغه پرمورچل شوی هغه خو څه کوې کانې به هم اوره شوي وي او ځمکه به پر بل مخ اوښتې وي، خو چې کتل به دې بیا به له همغه مورچې د مجاهد دټوپک ډز شو داسې رسا ډز چې که په دوربین کې به دې وکتل نو ګولۍ به وخت د دښمن پر بدن ښښتې وه.

بنځو خپلې کانې چې دپخوانیو پاچاهانو دوخت کومه نیمه بندکړې روپۍ وه له ځینونورو څیزونو سره یو ځای بل ځای ښخولې ـ چې یو ځای کې به یې خښنې کړې نو زړه به بیا څه ورته وویل په هغه ځای به بې باوره شوې بل ځای ته به یې یوړې ځکه که قوه راتېره شي نو دا هیڅ به پرې نږدي نور څه کوې چې دکورونو دزېږ وغوړو په لوښو هم دریغ نکوي.

قوه له وړاندې تک څخه پاته شوه خو جګړه په ټول قوت سره روانه وه په یوه برخه کې په اوار ډاګ کې مجاهدینو قوه محاصره کړې وه.

محمدنبي مجاهد به ویل: ماته د دښمن لدوېشتلو څخه د ډزو په تسلسل کې د هغوی رغړېدل او له وحشت څخه ډکه تښتېدنه خوند راکوي او همېشه به یې د دښمن د لیوني تښتېدنې لذت یاداوه، وبه یې خندل او ډېر به یې پورته وغورځول او په خندا کې په ورک غږ به یې ویل: ماته یې دسکولیو په باران کې دوی دا بې ایمانه ترېکې خوند راکوي.

هغه به کله ناکله دشوخۍ له مخې ویل: زه یې له تندي پرته بل ځای نه

په نبنه کوم خوداني غیرته چېرته په تندي لګېږي دا هر یو په شا لګېږي هر مردار عسکر یا صاحب منصب چې ګوري نولومړی په پونده لګېدلی وي.

د هغه به همیشه خوله له خندا ډکه وه او د جنګ په سخت او تریخ ساعت کې به هم هغه یوه نیمه ټوکه ویشتله.

له ټانک نه د یوه صاحبمنصب کېن لاس سنګاره شو د ځنګ بجاهد ته یې وویل که مې ستړګو کارګولی نو د ساعت عقرب مې یې په نښه کاوه ته ګوره ورته؛ د ټوپک له ډزسره د صاحبمنصب لاس او ساعت دواړه به هوا شول هغه به د ډزترمخ د عسکر، صاحبمنصب، یا ټانک، لارۍ او...... یو ځانګړی ځای په نښه کاوه په کوم ځای به چې د هغه زړه ورغی - او بیله دې یې هیڅکله پرماشه ګوته نه راکاږله.

خدای خبر چې د کوم مجاهد ټوپک مړدک د جبهه خانې پر موټر ومښت چې د ټانکونو له منځه یو ډز اولېږي پورته شوې.

داورلېږي دومره ژبغړانده او چاودنه ماشین سختنه وه چې نژدې ټانکونو او لارۍ یې همهغلته پچپلولمبو کې واخیستلې او د نورو چې وس کېده او لاره یې ایستلې شوای نو بیا یې نه سمه کتله او نه کړه.

اوچې له کابل نه د تښتېدلو عسکرو او صاحبمنصبانو حال راورسېدنو مغوی خبره دومره لویه کړې وه چې: پدوی له ځاورو خاوو او هوا نه څه کوي چې د ځمکي له تل نه هم ډزې او برید ونه کېدل. داسې چې هر کوم هرې ډېرې، هرې او في او هر بوټي پرې باړونه چلول.



# ...او: په جرګو مرکو نشي کارتمام

د خلقیانو له جګړې ستومانه او نهیلی حکومت دې ته اړ شو چې د زور له لارې نه بلکې د زاریو او ننواتو له لارې ځینې اقوام و ته د هغوی سپین ږیري او مشهور پخبري چې په کابل کې د دوی د وحشت تر چپي لاندې او سېدل د جرګې په نوم واستوي.

هغاو چې په کابل کې یې د ورکو مشهوري خبري او مخور داخله وزارت ته جلب کړل په لستونو کې د هغو ټولو ماموریتو نومونه نیول شوي و چې د وږدکو چک ته منسوب او لاد شرخي پله د زندان میلمانه شوي نه وو.

دغه کسان د روژې په وروستیو ورځو کې د داخله وزارت د ماموریتو د دوو ي خورلو په سالون کې راغونډ کړی شول.

دا هغه وخت و چې اسلم وطنجار مازی تش په نوم وزیر و، خود دغه وزارت واک او صلاحیت ظاهراً د پولیسو د لوی قوماندان انجنیر علي شاه پیمان په لاس کې و.

علي شاه پیمان چې یو امیني خلقي او له امین سره د کلک مارغوندې ښایسته ژ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نبنه کوم خوداېي غیرت چېرته په تندي لګېږي؟ا هر یو په شا لګېږي هرمردار عسکر یا صاحب منصب چې ګوري نولوېږي په پونده لګېدلی وي.

د هغه به همېشه خوله له خندا ډکه وه او د جنګ په سخت او تریخ ساعت کې به هم هغه یوه نیمه ټوکه ویشتله.

له ټانک نه د یوه صاحبمنصب کېن لاس سنګاره شو دغه مجاهد ته یې وویل که مې سترګې کار کولی نو د ساعت عقرب مې یې په نبنه کاوه ته کوره ورته؛ د ټوپک له ډزسره د صاحبمنصب لاس او ساعت دواړه په هوا شول هغه به د ډز ترمخ د عسکر، صاحبمنصب، یا ټانک، لاری او . . . . . . یو ځانګړی ځای په نبنه کاوه په کوم ځای به چې د هغه زړه ورغی - او بیله دې یې هیڅکله پرما شه کوته نه راکاږله.

خدای خبر چې د کوم مجاهد د ټوپک مردک د جبهه خانې پرموټر ومښت چې د ټانکونو له منځه یو ډز او لمبې پورته شوې.

داورلمبې دومره ژېغراندې او چاودنه (راسې) سخته وه چې نژدې ټانکونه او لاری یې هم مغلبته پخپلو لمبو کې واخیستلې او د نورو چې وس کېده او لاره یې ایستلې شوای نو بیا یې نه سمه کتله او نه کره.

اوچې له کابل نه د تښتېدلو عسکرو او صاحبمنصبانو حال راورسېدنو مغوی خبره دومره لویه کړې وه چې: پدوی له ځلاوو خواوو او هوا نه څه کوی چې د ځمکې له تل نه هم ډزې اوبرید ونه کېدل. داسې چې هرکوم هرې ډېرې، هرې او لې او هربوټی پرې بارونه چلول.



# ... او: په جرګو مرکو نشي کار تمام

د خلقیانو له جګړې ستومانه او نهیلی حکومت دې ته اړ شو چې د زور له لارې نه بلکې د زاریو او ننواتو له لارې ځینې اقوام او ته د هغوی سپین ږیري او مشهوري خبرې چې په کابل کې د دوی د وحشت ترڅېرې لاندې او سېدل د جرګې په نوم واستوي.

هغوی چې په کابل کې یې د ورځکو مشهوري خبرې او مخور داخله وزارت ته جلب کړل په لستونو کې د هغو ټولو ماموریتو نومونه نیول شوي وو چې د وړکو چک ته منسوب او لاد څرخې پله د زندان مېلمانه شوي نه وو.

دغه کسان د روژې په وروستیو ورځوکې د داخله وزارت د ماموریتو د ودې خورلو په سالون کې راغونډ کړی شول.

دا هغه وخت وو چې اسلم وطنجار مازی تش په نوم وزیر وو، خود دغه وزارت واک او صلاحیت ظاهراً د پولیسو د لوی قوماندان انجنیر علي شاه پیمان په لاس کې وو.

علي شاه پیمان چې یو امیني خلقي او لکه (امین) د مارغوندې ښایسته وو د

حکومت په نمایندګۍ سالون ته په ډېر کبر او فخر کې راننوت، د حق په جانب او غمناکه چوپ په نیولو سره یې د دغو کسانو په وړاندې خبرې پیل کړې.

ده وویل: زه د یوه پښتون په توګه له وردګو سره ډېر زیاته مینه لرم دا یې هم وویل چې وردګ د حکومت له نظره ډېر شریف خلک دي په تېره بیا پر ده ډېر ګران دي.

ده په شرافت سوګند یاد کړ چې هغه دردناک حالت چې د وردګو ښځو او ماشومانو ته د جګړې له امله په غرونو کې د استوګنې څخه ودېښو شوی دی په خاصه توګه د ده د زړه سوی ور دی خو په ضمن کې یې د دې خبرې یادونه هم وکړه چې حکومت هغه وسایل او امکانات په لاس کې لري چې د وردګو ټوله سیمه ورباندې په بل ځل وار وي خو زما دا حالت پدغه مېړني او غیرتي قام نه لوریږي نو داسې یو کار باید وشي چې د دواړو خواوو یعنې حکومت او وردګو حیثیتونه پکې وساتل شي:

پیمان دا هم وویل: په حکومتي دستګاه کې له وردګو نه داسې کسان شته چې د وېړګو په مقابل کې د سختو جنګړو او عسکري عملیاتو تجویز وړاندې کوي خو زه د یو پښتون په توګه چې وردګ ډېر راباندې ګران دي د هغوی په مخ کې درېږم.
ده راجلب شویو کسانو ته مخ وکړ څاوه ویې ویل تاسې خپل قوم ته ورشئ ممکن هغوی له تاسو سره ښه سلوک ونکړي خو هڅه چې د زړه کوي بیا هم ستاسو قوم دی ورشئ دلاسا یې کړئ.

د پیمان په خبرو کې د چک ماموړینو ته ټ پلاله لاندې یو اخطار او کوانن هم وړاندې شو او هغه دا چې دا ماموړین دې یا له دوی سره ودرېږي او یا دې د خپل قوم څنګ ونیسي.
په سالون یو ویرجن سکوت حکم چلاوه د ناستو کسانو له څېرو ډ ډررو -



اندېښنو لوخړې خټلې هغوی زیاتره د پیمان خبرو ته نه بلکې خپل ژوند او سبا ته په فکر کې ؤ. داسې غمناکه چوپتیا چې سړی فکر کاوه په ناستو کسانو کې دمه نه چلېږي او هسې بې سترګې غړېږي.
اسمعیل خان چې یو وخت ډېر مقتدر والي ؤ دغه چوپتیا ماته کړه او د نورو په نمایندګۍ یې د خوښۍ وکړې ده هم د قام په دغه دردوونکې حالت اندېښنه څرګنده کړه او په ضمن کې یې د خونتو وردګو خلقیانو دې تجویز ته چې په وردګو دې سخت عملیات سرته ورسېږي د اشارې په ترڅ کې وویل حکومت اوس هم د دې ډول عملیاتو په برخه کې صرفه نه کړي خو له دې لارې څخه یې کامیابي نه ده ترلاسه کړې.
لدې وروسته پیمان له غونډې ووت او په ظاهر کې دوه تنه خلقیان یو د بابالا شا محمود او لله دبوم کلي نعیم په غونډه کې پاته شول دوی د یولړ مسکو ټیټو - وروسته د یوه لست له مخې د هغې کسانو نوموړنه غونډې ته واورول چې باید وردګو ته د جرګې له پاره روان شي، غونډې پدې نومونو څه اعتراض ونه کړ او یا یې نشو کولی.

* * *

د ۲۷ روژې په ماښام دوه هلیکوپټر الوتکې په ډېر لور والي سیمې ته نوتې مجاهدین چې د خپلو مورچو دپاسه ناست وو پر الوتکو یې بنې د ډېرې کولې وچلولې هغه کولي الوتکو ته رسېدې چېرې شوې او کېدی شي هغوی پرې خبر شوي هم نه وي خو دوی پرې خپل زړه یې تش کړل او هغه یې بې ځوابه پرې نښودې.
الوتکو له پاسه سپینې پاڼې شیندلې او چې تر څو ځمکې ته را رسېدې نو د ټولو پام هغه خوانه ووه ماشومانو به منډې پسې وهلې او دا لوبه د هغوی د لږې شیبې د ساتېرۍ ښه مشغولا وه، پاڼې ځمکې ته راورسېدلې چا به له قهر او خپم څخه ټوټه کړې - چا به ابیزه ا یستو او چولې او یو نیم به فکر ورته یووړ خو عمومي فضا داسې وه چې مجاهدین و د رژیم د ماتې سندګانه او بیبل ته به یې د دغو پاڼو په سپودلو داسې

حکومت په نمایندګۍ سالون ته په ډېر کرار او فکر کې راننوت، د حق په جانب او غمناکه پوز په نیولو سره یې د دغو کسانو په وړاندې خبرې پیل کړې.

ده وویل: زه د یوه پښتون په توګه له وردګو سره ډېره زیاته مینه لرم دا یې هم وویل چې وردک د حکومت له نظره ډېر شریف خلک دي په تېره بیا پر ده ډېر ګران دي.

ده په شرافت سوګند یاد کړ چې هغه دردناکه حالت چې د وردګو ښځو او ماشومانو ته د جګړې له امله په غرونو کې د استوګنې څخه ورپېښ شویدی په خاصه توګه د ده د زړه سوی وړ دی خو په ضمن کې یې د دې خبرې یادونه هم وکړه چې حکومت هغه وسایل او امکانات په لاس کې لري چې د وردګو ټوله سیمه ورباندې په بل څ واړوي خو زما دا حالت په دغه مېړنۍ او غیرتي قام نه لورېږي نو داسې یو کار باید وشي چې د دواړو خواوو یعنې حکومت او وردګو حیثیتونه پکې وساتل شي:

پیمان دا هم وویل: په حکومتي دستګاه کې له وردګو نه داسې کسان شته چې د وردګو په مقابل کې د سختو جګړو او عسکري عملیاتو تجویز وړاندې کوي خو زه د یوه پښتون په توګه چې وردګ ډېر راباندې ګران دی د هغوی په مخ کې دربږم.

ده راجلب شویو کسانو ته مخ وکړ څاوه ویې ویل تاسې خپل قوم ته ورشئ ممکن هغوی له تاسو سره ښه سلوک ونکړي خو هرڅه چې د رسره کوئ باید هم ستاسو قوم دی ورشئ دلاسا یې کړئ.

د پیمان په خبرو کې د چک ماموریتونه تر پلاله لاندې یو اخطار او ګواښ هم وړاندې شو او هغه دا چې داماموریت دې یاله دوی سره ودرېږي او یا دې د خپل قوم څنګ ونیسي.

په سالون یو ویرجن سکوت حکم چلاوه د ناستو کسانو له څېرو د ډررو –



اندېښنو لوخړې ختلې هغوی زیاتره د پیمان خبرو ته نه بلکې خپل ژوند او سبا ته په فکر کې و. داسې غمناکه چوپتیا چې سړی فکر کاوه په ناستو کسانو کې دمه نه چلېږي او هسې یې ستړګې غړېږي.

اسمعیل خان چې یو وخت ډېر مقتدر والي و دغه چوپتیا ماته کړه او د نورو په نمایندګۍ یې څو خبرې وکړې ده هم د قام په دغه دردوونکي حالت اندېښنه څرګنده کړه او په ضمن کې یې د څوتنو وردګو خلقیانو دې تجویز ته چې په وردګو دې سخت عملیات سرته ورسېږي داشاره په ترڅ کې وویل حکومت اوس هم د دې ډول عملیاتو په برخه کې صرفه نده کړې خوله دې لارې څخه یې کامیابي نده ترلاسه کړې.

لدې وروسته پیمان له غونډې ووت او په ظاهر کې دوه تنه خلقیان یود باباللا شا محمود اول دبوم کلي نعیم په غونډه کې پاته شول دوی د یولړ مسکو تېتو – وروسته د یوه لست له مخې د هغې کسانو نومونه غونډې ته واورول چې باید وردګو ته د جرګې له پاره روان شي، غونډې پدې نومونو څه اعتراض ونه کړ او یا یې نشو کولی.

* * *

د ۲۷ روژې په ماښګر دوه هلیکوپټر الوتکې په ډېر لوړوالي سیمې ته ننوتې مجاهدین چې د خپلو مورچو د پاسه ناست وو پر الوتکو یې بنې ډېرې کولۍ وچلولې هغه کولۍ الوتکو ته رسېدې چېرې شوې او کېدی شي هغوی پرې خبر شوي هم نه وي خو دوی پرې خپل زړونه تش کړل او هغه یې بې ځوابه پرې نښودې.

الوتکو له پاسه سپینې پاڼې شیندلې او چې ترڅو ځمکې ته را رسېدې نو ډېر لو پام هغه خوانه وو، ماشومانو به منډې پسې وهلې او دالو به د هغوی د لرې شیبې د ساتېرې ښه مشغولا وه، پاڼې ځمکې ته را ورسېدلې چا به له قهر او خښم څخه ټوټه کړې - چا به پابېزه ایستنه او چولې او یو نیم به فکر ورته یو ورځ خو عمومي فضا داسې وه چې مجاهدینو د رژیم د ماتې سند ګاڼه او ویوېل ته به یې د دغو پاڼو په سوډلو داسې

څرګنده وله چې رژیم ورته د ننواتي لمن وغوړوله خپله ناکامي یې ومنله او د دوی د ایماني پرتم پر وړاندې سلامي شول.

پر کاغذونو چې په زرګونو پاڼې یې په ټوله دره کې تیت شوې وې لیکل شوي وو:

دلوی خدای په نامه

«د وردګو کرانو او سپېڅلو اوسېدونکو ته:

څرنګه چې د ثور د ستر انقلاب په رڼا کې د وردګو ټولو اوسېدونکو دانقلاب سره تضاد نلري. نوهغه وقایع او پېښې چې تر اوسه هلته منځ ته راغلي د سوء تفاهم او د دښمنانو د تبلیغاتو ثمره ده نو څکه خلقي دولت د وردګو ټولو اوسېدونکو ته دکمکي اخترد مبارکو ورځو په احترام پوره او شپېړه عفوه اعلانوي او ستاسو قومي جرګه چې دلاندنیو اشخاصو څخه عبارت ده تاسې ته د مفاهمې او عفوې دعملي کولو د پاره درځي.

جرګې ته د دولت لخوا دعفوې دعملي کولو له پاره چې لاره هواره کړي پوره صلاحیت ورکړشوی. دجرګې غړي لاندې قومي مشران دي:

۱- محترم محمد انور خان واحدي، ۲- غلام درویش خان (ابرکل)، ۳- عبدالغني خان ۴- بسم الله علاقدار، ۵- خدایداد خان خړ، ۶- میرافغان، ۷- عبدالحنان خان مینه پال، ۸- ډګروال سید جان خان، ۹- شیر احمد خان، ۱۰- وکیل امین الله خان ۱۱- مامور جلال الدین خان، ۱۲- مدیر محمد آصف خان، ۱۳- عید محمد خان، ۱۴- ملک شیر آقا خان، ۱۵- ملک عبدالرؤف خان، ۱۶- پخوانی والي اسمعیل خان، ۱۷- قوماندان عبدالرؤف خان، ۱۸- عبدالجلیل وجدي، ۱۹- عبدالقدیر خان، ۲۰- مدیر محمد یعقوب خان، ۲۱- رئیس محمد انور خان اکبري او څېړنوال.

دافغانستان دموکراتیک جمهوري دولت لخوا.

لدې څخه هم وردګو ته دوې جرګې د تونو او تاڼکونو په بدرګه تللې



وې خو دهغوی د فعالیت سطحه او ساحه د یوې محدوده وه او تقریباً یوه او غیر رسمي بڼه یې درلوده چې د هغو جرګو کې دغه کسان شامل وو:

۱- حاجي خدایداد خان خړ.

۲- ډګروال عبدالحق د شینې په زوی مشهور.

۳- حاجي سید رسول د تنګي درې اوسېدونکی.

۴- حاجي موسی وردک د شیخ آباد.

۵- غند مشر کریم خان د سید آباد د ولسوالۍ اوسېدونکی.

۶- ملک شېر اقا د جلګې علاقدارۍ اوسېدونکی.

۷- حاجي جمعه ګل د شش قلعې اوسېدونکی.

۸- مدیر یعقوب د دوراخېلو اوسېدونکی.

۹- محمد کریم خان د دوراخېلو اوسېدونکی.

۱۰- ډګروال سید جان د چک ولسوالۍ اوسېدونکی. (۱)

سیمې ته د جرګې دغړو په راتلو مجاهدینو دوې مخالفې نظریې لرلې ځوان پاڅکی ورسره مخالف وُ چې دکمونیزم او اسلام تضاد و نه دغلاینې ندی او دا د رژیم یوه دسیسه ده خو قومي سپین ږیری چې د جرګو مرکې پر کودونو وارد کسان وو د جرګې د راتلو او مرکې پلوی وو او ویل یې چې که څه هم دا تضاد و نه د غلاینې ندی خو د جرګې رد ول هم سم ندی جرګه منو او بیا یې پخپله ګټه یې راوغرخوو. دغه اختلاف د مجاهدینو ترمنځ د څو ورځو مباحثې او سخت جدل سبب شو دا نظر هم وړاندې کړ شو چې جرګه دې راشي خو غړي دې ونیول شي او بیا دې کابل ته د تلو اجازه نه ورکول کېږي او لدې لارې دې هم پر رژیم دیو بل فشار په توګه کار واخیستل شي.

(۱) وګ - پرچک او د ایمرباد وکې اسلامي پاڅون لیکوال محمد زبیر شفیقي ۱۰۸-۱۰۹ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګندوله چې رژیم ورته د ننواتي لمن وغوړوله خپله ناکامي یې ومنله او د دوی د ایماني پرتم پروړاندې سلامي شول.

پرکاغذونو چې په زرګونو یاني یې په تولو دره کې تیت شوې وې لیکل شوي وُ:

دلوی خدای په نامه

«د وردکو کرانو او سپېڅلو اوسېدونکو ته:

څرنګه چې د ثور د ستر انقلاب په رڼا کې د وردکو ټولو اوسېدونکی دانقلاب سره تضاد نلري. نو هغه وقایع او پېښې چې تر اوسه هلته منځ ته راغلې د سوء تفاهم او د دښمنانو د تبلیغاتو ثمره ده نو ځکه خلقي دولت د وردکو ټولو اوسېدونکو ته دکمکي اختر د مبارکو ورځو په احترام پوره او بشپړه عفوه اعلانوي او ستاسو قومي جرګه چې د لاندېنیو اشخاصو څخه عبارت ده تاسې ته د مفاهمې او عفوې د عملي کولو د پاره درځي.

جرګې ته د دولت لخوا د عفوې د عملي کولو له پاره چې لار هواره کړي پوره صلاحیت ورکړ شوی. د جرګې غړي لاندې قومي مشران دی:

۱- محترم محمد انورخان واحدي، ۲- غلام درویش خان (ابه ګل)، ۳- عبدالغني خان ۴- بسم الله علاقدار، ۵- خدایداد خان خر، ۶- میرافغان، ۷- عبدالحنان خان مینه پال، ۸- ډګروال سید جان خان، ۹- شیراحمدخان، ۱۰- وکیل امین الله خان ۱۱- مامور جلال الدّین خان، ۱۲- مدیر محمد آصف خان، ۱۳- عید محمد خان، ۱۴- ملک شیرآقا خان، ۱۵- ملک عبدالرؤف خان، ۱۶- پخوانی والي اسمعیل خان، ۱۷- قوماندان عبدالرؤف خان، ۱۸- عبدالجلیل وجدي، ۱۹- عبدالقدیر خان، ۲۰- مدیر محمد یعقوب خان، ۲۱- رئیس محمد انورخان اکبري او ځیني نور.

دافغانستان د موکراتیک جمهوري دولت لخوا»

لدې ځکې هم وردکو ته دوې جرګې د توپونو او ټانکونو په بدرګه تللې



وې خو د هغوی د فعالیت سطحه او ساحه ډېره محدوده وه او تقریباً پټه او غیر رسمي بڼه یې درلوده چې د هغو جرګو کې دغه کسان شامل وو:

۱- حاجي خدایداد خان خر.

۲- ډګروال عبدالحق د شنې په زوی مشهور.

۳- حاجي سید رسول د تنګي درې اوسېدونکی.

۴- حاجي موسی وردګ د شېخ آباد.

۵- غند مشر کریم خان د سیدآباد د اولسوالۍ اوسېدونکی.

۶- ملک شېرآقا د جلګې علاقدارۍ اوسېدونکی.

۷- حاجي جمعه ګل د شش قلعې اوسېدونکی.

۸- مدیر یعقوب د دوراخېلو اوسېدونکی.

۹- محمد کریم خان د دوراخېلو اوسېدونکی.

۱۰- ډګروال سید جان د چک ولسوالۍ اوسېدونکی. (۱)

سیمې ته د جرګې د غړو په راتلو مجاهدینو دوې مخالفې نظریې لرلې ځوان پاتکی ورسره مخالف وُ چې د کمونیزم او اسلام تضاد ونه د پخلاینې ندی او دا د رژیم یوه دسیسه ده خو قومي سپین ږیري چې د جرګو مرکو پر کودونو وارد کسان وو د جرګې د راتلو او مرکې پلوی وو او ویل یې چې که څه هم د اتضادونه د پخلاینې ندی خو د جرګې ردول هم سم ندی جرګه منو او بیا یې پخپله کټه یې راوګرځوو. دغه اختلاف د مجاهدینو ترمنځ د ځو ورځنی مباحثې او سخت جدل سبب شو دا نظر هم وړاندې کړ شو چې جرګه دې راشي خو غړي دې ونیول شي او بیا دې کابل ته د تلو اجازه نه ورکول کېږي او لدې لارې دې هم پر رژیم دیوبل فشار په توګه کار واخیستل شي.

(۱) وګ - پېچک او دایمرداد وکې اسلامي پاڅون لیکوال محمد زبیر شفیقي ۱۰۸-۱۰۹ مخونه.

دغه مباحثو اوجدلونو نه یوازې د مجاهدینو د مشرانو ترمنځ بلکې د ګروپ مجاهدینو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د مباحثې جدي او خبنمېدلې مجلسونه تاوده کړل.

بالاخره د قومي مشرانو پرېکړه ومنل شوه او د جرګې غړو ته د راتلو اجازه ورکړل شوه. د جګړه د اسلامي انقلابي شورا غړو د علي خان په کلي کې د جرګې د غړو هرکلي وکړ که څه هم د اهرکلي د زړه د پاسه هرکلی و. خو په کوټه کې د جرګې غړي په عنعنوي توګه بر کېنول شول او د شورا غړي او مجاهدینو دروازو ته نږدې ځایونه ونیول. خو بیا هم د جرګې له غړو د دوی او وېرې خپسې منګولې نه وې لېرې کړې او س هم له دوی سره د اندېښنه وه چې توم به څه ورسره کوي او له دوی څخه به د ډېر دناکړد وڅه وړ انتقام او غچ اخلي، دغه دوی او اندېښنه د دوی له ناستې، حرکاتو، خبرو او کتلو څخه ډېره ښه څرګندېده. دوی ته ځانونه له ټولې مشهورتیا، عزت او مشرتوب سره د ډېر وروکي ښکارېدل، د مجاهدینو د ایماني پرتم، روحي وادو او پې سیاله مقاومت له ارخه دوی ځانونه ډېر پیکه احساسول په تېره د اچې سیمې ته د جرګې د غړو په راتلو مجاهدینو یولس مانورۍ ترسره کړې دوی دلاړې په اوږد دو کې په ډېر صلابت او قوت سره ځایونه نیولي و او د لارو دواړو غاړو ته ټوپک په لاس او په کارتوسو پټ ولاړو چې د لمر وړانګو به د کارتوسو سره د ټکر پروخت پیرول طلایي وړانګې ښندلې او ځلکونه به یې کول. دوی به یوه ځای کې د بخاري نل په ډېرو او بوټو کې پټ کړي او له پاسه یې ترپال پرې غوړولی و داسې ښکارېده لکه او بوس توپ؛ چې هر چا یې په لیدو د اخیال کاوه چې یوه د اخوږه درونه توپ دی - دوی د الله اکبر په پرله پسې شعارونو او غږونو د جرګې د غړو هر کلي کاوه او هغوی ته یې دخپل تصمیم او همت نندارې ښودله چې څېښو حُېښو به یو له کواښه د کړ عمل هم ترسره کړي.



د اسلامي انقلابي شورا رئیس عبدالکبیرخان د جرګې له غړو سره خبرې پیل کړې او لکه چې د دوی وېره او اضطراب یې درک کړي وي په مینه، سره سینه او په له موسکا د که خوله یې د جوړ نا جوړه احوال وروسته خپلې پوښتنې پدې ډول پیل کړې:

د الوټکو نه په اچول شویو کاغذونو کې ټول معرفي شوي کسان نشته د مثال په توګه د محمد انور واحدي ځای تش دی او ملک عبدالرؤف خان هم له تاسې سره نه لیدل کېږي موږ نه پوهېږو چې هغوی ولې نه دي راغلي بندیان شوي خو به نه وي؟

دغه پوښتنې هغوی نور هم تلولي کړل او لکه چې له یوې سختې او خطرناکې پوښتنې سره مخامخ شوي وي یو بل ته په بېړه او وارخطایي وکتل او ویې ویل:

واحدي صاحب ته د عدلیې وزارت د معین په توګه ځینې ضروري کارونه پیدا شول او د هغه وزارت په غوښتنه له جرګې نه وویستل شو او په ځای یې مستوفي سلطان محمد و ټاکل شو. خود ملک عبدالرؤف په اړه هغوی هیڅ ونه شو ویلای او چوپ پاته شول. د شورا مشر هم د دوی د تلولې حالت په احساس نور څه ونه ویل هدا رنګه د خانګل ماما موجودیت ته پدې جرګه کې چې نوم یې په لست کې نه و ډېر و د تعجب په سترګه کتل کېده خانګل د ناوېو د وړلو راوړلو له پاره آس ساتلی و او په ودونو کې به د ده آس په کرایه نیول کېده او هېڅ توکه داسې مجلسونو کې خانګل په خپله موضوع رونیا کړه ویې ویل: چې له مدیر محمد یعقوب سره د سړک په غاړه روان و چې د جرګې موټره ودرېده او دی یې هم ورسره موټر ته وخېژاوه نور په هیڅ هم ندی خبر.

بله پوښتنه دا وه چې د جرګې غړي ځانونه قومي بولي او که د حکومت نمایندګان. دغه پوښتنه بیا هم د هغوی پر مخ یو بل د روند ګونګو لړ چې سره ویې لړ زول او بیا یو بل ته په کتو شول. د جرګې غړي په خپلو څوګي هم یو پر بل نه وو او د اوډاند پښنه ورسره وه چې د دوی په منځ کې به

دغه مباحثو او جدلونو نه یوازې د مجاهدینو د مشرانو ترمنځ بلکې دګروو مجاهدینو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د مباحثې جدي او خښمېدلې مجلسونه تاوده کړل.

بالاخره د قومي مشرانو پرېکړه ومنل شوه او د جرګې غړو ته د ټرانسپورټ وسایلو اجازه ورکړل شوه د چک د اسلامي انقلابي شورا غړو د علي خان په کلي کې د جرګې د غړو هرکلي وکړ که څه هم دا هرکلی د زړه د پاسه هرکلی و. خو په کوټه کې د جرګې غړي په غنغنوي توګه برکېنول شول او د شورا غړي او مجاهدینو دروازو ته نږدې ځایونه ونیول. خو بیا هم د جرګې له غړو د دوی او ورېږې خپسې منګولې نه وې لېرې کړې او س هم له دوی سره دا اندېښنه وه چې تورم به څه ورسره کوي او له دوی څخه به د رژیم د ناکردو څه ور انتقام او غچ اخلي، دغه ډول او اندېښنه د دوی له ناستې، حرکاتو، خبرو او کتلو څخه ډېره ښه څرګندېده - دوی ته ځانونه له توپلو مشهورتیا، غوږي او ومشرتوب سره ډېر ورو کې ښکارېدل. د مجاهدینو د ایماني پرتم، روحي دار او ریښې سیاله مقاومت له ارخه دوی ځانونه ډېر پیکه احساسول په تېره دا چې سیمې ته د جرګې د غړو په راتلو مجاهدینو پولس مانورې ترسره کړې دوی دلارې په اوږدو کې په ډېر صلابت او قوت سره ځایونه نیولي وو او د لارو دواړو غاړو ته توپک پړلاس او په کارتوسو پټ ولاړ وو چې دلس ورانکو به د کارتوسو سره د ټکر پړخت یو پول طلایي وړانګې ښندلې او ځلکونه به یې کول - دوی په یوه ځای کې د بخاري نل په ډېرو او بوټو کې پټ کړی او له پاسه یې ترپال پرې غوړولی و او داسې ښکارېده لکه اوبوس توپ؛ چې هرڅا یې په لیدو دا خیال کاوه چې یوه دا خوړه دروند توپ دی - دوی د الله اکبر په پرله پسې شعارونو او غوږونو د جرګې د غړو هر کلی کاوه او هغوی ته یې د خپل تصمیم او همت ننداره ښودله چې ځېنو ځېنو به یو له کوانسه د ګډ عمل هم ترسره کړي.



د اسلامي انقلابي شورا رئیس عبدالکبیرخان د جرګې له غړو څخه خبرې پیل کړې او ګله چې د دوی وېره او اضطراب یې درک کړی وو په مینه، سره سینه او په له موسکا ډکه خوله یې د جوړ ناجوړه احوال وروسته خپلې پوښتنې پیل کړې؛ د دوی پیل کړې:

د الوتکو نه په اچول شویو کاغذونو کې ټول معرفي شوي کسان نشته د مثال په توګه د محمد انور واحدي ځای تش دی او ملک عبدالرؤف خان هم له تاسې سره نه لیدل کېږي موږ نه پوهېږو چې هغوی ولې ندي راغلي بندیان شوي خو به نه وي؟ دغه پوښتنې هغوی نور هم تلولي کړل او لکه چې له یوې سختې او خطرناکې پوښتنې سره مخامخ شوي وي نو ټول به په ویره او وارخطایي وکتل او ویې ویل:

واحدي صاحب ته د عدلیې وزارت د معین په توګه ځینې ضروري کارونه پیدا شول او د هغه وزارت په غوښتنه له جرګې نه وویستل شو او په ځای یې مستوفي سلطان محمد و تاکل شو. خو د ملک عبدالرؤف په اړه هغوی هیڅ ونه شو ویلای او چوپ پاته شول. د شورا مشرهم د دوی د تلولي حالت په احساس نور څه ونه ویل هډارنګه د خانکل ماما موجودیت ته پدې جرګه کې چې نوم یې په لست کې نه و د ډېر ودتعجب په سترګه کتل. خانکل د ناوي د ورپلو راو رپلوله پاره آس ساتلی و او په ودونو کې به د ده آس هر کرایه نیول کېده او هم هیڅ توګه د داسې غلسونو نه خانکل د خپله موضوع روښانه کړه ویې ویل:

چې له مدیر محمد یعقوب سره د سرک په غاړه روان وو چې د جرګې موټر ودرېد او دی یې هم ورسره موټر ته وخېژاوه نور په هیڅ هم ندی خبر.

بله پوښتنه دا وه چې د جرګې غړي ځانونه قومي بولي او که د حکومت نمایندګان - دغه پوښتنه بیا هم د هغوی په مخ زېږیېدل دروند ګوزار و چې سره ویې لرزول او بیا یې بل ته په کتو شول - د جرګې غړي په خپلو منځو کې هم یو په بل نه وو باوره او دا اندېښنه ورسره وه چې د دوی په منځ کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتیٰ د حکومت جاسوس ځای لري نو دغه پوښتنې په ځواب د پېر سره وخوځېدل او خوځېدل د پېرې خبرې یې وڅوولې خو ښاغلي وجدي دا مېړانه وکړه چې د جرګې غړې یې قومي وبلل. وروسته د شورا رئیس او نورو مشرانو هر یوه پخپل وار خبرې وکړې ویې ویل چې وا به خلقیانو د نڅا دې تو پیر پر ضد خبرې کولې خو په عمل کې مونږ ولیدل چې دوی هزاره د پښتنو او پښتانه د هزاره ګانو په مقابل کې لمسول. خلقیانو به ویل او لا ګکیا دی وایي چې انقلاب پر مخ تلونکی هدفونه لري خو په عمل کې دوی غوښتل چې مونږ دوې پېړۍ په شا بوزي او په افغانستان کې د کورنیو جګړو او قبیلوي اختلافونو زمانه بیا په مونږ ووېني او بیا هم دوی ګکیا دی او د مرتجعینو ټاپې په مونږ لګوي او س نو تاسې ووایاست چې مونږ مرتجعین یو که دوی.

د حکومت په ابلاغیه کې مونږ ته په اصطلاح عفوه اعلان شوی. عفوه خو هغو کسانو ته کېږي چې مقصر وي او ګناه یې کړې وی مونږ څه ګناه کړې وه چې زمونږ په سیمه سور اور بل کړې شو.

د شورا رئیس جرګې ته مخ واړاوه او څرګنده یې کړه تاسې زمونږ مشران یاست تاسې پخپله په ټول قوم کې وګرځئ او پخپلو سترګو ووینئ چې د څومره بې دفاع او مظلومانو کورونه او کروندې سوځول شوې. زمونږ کورونه چور شول. بیا ځې زمونږ ماشومان نه بلکې زمونږ څاروی هم دالوتکو په لیدو سره احساسوي چې د محشر ورځ وربانده راتلونکې ده. خو مونږ به دغه ډول ستمګرو عناصرو ته چې ځانونو ته خلقیان وایي او په مونږ بمونه اوروي او د توپ ټانک او طیارې له لارې مونږ ته خپل زور ښیي د اسلامي جذبې او قومي زورله مخې سر ټیټوب او انسانیت وروښیو.

مونږ فیصله کړې چې د حق او حقیقت په لار کې یوټن هم شرونډی نه پاتې کېږو نو چې مونږ داسې فیصله کړې وی بیا یه ولې وسله په ځمکه ږدو بیا به نو



زمونږ له پاره سوله او د سولې جرګې څه ارځښت ولري؟ سره له دې هم مونږ مسلمان او پښتانه یو د ملامتي بار په اوږو نشو کرځولی که چېرې د سولې جرګه زمونږ ملامتي را برسېره کولی شي را ودې نیسي مونږ په پوره حوصله د هغو خبرو اترو او رېدو ته چمتو یو.... دا وخت د جرګې د غړو خولې په لاړو لمدې شوې وې او د زړونو د رزا یې لږ څه ناسته وه ویې ویل مونږ پخپلو سترګو ولیدل چې حکومت ستاسې کورونه سوځولي او تاسې ته یې زیات تاوان د اړولی دی خو تاسې هم صرفه نه ده کړې سرکونه مو خراب کړیدي او لکه چې حکومت ادعا کوي ښوونځي او نور اجتماعي مرکزونه مو سوځولي دي.

د شورا رئیس وویل مونږ منکر نه یو د چک هوټل خو ولسوال خپله عسکري چوني ګرځولې وه چې د جنګ په جریان کې وران شو او بیا ځې یو ښوونځی چې څو ځله حکومت زمونږ پر ضد دیوې اډې په توګه ترې کار اخیست له مینځه وړل شوی. بله دا چې دا ټول مونږ جوړ کړي د قومي اشرونو له لارې مو جوړ کړي او بیا به یې هم مونږ جوړوو، نور مونږ هیڅ اجتماعي مرکز ته زیان نه دی رسولی. د برېښنا فابریکه لکه چې تاسې یې ګورئ فعاله ده او سیمې ته برېښنا ورکوي خو دا په ډاګه وایو چې پر کابل مو برېښنا قطع کړې. داوبو بند او نور ټول تأسیسات فعال دي.

د یو لړ آزادو مباحثو په نتیجه کې مجاهدینو وغوښتل چې جرګه خپل نظر څرګند کاندي د جرګې له خوا وویل شول چې قوم ملامته نه دی مونږ هیله لرو چې د قوم او حکومت تر منځ سرې او به تویې کړو تاسې مونږ ته خپلې غوښتنې او شرطونه څرګند کړئ کوم چې زمونږ له صلاحیته پوره دی هم دلته به یې فیصله کړو او په نورو به له حکومت سره وغږېږو. د شورا رئیس له جرګې اجازه وغوښته چې د دغه مسئلې په اړه د دوی په غیاب کې شورا یوه غونډه وکړي. د دغې ځانګړې

حتیٰ د حکومت جاسوس ځای لري نو د غه پوښتنې په ځواب د هر سړه
وخوځېدل او خوځېدل د هرې خبرې يې وڅوولي خو ښاغلي وجدي دا
مېړانه وکړه چې د جرګې غړي يې قومي وبلل. وروسته د شورا رئيس او نورو
مشرانو هر يوه پخپل وار خبرې وکړې ويې ويل چې خوا به خلقيانو د نژادي توپير
پر ضد خبرې کولې خو په عمل کې مونږ وليدل چې دوی هزاره د پښتنو
او پښتانه د هزاره ګانو په مقابل کې لمسول. خلقيانو به ويل اولا ګليا دي وايي
چې انقلاب پرمخ تلونکی هدفونه لري خو په عمل کې دوی غوښتل چې مونږ
دوې پېړۍ په شا بوزي او په افغانستان کې د کورنيو جګړو او قبيلوي
اختلافونو زمانه بيا په مونږ ووېني او بيا هم دوی ګليا دي او د مرتجعينو تاپې
په مونږ لګوي او س نو تاسې ووايا ست چې مونږ مرتجعين يو که دوی.

د حکومت په ابلاغيه کې مونږ ته په اصطلاح عفوه اعلان شوی. عفوه
خو هغو کسانو ته کېږي چې مقصر وي او ګناه يې کړې وي مونږ څه
ګناه کړې وه چې زمونږ په سيمه سور اور بل کړی شو.

د شورا رئيس جرګې ته مخ واړاوه او څرګنده يې کړه تاسې زمونږ مشران
ياست تاسې پخپله په ټول قوم کې وګرځئ او پخپلو سترګو ووينئ چې د
شوروي بې دفاع او مظلومانو کورونه او کروندې سوځول شوي. زمونږ کورونه
چور شول. بيا ځې زمونږ ماشومان نه بلکې زمونږ څاروي هم د الوتکو په ليدو سره
احساسوي چې د محشر ورځ ورباندې راتلونکې ده. خو موږ به دغو رول
ستمګرو عناصرو ته چې ځانونو ته خلقيان وايي او په مونږ بمونه اوروي او د توپ
ټانک او طيارې له لارې مونږ ته خپل زور ښيي د اسلامي جذبې او قومي زور له
مخې سرټيټوب او انسانيت ووښيو.

مونږ فيصله کړې چې د حق او حقيقت په لاره کې يو تن هم ژوندی نه پاتې
کېږو نو چې مونږ داسې فيصله کړې وی بيا به ولې وسله په ځمکه ږدو بيا به نو.



زمونږ له پاره سوله او د سولې جرګې څه ارزښت ولري؟ سره له دې هم مونږ
مسلمان او پښتانه يو د ملامتې بار به اوږو نه شو کړ ځولی که چېرې د سولې جرګه
زمونږ ملامتې را برسېره کولی شي را ودې نيسي مونږ به پوره حوصله د هغو
خبرو اترو اورېدو ته چمتو يو.... دا وخت د جرګې د غړو خولې په لاړو لمدې
شوې وې او د زړونو درزا يې لرڅه نا سته وه ويې ويل مونږ پخپلو سترګو
وليدل چې حکومت ستاسې کورونه سوځولي او تاسې ته يې زيات تاوان
د اړولی دی خو تاسې هم صرف نه کړي سړکونه موخراب کړيدي او لکه چې
حکومت ادعا کوي ښوونځي او نور اجتماعي مرکزونه موسوځولي دي.

د شورا رئيس وويل مونږ منکر نه يو د چک هوټل خو ولسوالۍ خپله
عسکري چوڼۍ ګرځولې وه چې د جنګ په جريان کې وران شو او بيا ځې يو
ښوونځی چې څوځله حکومت زمونږ پر ضد د يوې اډې په توګه ترې کار
اخيست له مينځه وړل شوی. بله دا چې دا ټول مونږ جوړ کړي د قومي
اشرونو له لارې موجوړ کړي او بيا به يې هم مونږ جوړوو، نو مونږ
هيڅ اجتماعي مرکز ته زيان ندی رسولی. د برېښنا فابريکه لکه چې تاسې يې
ګورئ فعاله ده او سيمې ته برېښنا ورکوي خو دا په ډاګه وايو چې پر کابل مو برېښنا
قطع کړې. دا وبو بند او نور ټول تأسيسات فعال دي.

د يو لږ آزادو مباحثو په نتيجه کې مجاهدينو وغوښتل چې جرګه
خپل نظر څرګند کاندي د جرګې له خوا وويل شول چې قوم ملامته
ندی مونږ هيله لرو چې د قوم او حکومت ترمنځ سرې اوبه توې کړو
تاسې مونږ ته خپلې غوښتنې او شرطونه څرګند کړئ کومې چې
زمونږ له صلاحيته پوره دی هم دلته به يې فيصله کړو او په نورو به له
حکومت سره وغږيږو. د شورا رئيس له جرګې اجازه وغوښته چې د دغه
مسئلې په اړه د دوی په غياب کې شورا يوه غونډه وکړي. د دغې ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندي حق د جرګې غړو ته هم حاصل وُ چې بیله غونډه وکړي. په بله کوټه کې کابو یو ساعت خبرې وشوې او لومړۍ شرط دا وړاندې شو چې زموږ بندیان راخوشي کړي که چیرې یې زموږ بندیان راخوشي کړل بیا به نورو خبرو ته هم سر کیښېنو.

شوراهم هیله لرله چې پټوله جرګه به کابل ته نه ځي ځینې به یې له قوم سره پاته کیږي خو د جرګې غړي و یې پدل چې کنې مجاهدین یې د برمته کولو خیال لري د هم دې ویرې له امله ټول غړو ته د تلواجانو ورکې شوه.

جرګه کابل ته ورسېده د کورنیو چارو په وزارت کې د پولیسو قوماندان علي شاه پیمان چې جرګه هم د ده د ابتکار له مخې جوړه شوې وه د هغوی هرکلی وکړ. هغه په تعجب کې وُ چې د جرګې غړي روغ جوړ د ده مخې ته ناست دي او یوه ته هم کوم زیان ندی رسېدلی. ده پوره تلوسه لرله چې د جرګې له جریان څخه خبر شي همداوُ چې اسماعیل خان مایار د جرګې په نمایندګی د جرګې د فعالیت جریان په مفصله توګه وړاندې کړ چې علي شاه پیمان یې مهم ټکي یادداشت کړل. اسمعیل خان ډېر دلایل لرل چې قوم ملامته ندی بلکې له دې حالت سره ولسوالانو او د خلقي حکومت نورو مامورینو د خلقي کوندغړیو او د انقلاب د دفاع د کمېټو غړیو مخامخ کړېدی.

علي شاه پیمان وویل: ماغوښتل جرګه له امین صاحب سره وګوري خو داسې ښکاري چې امین صاحب له وردګو خپه دی....

مایار په احساساتي بڼه د پیمان خبرې ورپرې کړې او په ماته ګوډه پښتو یې وویل:

... فرق نه کوي امین خپه کیږي کې تره کی، کې د مرخه قوم مهم دی وطن مهم دی موږ غواړو خدای پدې قوم ورحم یي کې حکومت مهرباني



وکړي...

پیمان موسکی شو خپلې خبرې یې ترمیم کړې ویې ویل وبخښئ ما لکه چې خپل مطلب سم ونشو ویلی امین صاحب له وردګو نه خپه ندی وردګ ډېر ورباندې ګران دي ناز ورباندې لري.

بیا یې وویل ریښتیا چې قوم ملامت ندی ماته دوه ولسوال شوی ولسوال ورو نه راغلل او راته یې وویل: چې زموږ ورور وردګو شهید کړېدی. خو ما ورته وویل شهید نه بلکې مردار شوېدی. پیمان وویل ما ځکه خپل ولسوال مردار شوی وګاڼه چې هغه د وردګو پر پښتو او غیرت باندې ملنډې وهلې دي زه هم پښتون یم که چېرې زما په ولس کې داکار شوی وای او زما خلک په زور په موټرونو کې د جګړې له پاره استول شوي وای ما به هم د وردګو په څېر اقدام کاوه.

پیمان د خپلو مخصوصو اکتونو په ملتیا کله د نرمی او د پستې غاړې او کله بیا ګوابنونکی او شخصي خبرې کولې پدې کې د تیلفون زنګ راغی د هغه له خبرو داسې څرګنده شوه چې مقابل لوری یې د مرکزي قواوو قوماندانی ده چې قوماندان یې د وردګو د تنګې او سېد ونکی محمد دوست دی.

پیمان په تیلفون کې په نسبتاً جدي بڼه مقابل لوري ته وویل نه نه ګوره د سولې جرګه دا ده زما سره ناسته ده، دوی له قوم سره مفاهمه کړې د سولې امید نور هم زیات شوی تاسې عملیات مه کوئ د وردګو مسئله ماته پرېږدئ زه د وردګو ضامن یم وردګ ښه خلک دي.

دا معلومه نشوه چې د پیمان دا تیلفوني مرکه مصنوعي وه که حقیقي.

پیمان بیا وروځې او اوږې یو ځای وغورځولې غاړه یې تازه کړ چیه سترګه یې لږ چوغه کړه د خولې ښی وښکی یې یو ې خواته کوږ کړ ویې ویل د هغه اعتماد له مخې چې زه یې د وردګو د هیوادپالنې پر روحیه لرم که چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوندي حق د جرګې غړو ته هم حاصل و چې بېله غونډه وکړي. په بله کوټه کې کابو یو ساعت خبرې وشوې او لومړی شرط دا و چې ددې شوچې نه یو بل بندیان راخوشې کړي که چیرې پې نه یو بل بندیان راخوشې کړل بیا به نور خبرو ته هم سر کېښو.

شورا هم هیله لرله چې ټوله جرګه به کابل ته نه ځي خینې به یې له قوم سره پاته کېږي خو جرګې غړي وییل چې کنې مجاهدین یې د بر مته کولو خیال لري د همدې وېرې له امله ټول غړو ته د تلو اجازه ورکړی شوه.

جرګه کابل ته ورسیده د کورنیو چارو په وزارت کې د پولیسو قوماندان علي شاه پیمان چې جرګه هم د ده د ابتکار له مخې جوړه شوې وه دعوی هر کلی وکړ. هغه په تعجب کې و چې د جرګې غړي روغ جوړ د ده مخې ته ناست دي او یوه ته هم کوم زیان نه دی رسیدلی. د ده پوښتنو ته لرله چې د جرګې له جریان څخه خبر شي همدا و چې اسماعیل خان مایار د جرګې په نمایندګی د جرګې د فعالیت جریان په مفصله توګه وړاندې کړ چې علي شاه پیمان یې مهم ټکی یادداشت کول. اسمعیل خان د پور دلایل لرل چې قوم ملامته نه دی بلکې لدې حالت سره ولسوالانو او د خلقي حکومت نورو مامورینو د خلقي کوند غړیو او د انقلاب د دفاع د کمېټو غړیو مخامخ کړیدی.

علي شاه پیمان وویل: ماغوښتل جرګه له امین صاحب سره وګوري خو داسې ښکاري چې امین صاحب له وردګو خپه دی....

مایار په احساساتي بڼه د پیمان خبرې ورپرې کړې او په ماته کوره پښتو یې وویل:

... فرق نه کوي امین خپه کېږي کې تره کی، کې د هر څه قوم مهم دی وطن مهم دی مونږ غولول خدای پدې قوم ورچېږي کې حکومت مهربانې



وکړي...

پیمان موسکی شو خپلې خبرې یې ترمیم کړې ویې ویل وبخښئ ما لکه چې خپل مطلب سم ونشو ویلی امین صاحب له وردګو نه خپه ندی وردګ ډېر وربا ندې ګران دی نازورباندې لري.

بیا یې وویل ربښتیا چې قوم ملامت ندی ماته دوه ولسوال ورو نه راغلل او راته یې وویل: چې زمونږ ورور وردګو شهید کړیدی. خو ما ورته وویل شهید نه بلکې مردار شویدی. پیمان وویل ما څکه خپل ولسوال مردار شوی وګڼه چې هغه د وردګو پر پښتو او غیرت باندې ملندې وهلې دی زه هم پښتون یم که چیرې زما په ولس کې داکار شوی وای او زما خلک په زور په موټرو کې د جګړې له پاره استول شوی وای ما به هم د وردګو په څېر اقدام کاوه.

پیمان د خپلو مخصوصو اکټونو په ملتیا کله د نرمی او د پستې غاړې او کله بیا ګواښونکې او شخصي خبرې کولې پدې کې د تیلفون زنګ راغی د هغه له خبرو داسې څرګنده شوه چې مقابل لوری یې د مرکزي قواوو قوماندانی ده چې قوماندان یې د وردګو د تنګي اوسېدونکی محمد دوست دی.

پیمان په تیلفون کې په نسبتاً جدي بڼه مقابل لوری ته وویل نه نه، ګوره د سولې جرګه دا ده زما سره ناسته ده، دوی له قوم سره مفاهمه کړې د سولې امید نور هم زیات شوی تا سې عملیات مه کوئ د وردګو مسئله ماته پرېږده زه د وردګو ضامن یم وردګ ښه خلک دي.

دا معلومه نشوه چې د پیمان دا تیلفوني مرکه مصنوعي وه که حقیقي.

پیمان بیا ورو ځي او اوږې یې ځای وغوړځولې غاړې یې تازه کړ چې سترګه یې لږ څوګه کړه د خولې ښې وښکی یې بوې خواته کوږ کړ ویې ویل د هغه اعتماد له مخې چې زه یې د وردګو د هیواد پالنې پر روحیه لرم که چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اختیار کې وای ما به وردکو ته ویلې وای چې ځانته جلا جمهوریت جوړ کړي خو زماله واکه وتلې خبره ده خو هغه څه چې زما له واکه پوره دی زه وردکو ته د هغې لوز ورکوم چې د بندیانو په خوشې کولو کې به ورسره مرسته وکړم کوم بندیان چې له ماسره دی د هغوی په باب خو هیڅ خبره نشته.

خوله وردکو نه زما غوښتنه داده چې خپل سپږونځې دې پرانیزي خپل سرکونه دې جوړ کړي ولسوالي دې پخپله فعاله کړي هر څوک چې د دوی خوښ وي هغه دې ولسوال وټاکي او ولسوال به د قوم مشرانو لکه والي اسمعیل خان او ابکل ته مسئولیت ولري - ترڅو چې پر حکومت د وردکو اعتماد نه وي راغلی تر هغو دې خپل اخیستل شوي ټوپک حکومت ته نه تحویلوي او غوښتنه یې وکړه چې جرګه یو ځل بیا قوم ته ورشي. او دی به تر هغې د وردګو د بندیانو لستونه او نورکار او بار برابر کړي.

پدې دول جرګه بیا وردکو ته لاړه. خو دا ځل جرګې هیڅ کومه نوی خبره له ځان سره نه وه وړې مجاهدینو یو ځل بیا هغوی ته خپله پخوانی خبره تکرار کړه چې لومړی دې زموږ بندیان خوشې کړي شي بیا به موږ خپلې نورې غوښتنې وړاندې کړو.

جرګه چې له وردکو بیرته ستنه شوه بیا یې طبق معمول علي شاه پیمان له ټول جریان څخه خبر کړ هغه ظاهراً دلستونو د برابرولو خبره بیا تکرار کړه پدې دول چې پیمان به د کورنیو چارو د وزارت لستونه برابروي او علي خان به کوښښ کوي چې د اکسا د دوارو نظامي او ملکي برخو څخه د بندي شویو وردکو لستونه برابر کړي.

جرګې مجاهدینو ته د جریانا تو په اړه یو لیک واستاوه او له دوی څخه یې غوښتنه وکړه چې دوی هم د بندیانو لست برابر او جرګې ته یې واستوي. د دوی د لیک په ځواب کې مجاهدینو دا دول ځوابیه لیک ور واستاوه.



د سولې د جرګې محترمو غړو!

له یوې خوا ستاسې تر نظر لاندې د سولې خبرې روانې دي او له بلې خوا د کابل او د ګران هیواد په بیلو بیلو ځایونو کې د وردکو ګرفتاری روانی دي دغه کارموږ ته وښوده چې حکومت د چل او د سیسې فکر لري.

تاسې ته معلومه ده چې د وردکو زیاتره خلک د مامورـ منصبدار ښوونکي - کارګر - سوداګر او نورو په بڼه د هیواد په بیلو بیلو برخو کې ژوند کوي او له بلې خوا د وردګو ځلکه د پراخه سیمه کې استوګنه لري چې هغوی ته په اوسنیو شرایطو کې زموږ لاسونه نشي رسیدی نو د ټولو وردکو د بندیانو د لست جوړول زموږ له پاره امکان نه وتلې خبره ده - که چیرې حکومت په رښتیا سره پخپله اعلامیه کې صادق وي او ښه نیت ولري نو بیا به زموږ شرایط چې د بندیانو - خوشې کول او په پیشنهاد شوی چوکاټ کې د خبرو اترو له جریان څخه عبارت دی سخت کارندی - د وردکو د بندیانو شمېر حکومت ته پوره څرګند دی نو حاجت نشته چې خبرې اوږدې شي او تاسې هم تنګ او ارتګ وکړئ موږ بالخره نه غواړو بیا ځې دومره چې حکومت پخپله وعده وفا وکړي.

د چک د سپین بیرو له خوا

۱۳۵۸ / ٦ / ١٤

لدې سره د جرګې غړو د ده بوریو په جومات کې خپله غونډه راوبلله او څه نوي کسانو هم په غونډه کې برخه واخیسته.

مایار د غونډې غړو ته ټول جریان تکرار کړ. داونځی د موسی خیلو اوسیدونکی دا کسا غړی عمر وردګ چې د بر شیګ زلمی و او د نوی موډ ملت پټلون یې اغوستی و او ښیتلی طلایي ویښتانو یې دیوې پیغلې له -

زما په اختیارکې وای ما به ورډکو ته ویلي وای چې ځانته جلا جمهوریت جوړ کړی خوزماله واکه وتلی خبره ده خو هغه څه چې زماله واکه پوره دی زه وردکو ته دهغې لوز ورکوم چې دبندیانو په خوشې کولوکې به ورسره مرسته وکړم کوم بندیان چې له ماسره دی دهغوی په باب خوهیڅ خبره نشته.

خول وردکو نه زما غوښتنه داده چې خپل سنوونځي دې پرانیزي خپل سرکونه دې جوړکړي ولسوالي دې پخپله فعاله کړي هرڅوک چې د دوی خوښ وي هغه دې ولسوال وټاکي او ولسوال به د قوم مشرانوله والي اسمعیل خان او ابکل ته مسئولیت ولري - ترڅوچې پرحکومت دوردکو اعتماد نه وي راغلی ترهغو دې خپل اخیستل شوي ټوپک حکومت ته نه تحویلوي اوغوښتنه یې وکړه چې جرګه یوځل بیا قوم ته ورشي . او دی به ترهغې دوردګو دبندیانو لستونه او نورکار او بار برابرکړي .

پدې ډول جرګه بیا وردکو ته لاړه - خوداځل جرګې هیڅ کومه نوې خبره له ځان سره نه وه وړې مجاهدینو یوځل بیا هغوی ته خپله پخوانی خبره تکرارکړه چې لومړی دې زموږ بندیان خوشې کړي شي بیا به موږ خپلې نورې غوښتنې وړاندې کړو.

جرګه چې له وردکو بېرته ستنه شوه بیایې طبق معمول علي شاه پیان له ټول جریان څخه خبرکړ هغه ظاهراً دلستونو د برابرولو خبره بیا تکرارکړه پدې ډول چې پیمان به د کورنیو چارو د وزارت لستونه برابروي او علي خان به کوښښ کوي چې داکسا د دوارو نظامي او ملکي برخو څخه د بندي شویو وردکو لستونه برابرکړي .

جرګې مجاهدینو ته د جریانا تو په اړه یو لیک واستاوه اوله دوی څخه یې غوښتي وچې دوی هم د بندیانو لست برابراوجرګې ته یې واستوي . ددوی د لیک په ځواب کې مجاهدینو دا ډول ځوابیه لیک ور واستاوه ،



د سولې د جرګې محترمو غړو !

له یوې خوا ستاسې ترنظرلاندې د سولې خبرې روانې دي اوله بلې خوا د کابل او د ګران هېواد په بیلو بیلو ځایونو کې د وردکو ګرفتارۍ روانې دي دغه کارموږ ته ویښوده چې حکومت د چل او د سیسې فکرلري .

تاسې ته معلومه ده چې د وردکو زیاتره خلک د مامورـ منصبدار سنوونکي ـ کارګرـ سوداګر او نورو په بڼه د هېواد په بیلو بیلو برخو کې ژوند کوي اوله بلې خوا د وردګو خلکو په پراخه سیمه کې استوګنه لري چې هغوی ته په اوسنیو شرایطو کې زموږ لاسونه نشي رسېدی نو د ټولو وردکو دبندیانو دلست جوړول زموږ له پاره امکان نه وتلی خبره ده ـ که چېرې حکومت په ریښتیا سره پخپله اعلامیه کې صادق وي او ښه نیت ولري نو بیا به زموږ شرایط چې د بندیانو ـ خوشې کول او په پیشنهاد شوی چوکاټ کې د خبرو اترو له جریان څخه عبارت دی سخت کارندی ـ د وردکو د بندیانو شمېر حکومت ته پوره څرګند دی نو حاجت نشته چې خبرې اوږدې شي او تاسې هم تنګ او زموږ هم بلخه نه غواړو بیا ځې دومره چې حکومت پخپله وعده وفا وکړي .

د چک د سپین بیرو له خوا

١٤ / ٦ / ١٣٥٨

لدې سره د جرګې غړو د ده بوریو په جومات کې خپله غونډه راوبلله او څه نوي وکسانو هم په غونډه کې برخه واخیسته .

مایار دغونډې غړو ته ټول جریان تکرارکړ . داونځی دموسی خېلو اوسېدونکي داکسا غړی عمر وردک چې د پرشیک زلمي او د نوی مودرشلث پټلون یې اغوستی او بیټلي طلایي وېښتانو یې دیوې پېغلې له ـ

وپښتانو سره سیالي کوله او پدې سیالۍ کې یوشخه وړاندې هم د روښنفکرانو (۱) په نمایندګۍ پداسې حال کې چې ژاولې یې په خوله کې وې داکسا په زور او طاقت خبرې وکړې او وردګ یې سخت محکوم کړل ده له خپلو سترګو نه د سرد زمو وپښتانو دلیرۍ کولوله یوه جانانه حرکت سره دوڅو او سترګو په بلوبلو اشاره وویل: وردګو له بشریت سره خیانت کړیدی د بریستر جنایتکاران دی چې د افغانستان پوزه یې پرې کړې ده - خارجي اتباع یې وژلي - جنایت وردګو کړي خو تور او تومت یې په خلقي دولت وړتپل شویدی.

ده بیا د ناز، کرشمو او جدیت په کډه انداز کې زیاته کړه: داخبره دروغ ده چې د وردګو بندیان به خوشې کیږي - جنایتکاران څوک نه خوشې کوي وردګو داسې جنایتونه کړیدي چې که حکومت د خپلو نازولو سترګو نه ونه کوري دوردګو ټوله سیمه به په بل مخ واړوي - همدغه خونازولي دي چې پر حکومت ګران دي او د هغوی په خاطر وردګو ته صبر کوي خو دا حوصله د پردوام نشي کولای.

مایار د عمرخبرې ترهغه ځایه چې وردګ یې جنایتکاران بلل رد کړې او بوځل بیا یې د قوم دلایل بیان کړل چې دغه ټول حالت په قوم تپل شویدی او هغه مجبور شوی چې وسلې ته لاس کړي.

بیا یې شاه محمود او نعیم ته چې له پیمان سره لیدنه او کتنه د دوی په وسیله برابره ده مخ ورواړاوه ویې ویل: د عمرجان په خبرو کې ځینې داسې ټکي راپیدا شول چې اصلاً د جرګې د دوام ضرورت له منځه وړي هیله ده پیمان صاحب نور موږ معاف کړي. شاه محمود او نعیم د عمرخبرې رد کړې او د پیمان په اړه یې وویل چې وردګو ته د ده نیت سنه دی هغه غواړي چې داسې یوه روغه وشي چې د دواړو خواو حیثیت پکې خوندي شي



خو عمر بیاله سترګو نه د سر د وپښتانو دلیرۍ کولو په یوه اتومات حرکت سره په خبرو کې مداخله وکړه ویې ویل: سوله امکان نلري ځکه چې د جرګې غړي او مشران د زړه له اخلاصه پدې کار کې برخه نه اخلي په جرګه کې داسې کسان شته چې یو ورور یې دلته په جرګه کې ناست دی او بل ورور یې د اشرارو (مجاهدینو) قوماندان دی. ده د مثال په توګه وویل: حاجي خدایدادخان دلته دی او ورور یې مدیر غمی په جغتو کې د اشرارو (مجاهدینو) مشرتوب کوي.

هدارنګه زموږ د اونغي یو دګروال دلته ناست دی چې سید حکیم نومیږي ده یې سنه پنځم لاس یې داشارې په توګه هغه ته ونیو او پدې جرګه کې غړیتوب لري مګر وروري په اونغي کې زموږ پر ضد په جګړه کې بوخت دی.

جرګې بیا له پیمان سره ولیدل خو پیمان داحل هغه پخوانۍ پیمان نه ؤ، په غوسه ناک ډول غږ یې جرګې ته وویل: تاسې له جرګې نه بهخي د چین او شوروي ترمنځ د کشالوغوندي یوه مسأله جوړه کړې ده تاسې اصلاً دا مسأله نه حل کوئ اولا یې غوړ نجوئ او دد ې له پاره چې د وردګو په باب خپل سنه نیت ثابت کاندي او وښیي چې پدې مساله کې څومره ترفشار لاندې دی خپل یاور یې راوغوښت او هغه ته یې سوګند ورکړ چې څو شیبې د مخه د مرکزي قواوو قوماندان محمد دوست په تیلفون کې څه وویل؛ یاور په خدای سوګند یاد کړ چې د مرکزي قواوو قوماندان وویل: چې موږ نور وردګو ته حوصله نشو کولی د عملیاتو پلان تر لاس لاندې لرو.

پیمان د دغه شهادت له اوریدو وروسته وویل: چې د سولې په

وپښتانو سره سیالي کوله او پدې سیالي کې یو څه وړاندې هم و. د روشنفکرانو (۱) په نمایندګی پداسې حال کې چې ژاولې یې په خوله کې وې داکسا په زور او طاقت خبرې وکړې او وردګ یې سخت محکوم کړل ده له خپلو سترګو نه د سرد زمو وپښتانو دلیرې کولوله یوه جانانه حرکت سره دوږمځو او سترګو په بلوبلو اشارو ویل: وردګو له بشریت سره خیانت کړیدی د هرډول جنایتکاران دی چې دافغانستان پوزه یې پرې کړې ده. خارجي اتباع یې وژلې. جنایت وردګو کړی خو تور او تومت یې په خلقي دولت ورتپل شویدی.

ده بیا د ناز، کرشمو او جدیت په کډه اندان کې زیاته کړه: داخبره دروغ ده چې د وردګو بندیان به خوشې کیږي. جنایتکاران څوک نه خوشې کوي وردګو داسې جنایتونه کړیدی چې که حکومت د خپلو نازولو سترګو نه ونه کوري د وردګو ټوله سیمه به په بل مخ واړوي. همدغه غونازولی دی چې پرحکومت ګران دي او د هغوی په خاطر وردګو ته صبر کوي خو دا حوصله د پردوام نشي کولای.

مایار د عمرخبرې ترهغه ځایه چې وردګ یې جنایتکاران بلل رد کړي او بوځل بیا یې د قوم دلایل بیان کړل چې دغه ټول حالت په قوم تپل شویدی او هغه مجبور شوی چې وسلې ته لاس کړي.

بیا یې شاه محمود او نعیم ته چې له پیمان سره لیدنه او کتنه د دوی په وسیله برابره شوه مخ ورواړاوه وې ویل: د عمرجان په خبرو کې ځینې داسې ټکی راپیدا شول چې اصلاً د جرګې د دوام ضرورت له منځه وړي هیله ده پیمان صاحب نورمون معاف کړي. شاه محمود او نعیم د عمرخبرې رد کړي او د پیمان په اړه یې وویل چې وردګو ته د ده نیت سنه دی هغه غواړي چې داسې یوه روغه وشي چې د دواړو خواو حیثیت پکې خوندي شي.



خو عمر بیا له سترګو نه د سر د وپښتانو دلیرې کولو په یوه اتومات حرکت سره په خبرو کې مداخله وکړه وې ویل: سوله امکان نلري ځکه چې د جرګې غړي او مشران د زړه له اخلاصه پدې کار کې برخه نه اخلي په جرګه کې داسې کسان شته چې یو وروړ یې دلته په جرګه کې ناست دی او بل وروړ یې د اشرارو (مجاهدینو) قوماندان دی. ده د مثال په توګه وویل: حاجي خدایدادخان دلته دی او ورور یې مدیر غمي په جغتو کې د اشرارو (مجاهدینو) مشرتوب کوي.

هدارنګه زمونږ د اونغې یو ډګروال دلته ناست دی چې سید حکیم نومیږي زه یې سنه پیژنم لاس یې داشارې په توګه هغه ته ونیو او پدې جرګه کې غړیتوب لري مګر ورورېي په اونغې کې زمونږ پرضد په جګړه کې بوخت دی.

جرګې بیا له پیمان سره ولیدل خو پیمان داځل هغه پخوانۍ پیمان نه ؤ، په غوسه ناک د دغږ یې جرګې ته وویل: تاسې له جرګې نه بهځې دچین او شوروي ترمنځ دکشالو غوندې یوه مسأله جوړه کړې ده تاسې اصلاً دا مسأله نه حل کوئ اولا یې غوړځوئ او ددې له پاره چې دوردګو په باب خپل سنه نیت ثابت کاندې او وبنیې چې پدې مسأله کې څومره ترفشار لاندې دی خپل یاور یې راوغوښت او هغه ته یې سوګند ورکړ چې څوشپې د مخه دمرکزي قواوو قوماندان محمد دوست په ټیلفون کې څه وویل؛ یاور په خدای سوګند یاد کړ چې دمرکزي قواوو قوماندان وویل: چې چون نور وردګو ته حوصله نشو کولی دعملیاتو پلان تر لاس لاندې لرو.

پیمان د دغه شهادت له اوریدو وروسته وویل: چې د سولې په

جریان کې وردګو خپلې پښې لا اوږدې کړې. په میدان، نرخ کې یې بې امنیتي لا زیاتې کړې دی حتی په پنجشیر کې هم د اشرارو (مجاهدینو) ځینې ډلې د وردګو په کډون تخریبکاري کوي.

ده له چا سره په ټیلفون کې له یوې لنډې مرکې وروسته زیاته کړه موږ دقیق اطلاعات ترلاسه کړي دي.

د جرګې غړو هغه ته ګیله وکړه چې د جرګې په جریان کې د جرګې دوه تنه غړي مستوفي سلطان محمد او عبدالقدیر حکومت نیولي دا کار د جرګې له اصولو سره د دښمنۍ معنا نلري؟

پیمان وویل: د عبدالقدیر جرم ډېر سخت دی خود هغه بل په برخه کې به دادی ستاسې په مخ کې پوښتنه وکړم. ټیلفون یې را واخیست او وې ویل، که چېرې د صوفي سلطان محمد...

د جرګې غړو یې خبره ورپرې کړه چې صوفي نه بلکې مستوفي سلطان محمد...

ده خپلو ټیلفوني خبرو ته دوام ورکړ، که چېرې تاسو یې ورځو کې د مستوفي سلطان محمد په نامه کوم وردګ نیولی وي موضوع ژر ماته راولېږئ وروسته څرګنده شوه چې هغه نه و نیول شوی.

د هېواد پیاوړي لیکوال عبدالجلیل وجدي چې پخپله د دغه جرګې غړی و، په دې اړه داسې لیکي:

«... له بلې خوا جرګې زما په غیاب کې یوه بله غونډه کړې وه د دې غونډې په نتیجه کې داسې فیصله شوې وه چې د جرګه محدوده ده باید د جرګې غړي زیات شي او هغه باید په بېلو بېلو ګروپونو وویشل شي او د وردګو نورو برخو لکه جغتو، اوڼغي، شنیز او شیخ آباد ته واستول شي. پدې موده کې عبدالقدیر چې د جرګې یو غړی و بندي شوی و او په جرګه کې زما غیاب نورو غړو



هم داسې اشتباه پیدا کړې وه.

مستوفي سلطان محمد د شپې په ۸ بجو خپل ورور رحیم زما د حال احوال اخیستلو له پاره را ولېږلی و او ما ته یې وویل: چې د جرګې یو غړی عبدالقدیر یې بندي کړی ته او مستوفي دواړه په خطر کې یاست. ده وویل چې سبا به جرګه بیا په نهو بجو د ده بورۍ په جامع جوماټ کې راغونډېږي خود مستوفي نظریه داده چې د نهو بجو نه دمخه د اوو بجو په شاوخوا کې له تاسره د میرویس میدان په یوه برخه کې وګورې که چېرې حالات خراب وي نو سره به وپوهېږئ او د فرصت نه په استفادې سره به خپلې پښې وباسئ!

سهار د اوو بجو نه دمخه زه میرویس میدان ته ورسېدم په سختو اختناقي شرایطو کې د ساعتونو د انتظار لګول هغو کسانو ته معلومېدای شي چې د یوه چپي نظامي حکومت تر تېغ لاندې ژوند کړی. له اوو بجو تر اته نیمو بجو پورې ما دلته انتظار وېویست پدې دوهره موده کې د پرو کسانو نه پوره اوکښته و کتل دوی زیاتره د حکومت جاسوسان و. او یا هغه کسان وو چې زه د یو خطرناک جاسوس په بڼه ورته ښکارېدم د انتظار شېبې یوه په بله پسې سختېدلې او خطرناکې کېدلې، د مستوفي سلطان محمد پته و نه لګېده زړه ته مې ورسېده چې دغه سړی یې نیولی دی خو وروسته معلومه شوه چې هغه یې نه و نیولی او بالاخره د غه معما باندې څوک پوه نشول.»

د جرګې د غړو له خوا د یو لړ مباحثو وروسته داسې فیصله وشوه چې جرګه دې بېلو بېلو سیمو ته په بېلو بېلو ګروپونو کې لاړه شي چې ته هڅیا هم زړه نه شوه ټینګولې ځکه دا ځل چک ته تلل د جرګې د غړو په نزد له سره د تېر بدلو معنی ورکوله ځکه دوی له ځان سره بیله خپلې ناکامۍ څخه د وړلو هیڅ نه لرل حکومت لکه چې پخپله طرحه او پلان کې خپله ناکامي

جریان کې ورډکو خپلې پښې لا اوږدې کړې - په میدان، نرخ کې پې
بې امنیتي لا زیاتې کړې دی حتیٰ په پنجشیر کې هم داشرارو -
(مجاهدینو) ځینې ډلې د ورډکو په کډون تخریبکاري کوي.

ده له چا سره په تیلفون کې له یوې لنډې مرکې وروسته زیاته کړه
مونږ دقیق اطلاعات ترلاسه کړیدي.

د جرګې غړو هغه ته ګیله وکړه چې د جرګې په جریان کې د جرګې
دوه تنه غړي مستوفي سلطان محمد او عبدالقدیر حکومت نیولي دا کار
د جرګې له اصولو سره د بېمنۍ معنا نلري؟

پیمان وویل: د عبدالقدیر جرم ډېر سخت دی خود هغه بل په برخه
کې به دادی ستاسې په مخ کې پوښتنه وکړم. تیلفون یې راواخیست او
ویې ویل، که چېرې د صوفي سلطان محمد...

د جرګې غړو یې خبره ورپرې کړه چې صوفي نه بلکې مستوفي
سلطان محمد...

ده خپلو تیلفوني خبروته دوام ورکړ، که چېرې تاسو یې ورځو کې
د مستوفي سلطان محمد په نامه کوم ورډک نیولی وي موضوع ژر ما ته راولیږئ
وروسته څرګند شوه چې هغه نه و نیول شوی.

د هېواد پیاوړی لیکوال عبدالجلیل وجدي چې پخپله د دغه جرګې غړی
و، یې په اړه داسې لیکي:

«... له بلې خوا جرګې زما په غیاب کې یوه بله غونډه کړې وه د دې غونډې
په نتیجه کې داسې فیصله شوې وه چې دا جرګه محدوده ده باید د جرګې غړي زیات
شي او هغه باید په بېلو بېلو ګروپونو وویشل شي او د ورډکو نورو برخو لکه
جغتو، اونخي، شنیز او شیخ آباد ته واستول شي. پدې موده کې عبدالقدیر
چې د جرګې یو غړی و بندي شوی و او په جرګه کې زما غیاب نورو غړو



هم داسې اشتباه پیدا کړې وه.

مستوفي سلطان محمد د شپې په ۸ بجې خپل ورور رحیم زما د
حال احوال اخیستلو له پاره را ولیږلی و او ما ته یې وویل: چې د جرګې
یو غړی عبدالقدیر یې بندي کړی ته او مستوفي دواړه په خطر کې
یاست. ده وویل چې سبا به ځکه بیا په نهو بجو د ده بورې په جامع
جومات کې راغونډېږي خود مستوفي نظریه داده چې د نهو بجو نه دمخه د
اوو بجو په شاوخوا کې له تاسره د میرویس میدان په یوه برخه کې وګورې
که چېرې حالات خراب وي نو سره به وپوهېږئ او د فرصت نه په -
استفادې سره به خپلې پښې وباسئ!

سهار د اوو بجو نه دمخه زه میرویس میدان ته ورسېدم په مختو
اختنا قي شرایطو کې د ساعتونو دانتظار لګول هڅو کسانو ته معلومېدای
شي چې دیوه چېچې نظامي حکومت ترتېخ لاندې ژوند کوي. له اوو بجو
تر اته نیمو بجو پورې ما دلته انتظار وباست پدې دوهره موده کې د بېروکسانو
زه پورته او کښته وکتلم دوی زیاتره د حکومت جاسوسان و. او یا هغه کسان
وو چې زه دیو خطرناک جاسوس په بڼه ورته ښکارېدم د انتظار شېبې یوه په
بله پسې سختېدلې او خطرناکې کېدلې، د مستوفي سلطان محمد پته و نه لګېده
زه ته مې ورسېده چې دغه سړی یې نیولی دی خو وروسته معلومه شوه
چې هغه یې نه و نیولی او بالاخره دغه معما باندې څوک پوه نشول.»

د جرګې د غړو له خوا دیولړ مباحثو وروسته داسې فیصله وشوه
چې جرګه دې بېلو بېلو سیمو ته په بېلو بېلو ګروپونو کې لاړه شي چې ته هیڅ
هم زړه نه شو ښېنګولی ځکه دا حل چې ته تلل د جرګې د غړو په نزد له سړي
د تېرېدلو معنی ورکوله ځکه دوی له ځان سره بېله خپلې ناکامۍ څخه
د وړلو هیڅ نه لرل حکومت لکه چې پخپله طرحه او پلان کې خپله ناکامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلي وي نو ځکه یې د جرګې له غړو سره وضعه سمه شوه.

چک ته د جرګې په رسېدو او له مجاهدینو سره د لومړنۍ ورځې د -
ملاقات په ورځ له یو لړ خبرو او بحثونو وروسته مجاهدینو خپله فیصله سبا
ته پرېښوده خو سبا خبر راغی چې سیمې ته یوه لویه قوا راتلونکې ده.

د شورا رئیس د جرګې غړو ته خبر ورکړ چې حکومت د الاسنګ نه چې د
چک ولسوالۍ په ختیځ کې پروت دی حمله شروع کړېده - مونږ د زما نخیلو
کلي ستاسې له پاره انتخاب کړیدی مونږ پخپله یو نامعلوم ځای ته روانېږو
نو د نو ستاسې خوبنه ده چې له مونږ سره په قوم کې پاتې کېږئ او که نه.

د جرګې په غړو د مرګ ویرې پرده غوړولې وه د ډېر وارخطا وو. له دوی
سره دا ویره وه چې مجاهدین به دا فکر وکړي چې جرګه یوازې د دوی د
اغفال له پاره په کار اچول شوې وه او مجاهدین به حتماً له دوی نه غچ اخلي.
او دوی به په دغه جرم محاکمه کوي چې دوی مجاهدین د جرګې په نامه
په اغفال کې ساتلي وو خو داسې و نه شوه د دوی د ویرې او توقع خلاف د
اسلامي انقلابي شورا رئیس عبدالکبیر په بشاشه څېره لکه چې د دوی
دغه ویره یې درک کړې وي د لطف او متانت نه په ډک آواز له دوی نه
پوښتنه وکړه وې ویل: زمونږ خو همدا حال دی چې تاسې خپه شوی نه
واست نو د مشرانو هم دا د ولس د مهربانۍ او داړ خبرې ورته وکړې.

مجاهدینو دغه شپه د جرګې له غړو سره تېره کړه او دوی یې په
شو نبو خبرو چې د مذهبي احساساتو، ملي دردونو او نورو په نږه پوري
مفاهیمو ځنې ډکې وې خوشاله ساتل او د هغوی د ویرې او اندېښنې د
له منځه وړلو له پاره یې له هغوی سره له مطایبو ډکې خبرې وکړې او
په سبا یې هغوی ته وویل: مونږ ته ثابته شوه چې تاسې هیڅکله هم د -
حکومت نشئ کېدی (په رښتیا هم چې جرګه د حکومت نه شوه د جرګې



غړي وار په وار له مجاهدینو سره یو ځای شول ښاغلی عبدالجلیل وجدي
همغلته له مجاهدینو سره پاته شو، اسمعیل خان ما یار هم وروسته د -
هجرت لاره ونیوله. خدایداد خان او د ډېرو نورو هم هجرت وکړ او یا له مجاهدینو
سره یو ځای شول. او اوس یې ګڼ شمېر د مجاهدینو په لیکو کې ځای لري.)
ستاسې او ستاسې د جرګې قدر یوازې مونږ ته معلوم دی مونږ جهاد هم کوو
او سیاست هم - تاسې حکومت مونږ ته تش لاس راولېږلی که څه هم مونږ ترې
د خیر توقع نلرو خو تاسې چې زمونږ مشران یاست خالي لاس مونه لېږو مونږ
د پولیسو د قوماندان علي شاه پیمان په بنوم یو لیک لیکلی چې تاسې ته یې درکوو
بنایي دومره مهم څه پکې نه وي خو مونږ ته هغوی یوازې دومره اهمیت لري
چې د هغه په وړلو تاسې تش لاس لاړ نشئ.

د جرګې د تګ پر وخت حُسینو مجاهدینو غوښتل چې له جرګې خپل غچ
واخلي ځکه د حکومت حملې دوی ډېر پارولي ؤ خو مشرانو یې پرې نښنبود ل
هغوی دا جرګه د حکومت یو خطرناک کوابنی او توطیه ګڼله او دلایل یې هم
وړاندې کول چې دغه جریان د جرګې په پیل او پای کې د ډېر جدي بنه درلوده

د جرګې له خوا پیمان ته د ولس سرپېټی لیک وړاندې کړې شو د لیک له
لوستلو سره د پولیسو عمومي قوماندان داسې تاوراتاو شو چې تا به ویل غومبسو
وچیچه او په عصباني حالت کې یې د کاغذ په لیکونکي لفظي حملې وکړې
او ددې له پاره چې د جرګې غړي د کاغذ لیکونکي په سار سلوک قضاوت
کولو ته راوبولي هغه یې جرګې ته ولوست.

لیک داسې ؤ:

د سترګو تورو علي شاه جان پیمان!

مونږ قصداً ستاسې له پاره ستاسو رسمي القاب په کار وانه چول او د
پښتنې میني لقب مو درته غوره کړ - دا ځکه چې تاسې مونږ ته د قومي جرګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلي وي نو ځکه یې د جرګې له غړو سره وضعه سره شوه.

چک ته د جرګې په رسېدو اوله مجاهدینو سره دلومړنۍ ورځې د - ملاقات په ورځ له یولړ خبرو اوبحثونو وروسته مجاهدینو خپله فیصله سبا ته پرېښوده خوسبا خبراغي چې سیمې ته یوه لویه قوا راتلونکې ده.

د شورا رئیس د جرګې غړوته خبر ورکړ چې حکومت د الاسنګ نه چې د چک ولسوالۍ په ختیځ کې پروت دی حمله شروع کړېده - موږ دزما نخېلو کلي ستاسې له پاره انتخاب کړېدی موږ څخه یوه نامعلوم ځای ته روانېږو نور نوستاسې خوښه ده چې له موږ سره په قوم کې پاتې کېږئ او که نه.

د جرګې په غړو د مرګ ویرې پرده غوړولې وه د پر وار خطا وو. له دوی سره داویره وه چې مجاهدین به دا فکر وکړي چې جرګه یواځې د دوی د اغفال له پاره په کار اچول شوې وه او مجاهدین به حتماً له دوی څخه غچ اخلي.

او دوی به په دغه جرم محاکمه کوي چې دوی مجاهدین د جرګې په نامه په اغفال کې ساتلي وو خوداسې و نه شوه د دوی دویرې او توقع خلاف د اسلامي انقلابي شورا رئیس عبدالکبیر په بشاشه څېره لکه چې د دوی دغه ویره یې درک کړې وي دلطف او متانت نه په ډک آواز له دوی نه پوښتنه وکړه او ویې ویل: زموږ خو همدا حال دی چې تاسې خپه شوی نه واست نور و مشرانو هم دا دولت د مهربانۍ او داړ خبرې ورته وکړې.

مجاهدینو دغه شپه د جرګې له غړو سره تېره کړه او دوی یې په شبو شبو خبرو چې د مذهبي احساساتو، ملي دردونو او نورو په نړۍ پورې مفاهیمو څخه ډکې وې خوشاله ساتل او د هغوی دویرې او اندېښنې د له منځه وړلو له پاره یې له هغوی سره له مطایبو ډکې خبرې وکړې او په سبا یې هغوی ته وویل: موږ ته ثابته شوه چې تاسې هیڅکله هم د - حکومت نشئ کېدای (په رېښتیا هم چې جرګه د حکومت نه شوه د جرګې



غړي وار په وار له مجاهدینو سره یوځای شول شاغلي عبدالجلیل وجدي همغلته له مجاهدینو سره پاتې شو. اسمعیل خان ما یار هم وروسته د - هجرت لاره ونیوله. خدایداد خان او د پرونورو هم هجرت وکړ او یا له مجاهدینو سره یوځای شول. او اوس یې کېن شمېر د مجاهدینو په لیکو کې ځای لري.)

ستاسې او ستاسې د جرګې قدر یواځې موږ ته معلوم دی موږ جهاد هم کوو او سیاست هم. تاسې حکومت موږ ته تش لاس راولېږلي که څه هم موږ ترې د خیر توقع نلرو خو تاسې چې زموږ مشران یاست خالي لاس مو نه لېږو موږ د پولیسو د قوماندان علي شاه پیمان په نوم یو لیک لیکلی چې تاسې ته یې درکوو بیا یې دومره مهم څه پکې نه وي خو موږ ته هغوی یواځې دومره اهمیت لري چې د هغه په ورلو تاسې تش لاس لاړ نشئ.

د جرګې د تګ پر وخت ځینو مجاهدینو غوښتل چې له جرګې خپل غچ واخلي ځکه د حکومت حملې دوی د پر پارولي ؤ خو مشرانو یې پرېښنو د ل هغوی دا جرګه د حکومت یو خطرناک کواښ او توطیه ګڼله او دلایل یې هم وړاندې کول چې دغه جریان د جرګې په پیل او پای کې د پر جدي بڼه درلوده.

د جرګې له خوا پیمان ته د ولس سرپرستي لیک وړاندې کړی شو دلیک له لوستلو سره د پولیسو عمومي قوماندان داسې تاوړاتاو شو چې تا به ویل غومبسو وچیچه او په عصباني حالت کې یې د کاغذ په لیکونکي لفظي حملې وکړې او ددې له پاره چې د جرګې غړي د کاغذ لیکونکي په سارهٔ سلوک قضاوت کولو ته راوبولي هغه یې جرګې ته ولوست.

لیک داسې ؤ:

د سترګو تورو علي شاه جان پیمان!

موږ قصداً ستاسې له پاره ستاسو رسمي القاب په کار و نه چول او د پښتني میني لقب مو درته غوره کړ. دا ځکه چې تاسې موږ ته د قومي جرګې

په وسیله د یوه ځوان په توګه پیغام رالیږلی ؤ او لکه چې د جرګې غړو مونږ ته - وویل تاسې د وردګو په حال چې بې کلتوره او بې شعوره جټ الوتکو کوماندوی هلیکوپترونو داوبوس توپونو، غرنیو هاوانونو، زره دارو - زره پوښو- درنو او سپکو ماشینګنو او درنو بمونو یې کورونه وران کړي ندرونه یې سوري کړي او جوماتونه او قرآنونه یې سوځولي. ښځې او ماشومان یې په غرونو کې د روزګار سره او تود و ته سپارلي دي او په ځای د دې چې دوی ته کور، کالي او ډوډۍ ورکړشي کالي یې حکومت په غلا وړي، کورونه یې سوځول شوي او ډوډۍ یې له خولې نه اخیستل شوې ده یوڅه ژړلي وو او زمونږ په غم کې موځان راسره شریک ښودلی ؤ- دادیوه ریښتیاني افغان وظیفه ده چې د نورو په غم کې ځان شریک کړي.

خوګوره په پښتو او پښتونولی کې سیاسي چل او دوکه نه بخښونکی ګناه ده، پښتانه د تورو او پیغور پورچانه نه پرېږدي که هغه دوردګو غوندې بې دفاع قوم هم وي، دوم ره کولی شي چې ترورو ستی کس پورې ځانونه د خپل ایمان او افغانیت په ځای ټوټه ټوټه قربانی کړي.

البته تاسو ته دا هم معلومه ده چې پښتانه ملامتي په ځان نشي زغملای خوښه کاروشو چې تاسې ته معلومه شوه چې په وروستیو پېښو کې وردګو کوم مسئولیت نه درلود.

مونږ خپله قامولی له پلیتو عناصرو څخه پاکه کړه- نورنو په تاسې اړه لري چې پخپل دولت او حزب کې هغوی ته ځای ورکوئ او که نه؟

پاتې شوه دروغجې جوړې خبرې که چېرې تاسې اسلامي شریعت حقوقي پرنسیپونه او یاد پښتو لارې نرخونه او کاڼي په نظر کې ونیسئ او د بندیانو او نورو موضوعاتو په باره کې خپلې وعدې ترسره کړئ نو زمونږ نورې غوښتنې او شرایط به هم ولاړ ندي کړي شي او خبرې به دوام پیدا کړي د قوم له خوا تاسې ته د او درکولی



کېږي مونږ هیڅکله د ملامتی تورا و پیغور په ځان نه منو.

ګرانه! که تاسو واقعاً د وردګو د حق په جانب او خپل شوي قوم سره مینه لرئ نو بیا هم دیوه پښتون په توګه د دوی د مظلومیت او نه ملامتی حالات لکه څنګه چې ستاسې وجدان حکم کوي او د جرګې غړیو ته موشرح کړي دی- هماغسې خپلو سترو مقامو ته وړاندې کړئ.

په پای کې بنا یې ووایو چې دوردګو مظلوم او ځپل شوی قوم به هیڅکله هم د زور او ظلم په مقابل کې تسلیم نه شي.

په ځوانۍ دې برکت شه
د چک د سپین ږیرو له خوا

وګورئ د لیک په سرخط کې د څارندوی لوی قوماندان دیپلوم انجنیر علي شاه پیمان د ماشوم غوندې د سترګو تورعلي شاه جانه په القاب مخاطب شوی پدې ډول د مخاطب و لمعنا داوه چې قومي مشران له هغه سره د یوه داسې چا په حیث مکاتبه لري چې د قوم د مشرانو په مقابل کې ډېر کوچنی دی. په عین حال کې دوی حکومت په رسمیت نه پېژني یواځې د علي شاه جان پیمان د شخصي احساس له مخې هغه ته لیک استول شوی.

دلیک د متن په اوریدو جرګې پیمان ته وویل چې داسې نده دوردګو سپین ږیرو تاسې ته په درنښت کتلی او تاته یې د دې ویاړ بخښلی چې د یوه پښتون ځوان په توګه ستاسو دهیلو او آرزو سره سم درته وظیفه وسپاري ترڅو تاسو خپلو مربوطه مقاماتو ته د قوم مشکلات او پدوی باندې د وروستل شویو بدو حالاتو په اړه معلومات ورکړئ!

علي شاه پیمان په احساساتو راغئ له چوکۍ ولاړشو څوقدمه یې وړاندې وروسته واخیستل بېرته میز ته راوګرځید سترګې یې را وایستلې او پرمیز یې د سوک له یوه سخت ګوزار سره وویل، زه د خپلې پښتو او پښتونولی نه تېر

په وسیله د یوه ځوان په توګه پیغام رالېږلی و اوکه چې د جرګې غړو مونږ ته – وویل تاسې د وردګو په حال چې بې کلتور او بې شعوره جټ الوتکو کوماندوی هلیکوپترونو داوبوس توپونو، غرنیو هاوانونو، زره دارو – زره پوشو- درنو او سپکو ماشینګڼو او درنو بمونو یې کورونه وران کړي نړونه یې سوری کړي اوجوماتونه او قرآنونه یې سوځولي. ښځې او ماشومان یې په غرونو کې د روزګار سرو او تودو ته سپارلي دي او په ځای د دې چې دوی ته کور، کالي او ډوډۍ ورکړ شي کالي یې حکومت په غلا وړي، کورونه یې سوځول شوي او ډوډۍ یې له خولې نه اخیستل شوې ده یو څه زړه لې وو او زمونږ په غم کې موځان راسره شریک نبودلی و- دادیوه ریښتیانی افغان وظیفه ده چې د نورو په غم کې ځان شریک کړي.

خوګوره په پښتو او پښتونولۍ کې سیاسي چل او دوکه نه بخښونکی ګناه ده، پښتانه د نوو او پیغور پورې چاته نه پرېږدي که هغه دوردګو غوندي بې دفاع قوم هم وي، دومره کولی شي چې تر وروستي کس پورې ځانونه د خپل ایمان او افغانیت په ځای کولو د پاره قربانی کړي.

البته تاسو ته دا هم معلومه ده چې پښتانه ملامتي په ځان نشي زغملای خوبنه کار وشو چې تاسې ته معلومه شوه چې په وروستیو پېښو کې وردګو کوم مسئولیت نه درلود.

مونږ خپله قاموله له پلیتو عناصرو څخه پاکه کړه- نو ونو په تاسې اړه لري چې پخپل دولت او حزب کې هغوی ته ځای ورکوئ او که نه ؟

پاتې شوه دروغې جوړې خبرې که چېرې تاسې اسلامي شریعت حقوقي پرنسیپونه او یاد پښتو لارې نرخونه او که انې په نظر کې ونیسئ او د بندیانو او نورو موضوعاتو په باره کې خپلي وعدې ترسره کړئ نو زمونږ نوري غوښتنې او شرایط به هم ونه ندې کړی شي او خبرې به دوام پیدا کړي دقوم له خوا تاسې ته دا نو درکولی



کېږي مونږ هیڅکله د ملامتی تو او پیغور په ځان نه منو.

کرانه ! که تاسو واقعاً د وردګو د حق په جانب او خپل شوي قوم سره مینه لرئ نو بیا هم دیوه پښتون په توګه د دوی د مظلومیت او نه ملامتی حالات لکه څنګه چې ستاسې وجدان حکم کوي او د جرګې غړیو ته موشرح کړی دی – هماغسې خپلو ستړو مقاموته وړاندې کړئ.

په پای کې بنا یې ووایو چې دوردګو مظلوم او خپل شوی قوم به هیڅکله هم د زور او ظلم په مقابل کې تسلیم نه شي.

په ځوانۍ دې برکت شه
د چګ دسپین بږو له خوا

وکوری د لیک په سرخط کې د څارندوی لوی قوماندان دیپلوم انجنیر علي شاه پیمان دماشوم غوندي د ستړګو تور علي شاه جانه په القاب مخاطب شوی پدې پول د مخاطبولو معنا دا وه چې قومي مشران له هغه سره د یوه داسې چا په حیث مکاتبه لري چې د قوم د مشرانو په مقابل کې د ېرکوچنی دی. په عین حال کې دوی حکومت په رسمیت نه پېژني یواځې د علي شاه جان پیمان د شخصي احساس له مخې هغه ته لیک استول شوی.

دلیک د متن په اوږد وجرګې پیمان ته وویل چې داسې نده دوردګو سپین ږیري تاسې ته په درنښت کتلي او تا ته یې د دې ویاړ بخښلی چې د یوه پښتون ځوان په توګه ستاسو دهیلې او آرزو سره سم درته وظیفه وسپارې ترڅو تاسو خپلو مربوطه مقاماتو ته د قوم مشکلات او پدوی باندې د وروستیو پېښو حالاتو په اړه معلومات ورکړئ !

علي شاه پیمان په احساساتو راغئ له چوکۍ ولاړ شو څو قدمه یې وړاندې ورو سته واخیستل بېرته میز ته راوګرځېد ستړګې یې را وایستلې او برمیز یې د سوکځ له یوه سخت ګوزار سره وویل، زه خپلې پښتو او پښتونولی ته تېر

ثابته شوه خلقیان څه چې وایي هغسې نشي کولی.

قوم له لومړي سره پوهېده چې خلقیان پر جرګو او د پښتنو پر عنعناتو هېڅ عقیده نلري منتهی غواړي چې پدې حساسه مرحله کې ورڅخه پخپله ګټه استفاده وکړي پدې ډول د ولسونو دا ېللو په اړه درڅېم دا حربه هم د ورډکو د مجاهدو مشرانو د تدبیر، کارپوهنې او درایت له مخې له کاره ولوېده او خپله د دوی د غاړې نه بندی شوه.

او هغه د خوشال بابا خبره:

یا تکیه دیوه خدای ده یاد تورې
په جرګو مرکو نشي کار تمام

## یادونه:

پدغه لیکنه کې د محترم عبدالجلیل وجدي د کتاب د په افغانستان کې دعنعنوي جرګو نن او پرون، څخه زیاته استفاده شوې او په ځینو ځایونو کې دهغه نه په مستقیمه توګه عبارات هم را اخیستل شوي دي.

د نوموړي کتاب یو فصل د ورډکو د هدغو جرګو په اړه چې لیکوال خپله دهغې برخوال وُکنیل شویدی لوستونکي ګوليشي چې د زیات تفصیل له پاره هغه کتاب ته مراجعه وکړي.



نیم، څه چې مې ویلي هغه سره رسوم، زه د ورډکو مشران خپل مشران بولم او زیاته تلوسه لرم چې له هغوی سره خپله مخامخ وکورم، که دوی د لته راځي مونږ به یې په درنښت هرکلی وکړو تاسې د جرګې غړي به د دوی د ژوند تضمین وکړئ او که چېرې ما ورېولي زه هم چمتو یم چې ورشم خو زما د ژوند انه تضمین هم ضرورې نه چې داخبره کوم له مرګه نه وېرېږم - یوازې دومره اندېښنه لرم چې که چېرې وردګ ما مړ کړي زمونږ د بین المللي دښمنانو نیوینه به یخ شي او په خپلو اهدافو کې به وواېي چې وردکو د داخله وزارت دامنیې یوستر قوماندان وواژه - بیا یې قلم راواخیست او د قوم په نوم لیک چې د ننواتې بڼه یې درلوده ولیکه،

دېر و قدرمنو پښتنو زړورو سپېڅلو او نازولو د وردګو د چک سپین ږیرو!

له ټولو نه اول السلام علیکم!

ستاسو خط ما ته راورسید د ستاسو دخط د ویلو نه ډېر خوشحاله شوم زه ډېر شیان نه لیکم - خود پښتانه یو خبره وې زه هم یو پښتون یم په پښتنو کې یو پښتون بل پښتانه ته تن نه ورکوي - نو زه هم تاسو ته تن نه ورکوم - خو زه وایم چې تاسې ټول زما پښتانه مسلمان وروڼه یاست زما ستاسې په ماشومانو، ښځو، غویانو، چرګو او سپو زړه سوځي - پښتون خپل مړي په ننواتې بخښي - زه وایم چې خپله خاوره موده، خپله ځمکه موده خپله آرامه ژندګي وکړئ - د خلکو کوند تا سې سره کوم مخالفت نه یو رکلوي او د ښمني نلري - د دغې ضامن زه یم نور مو په خدای سپارم - خوشحاله - کامیابه اوسئ، زه ستاسو سپین ږیرو د لید و انتظار لرم.

د خدای پامان

قوم د جرګې یو غړي ته چې د علي شاه لیک یې ورته وویل،

مونږ له لومړي سره پدې پوهېدو چې خلقیان قومي او اخلاقي ارځښتونو ته اهمیت نه ورکوي خو مونږ چې غوره اسلامي اخلاق او معیارونه لرو هېڅ ډول ملامتي مونږ په ځان و نه منله نو جرګې ته حاضر شو خو بنه شوه چې تاسو او نورو مشرانو ته

ثابته شوه خلقیان څه چې وایي هغسې نشي کولی.
قوم له لومړي سره پوهېده چې خلقیان پر جرګو او د پښتنو په عنعناتو هېڅ عقیده نلري منتهی غواړي چې پدې حساسه مرحله کې ور څخه پخپله ګټه استفاده وکړي پدې ډول د ولسونو دا ېللو په اړه درنیم د احربه هم د ورډکو مجاهدو مشرانو د تد بیر، کارپوهنې او درایت له مخې له کاره ولوېده او خپله د دوی د غاړې نه ېندی شوه.
او هغه د خوشال بابا خبره:

### یا ټکیه دیوه خدای ده یاد توري
### په جرګو مرکو نشي کار تمام

## یادونه:

پدغه لیکنه کې د محترم عبدالجلیل وجدي د کتاب ر په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون) څخه زیاته استفاده شوې او په ځینو ځایونو کې د هغه نه په مستقیمه توګه عبارات هم را اخیستل شویدي.
د نوموړي کتاب یو فصل د ورډکو د هدغو جرګو په اړه چې ایکوال خپله د هغې برخوال و کښل شویدی لوستونکي کولی شي چې د زیات تفصیل له پاره هغه کتاب ته مراجعه وکړي.



نیم، څه چې مې ویلي هغه سره رسوم. زه د ورډکو مشران خپل مشران بولم او زیاته تلوسه لرم چې له هغوی سره خپله مخامخ وکورم، که د دوی دلته راتلې مونږ به یې په درنښت هرکلی وکړو، تاسې د جرګې غړي به د دوی د ژوند تضمین وکړئ او که چېرې ما ور بولی زه هم چمتو یم چې ورشم خو زما د ژوند اند تضمین هم ضرورې نه چې داخبره کوم له مرګه نه ویرېږم - یوازې دومره اندېښنه لرم چې که چېرې ورډک ما مړکړي زمونږ دبین المللي دښمنانو نیوړنه به بخ شي او په خپلو ادېکانو کې به ووایي چې ورډکو د داخله وزارت دا منیې یوستر قوماندان ووژه - بیا یې قلم راواخیست او د قوم په نوم لیک چې د ننواتې بڼه یې درلوده ولیکه،
د پروقدرمنو پښتنو زړورو سپېڅلو او نازولو د ورډکو د جګ سپین ږیرو!
له ټولو نه اول السلام علیکم!
ستاسو خط ما ته راورسید د ستاسو د خط د ویلو نه د پر خوشحاله شوم زه د پر شیان نه لیکم - خو د پښتانه یو خبره وې زه هم یو پښتون یم په پښتو کې یو پښتون بل پښتانه ته تن نه ورکوي - نو زه هم تاسو ته تن نه ورکوم - خوزه وایم چې تاسې ټول زما پښتانه مسلمان وروڼه یاست زما ستاسې په ماشومانو، بځو، غویانو، چرګو او سپو زړه سوځي - پښتون خپل مړي په ننواتې بخښي - زه وایم چې خپله خاورۍ موده، خپله ځمکه موده خپله آرامه زندګی وکړئ - د خلکو کوندتا سې سره کوم مخالفت تربورګلوي او دښمني نلري - د دغې ضامن زه یم نور مو په خدای سپارم - خوشحاله - کاميا به اوسئ، زه ستاسو سپین ږیرو د لید و انتظار لرم.
د خدای پامان

قوم د جرګې یو غړي ته چې د علي شاه لیک یې ورته ووییل،
مونږ له لومړي سره پدې پوهېدو چې خلقیان قومي او اخلاقي ارځښتونو ته اهمیت نه ورکوي خو مونږ چې غوره اسلامي اخلاق او معیارونه لرو هېڅ ډول ملامتي مو په ځان و نه منله نو جرګې ته حاضر شو، خو بنه شوه چې تاسو او نورو مشرانو ته

# ... اوحق د سربښندونکو خپل او د توپکونو نږه دکې پاتې شول

وفادار شاګرد خپل نابغه استاد خوله له خاورو ډکه کړې وه - اوس نو هغه ځان د میدان یکه تاز ګڼلو - په رژیم کې یې هم مخالفین پخپل ګومان تس نس کړي وو - د قانونیت عدالت او مصؤنیت بګڼی یې یکنواخته غږ وله - پخوانۍ جنایات، نیونې، وژنې، وحشت او دهشت یې پر تره کي ورتپلي و - او په همدې توسه یې د پلچرخي په خونړي زندان کې د دوولس زره بندیانو د وژنې تورلست د خپل ناروا حاکمیت د قانوني ښودنې په نمه د داخله وزارت تر مخې ځړولی و.

هرماښګر به د کابل له محکومې راډیو څخه له آمونه ترا باسینده د عزیز ولي سندره د هغه په ستغ آواز سره غبرګېده خولدې ناخبوه چې د آمو او اباسیند همدغه اسره به د ده سر خوري.

دغوبي د بد مرغې کودتا د خونړۍ سپاوون قوماندان ځان له نور هر ډول خطر څخه بې غمه ګڼله د پرچمیانو کار یې کړی وو - د تره کي د ډلګي یې د روسي پر سفارت ورتیستلي وه او پوزانوف یې له سفارت څخه شړلی و خو د روسانو غلچکي برید او کمین نیونه یې په فکر کې هم نه تېرېده چې د ده غاړې ته یې ورو ورو د ورېښمنو



نږیندی وراچوله.

د ده پر وړاندې یوازې د مجاهدینو مقاومت پاتې و له نورو ګردو د ننیزو مخالفتونو او ګواښونو نږد هغه زړه تول و ځکه خو هغه په پوره وحشت سره د هیواد په کوټ کوټ کې د مقاومت ټکولو ته مخه وکړ ځوله.

وردګو ته یې له پخوا زړه ډک و ځکه له ده سره یې د وکه کړې وه او د لس په خپلو کې د جنګونې تمه یې ورته طاعون او په شرمونو شرمولی و له همدې امله یې د خپل بې جلبه اقتدار له پیله په وردګو ټانکونه او الوتکې ورباړش کړې. هغه وخت له مجاهدینو سره نه راکټ و، نه د هشکه او نه هاوان. ماشینګڼ هلته داسې ښکار بده لکه نن چې په کومه جبهه کې ستنګر ښکاري.

خو د جهاد د جذبې زړه غړانده لمبې پر آسمان لګېدې او د طاغوتیانو او ستمګرو د استبداد پرمانې یې اوربل کړې و د احساساتو غږ پزه څپو یو په بله پسې د خوځښت سیلابي موجونه تر پاتې کول. ځکه هغه وخت په زړونو کې یوازې او یوازې د جهاد تلوسه او مینه وه او د خدای (ج)، رضا او خوښي هدف - نه د دنیاوي لاس ته راوړنو لېوالتیا غوښتنې. وسله او وسیله کمه څه چې په نشت شمار وه مجاهدینو په ټوله سیمه کې اعلان وکړ چې که هر څوک په کور کې هر رنګه ټوپک او وسله لري جبهې ته یې دې وسپاري د خوات او سپدونکی چې د سیمې په لومړي برخه کې او سېږي له یوې مخې یې وسلې وې او د دې له پاره چې له خپلې سیمې پخپله دفاع وکړي بناپي یوه جبهه ولري که څه هم په چرپي او موشکش ټوپکونو هیڅ نه شوي کېدای خو د جهاد جذبې څه نه کېدل نیپژندل او د دغې متل پر بنا چې وسله هغه ده چې په لاس در غله هغوی هم پر همدغه وړ ټوپکونو جبهه جوړه کړه او هغه هم د سیمې په لومړنی دفاعي کرښه کې.

د سیمې پر لومړنی دفاعي کرښه د همدغې جبهې د مجاهدینو او ټانکونو، توپونو او الوتکو مقابله پیل شوه - ګردونه آسمان ته وختل د توپونو له غورهېی سره ځمکه لړزېدله رپېدله - جاژونو د اورباران اوراوه - دغازیانو پر سینو د دښمن د وحشت ګولیو خولې

# ... او حق د سربښندونکو خپل او د توپکونو ږغونو د ګې پاڼې شول

وفادار شاګرد خپل نابغه استاد خوله له خاورو ډکه کړي وه - اوس نو هغه ځان د میدان یکه تاز ګڼلو - په رژیم کې یې هم مخالفین ځپل کومان تس نس کړي وو - د قانونیت عدالت او مصئونیت بګتی یې یکنواخته غبرولو - پخواني جنایات، نیونې، وژنې، وحشت او دهشت یې پر تره کي ورتیلی ؤ - او په همدې توسه یې د څرخي پله په خونړي زندان کې د دوولس زره بندیانو وژنې تورلست د خپل نارواحاکمیت د قانوني ښودنې په ترڅ د داخله وزارت ترمخې ځړولی ؤ.

هرمازیګر به د کابل له مکوریانو راهیو ګڼه له آمونه ترا باسینده د عزیزولي سندره د هغه په ستغ آواز سره غبرګیده خولدې ناخبوه چې د آمو او ا باسیند همدغه اسره به د ده سرخوري.

دغوبي د بدمرغي کودتا د خونړي سیاوون قوماندان ځان له نورهر دول خطر څخه یې غمه کاڼه د پرچمیانو کارنې کړی وو - د تره کي دلګې یې د روسي پر سفارت ورتیستلی وه او پوزانوف یې له سفارت څخه شرلي ؤ خود روسانو غلچکی برید او کمین نیونه یې په فکر کې هم نه تېرېده چې د ده غاړې تړلي وراو ورو د ور ښمنو



زړینډي وراچوله.

د ده پر وړاندې پراخې د مجاهدینو مقاومت پا ته ؤ له نورو ګردو د ننیزو غالفتونو او ګوابښونو نه د هغه زړه تول ؤ ځکه خو هغه په پوره وحشت سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې د مقاومت تڅکولو ته مخه وکړځوله.

ورد ګوته یې له پخوا زره دک ؤ ځکه له ده سره یې دوکه کړې وه او د لږس په خپلو کې د جنګونې تمه یې ورته طاعون او په شرمونو شرمولی وو له همدې امله یې د خپل بې جلبه اقتدار له پیله په ورد ګوتانکونه او الوتکې وېمارش کړي. هغه وخت له مجاهدینو سره نه راکټ ؤ، نه د هشکه او نه هاوان. ماشینګن هلته داسې ښکارېده لکه نن چې په کومه جبهه کې ستنګر ښکاري.

خو د جهاد د جذبې ږغرانده لمبې پر آسمان لګېدې او د طاغوتیانو او ستمګرو د استبداد پرماڼې یې اور بل کړی ؤ د احساساتو غرغړه څپو په بله پسې د خوځښت سیلابې موجونه تو پاڼې کول - ځکه هغه وخت په زړونو کې پراخې او پراخې د جهاد تلوسه او مینه وه او د خدای (ج) رضا او خوښی هدف - نه د دنیاوي لاس ته راوړنو لوبه لي غوښتنې. وسله او وسیله کمه څه چې په نشت شمار وه مجاهدینو په ټوله سیمه کې اعلان وکړ چې که هر څوک په کور کې هر ډول ټوپک او وسله لري جبهې ته یې دې وسپاري د خوات او سپد ونکی چې د سیمې په لومړي برخه کې او سپړې له یوې مخې پې وسلې وو او ددې له پاره چې له خپلې سیمې څخه دفاع وکړي بنا یې یوه جبهه ولري که څه هم په چړې او موشکش تر پکونو هیڅ نه شوي کېدای خو د جهاد جذبې څه نه کېدل نیټ زندل او ددغې متل پرېنا چې وسله هغه ده چې په لاس در غله هغوی هم پر همدغه وړ ټوپکونو جبهه جوړه کړه او هغه هم د سیمې په لومړنۍ دفاعي کرښه کې.

د سیمې پر لومړنۍ دفاعي کرښه د همدغې جبهې د مجاهدینو او تانکونو، توپونو او الوتکو مقابله پیل شوه - ګردونه آسمان ته وختل د توپونو له غورهېږ سره ځمکه لکه د زلزلې رپېدې وه - جارونو د او رباران اوراوه - دغازیانو پر سینو د دښمن د وحشت کولیو خولې

بنځولی او په وینو کې لمبېدل د شهیدانو د سرلوړي کاروان بهیر غازیان نور هم د انتقام
اوکسات د جذبو توپاڼي څپو ته سپارل.

د جنګ په سرولمبو او د ګولیو په باران کې تور سرو زخمیان پخپلو کورونو
کې ځای په ځای کول او د شهیدو د کې خمرې به یې ترنیمایي لارې د ماشومانو
په لاس مجاهدینو ته ورسولې.

د جګړې پر دوهمه ورځ د مجاهدینو لومړني ګروپونه د کمونو شهیدانو او زخمیانو له
ورکولو وروسته په شا شول، تر څو په ترتشو مورچو و روختل خو په دوهمه لیکه کې
مقاومت د لومړنیو ګروپونو له یوځایېدنې سره نور هم پیاوړي شو.

له پاسه د لیرې لیرې سیمو مجاهدینو د اوږدو منزلونو په وهلو سره ځانونه د جګړې ډګر
ته رارسول په دوړو او ګردونو کې به داسې پټ وو چې د سر او مخ په کاسه کې به یې یوازې
څیرو او عقابي سترګو د ناخوالو او یې وسیو تر شا د وروستي برې د سوبې او د داو د امید رڼا
ښندله او د انتقام بخري ترې بادېدل په اوږدو اوږدو کتارونو کې د مجاهدینو لیکې لکه د سیند
څپې خوځېدلې چې مخ پر وړاندې روان وو - د سیمې په کوټ کوټ کې د غزا چیغه پورته او
د غزا د ول وهل کېده.

سخت جنګ روان و د یو توپک په وړاندې تانک، توپ او جهاز مقابله کوله چې اتومات
یې بارونه چلول او د اور بارې وروله او هلیکوپترونو د مجاهدینو د مورچلونو د پاسه
راکټونه غورځول او ماشیندار یې چلول - جګړې دومره شدت غوره کړ چې د جنګ سیمې ته یې
د مجاهدینو له پاره د دوړې ورتګ ناممکن وګرځول - غازیان د دووښیو نهر په سنګرونو کې د
د دښمن د اور او ګولیو مقابلې ته اوږې ورکړې او سینې سپر کړې وې.

د سیمې عمده پرابلم د بې وسلې وګړو و - هغوی چې یو دول نه یو دول وسله درلوده، تکلیف
یې رونه نه و او په سنګرونو کې په ټینګه جنګېدل، ټپیانېدل او شهیدانېدل خو هغوی چې
تش لاس وو هغوی څه کړې وای، چې د جنګ شدت او خپلې ځوانۍ او د خپلو همځولو
سرښندنې او میړانې ته به یې وکتل نو ځانونه به ورته پیکه ښکاره شول خو چې لاس یې تش



ونوبیا:
او که خدای مکړه سیمې ته قوه ننوځي هله به بیا څه کېږي.

د هرې قوې له آوازې - راتګ او جنګ پر وخت د بې وسلې وګړو همدغه ستونزه
وه چې د دوی د وجود غوښتې یې ویلې.

د جنګ په لومړیو میاشتو کې به چې کله د قوې آوازه شوه نو خلکو به خپل واړه
غرونو ته لېږدول - کورونه به ټول تش پاته وو او ترهغې به چې د قوې پته لګېده
او بېرته به نه وه ستنه شوې هغوی به په غرونو کې ترږو او کمرونو لاندې شپې تېرولې.
خو وروسته بیا داسې نه وه سپین ږیري به په کورونو کې وو او وسله والو به جنګ کاوه،
او بې وسله ځوانانو به په نږدې غرونو کې قوه څارله او ځانونه به یې ګوښه کول.
مجاهدینو ځای پر ځای سړک بند کړی و. او همدغه ځایونو ته څېرمه به چې پوځ او
ټانکونه د لارې په بېرته کولو اخته وو د مجاهدینو د بریدونو پر مناسب وخت
و - مجاهدینو به پر دغسې وختو او ځایونو کې بنه د خوند حمله پرې وکړه او خپل او دخپلو
ټوپکو زړونه به یې له یوې مخې پرې تش او د پوځیانو پر ټنو به یې سره مرګ
یخ کړل.

د جنګ زخمیان د نږدې کلیو په کورونو کې ځای په ځای کېدل او هلته د تورو
سرو له خوا د هغوی پالنه او دارو درملو غم خوړنه کېده - دا کلي او کورونه طبعاً د سړک غاړې
ته نږدې پراته وو ځکه لیرې ځایونو ته د سخت جنګ په جریان کې د زخمیانو لېږد ډېر
ګران و.

په نږدې کلیو او کورونو کې سره له دې چې د پوځیانو د برید او تالاشي او د
ټول کور او کلي د تباهي ویره وه د تورسرو له خوا به کلک هوډ او ټینګه اراده د زخمیانو
سمبالښت کېده.

له هرې ترې، کمر او شېلې څخه د جنګ، وینو او اور فوارې او ژرغږانده لمبې
ختلې د هر کلي او هر کور - د هر بودا، هرې تورسرې او هر ماشوم د روانۍ، بربادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښخولي او په وینو کې لمبېدل د شهیدانو د سرلوړي کاروان بهیر غازیانو ته نور هم د انتقام اوکسات د جذبو تو پاني څپو ته سپارل.

د جنګ په سر ولمبو او د ګولیو په باران کې تور سرو زخمیانو پخپلو کورونو کې ځای په ځای کول او د شهیدو د کې خمرې به یې ترنیمایي لارې د ماشومانو په لاس مجاهدینو ته ور رسولې.

د جګړې پر دوهمه ورځ د مجاهدینو لومړني ګروپونه د کمو شهیدانو او زخمیانو له ور کولو وروسته په شا شول، تر څو چې په ټینګو مورچو ور وختل خو په دوهمه لیکه کې مقاومت د لومړنیو ګروپونو له یو ځاینې سره نور هم پیاوړی شو.

له پاسه د لیرې لیرې سیمو مجاهدینو د اوږدو منزلونو په وهلو سره ځانونه د جګړې ډګر ته را رسول په دوړو او ګردونو کې به داسې پټ وو چې د سر او مخ په کاسه کې به یې یواځې ځیرو او عقابي سترګو د ناخوالو او بې وسیو ترشا د وروستي بري د سوبې او د ژوند د امید رڼا ښندله او د انتقام بخري ترې باد ېدل په اوږدو اوږدو کتارونو کې د مجاهدینو لیکې لکه د سیند څپې خوځېدلې چې مخ پر وړاندې روان وو. د سیمې په کوټ کوټ کې د غزا چیغه پورته وه او د غزا ډول وهل کېده.

سخت جنګ روان و د یو تو پک په وړاندې ټانک، توپ او جهاز مقابله کوله چې اتومات یې باران چلول او د اوربلې یې ورولې او هلیکوپټرونو د مجاهدینو د مورچلونو د پاسه راکټونه غورځول او ماشیندار یې چلول - جګړې دومره شدت غوره کړ چې د جنګ سیمې ته یې د مجاهدینو له پاره د ډوډۍ وړل ناممکن وګرځول - غازیان د دوو شپو نهر په سنګرونو کې د د دښمن د اور او ګولیو مقابلې ته اوږې ورکړې او سینې سپر کړې وې.

د سیمې عمده پرابلم د بې وسلې وګړو و - هغوی چې یو ډول نه یو ډول وسله درلوده تکلیف یې رونبا نه و او په سنګرونو کې په زړه جنګېدل، ټپیانېدل او شهیدانېدل خو هغوی چې تش لاس وو هغوی څه کړي وای، چې د جنګ شدت او خپلې ځوانی او د خپلو همځولو سربښندنې او میړانې ته به یې وکتل نو ځانونه به ورته پیکه ښکاره شول خو چې لاس یې تش



ونو بیا:

اوکه خدای مکړه سیمې ته قوه ننوځي هله به بیا څه کېږي.

د هرې قوې له آوازې ـ راتګ او جنګ پر وخت د بې وسلې وګړو هم دغه ستونزه وه چې د دوی د وجود غوښتې یې ویلولې.

د جنګ په لومړیو میاشتو کې به چې کله د قوې آوازه شوه نو خلکو به خپل واړه غرونو ته لېږدول ـ کورونه به تول تش پاته وو او ترهغې به چې د قوې پته لګېده او بېرته به نه وه ستنه شوی هغوی به په غرونو کې ترډېرو او کمرونو لاندې شپې تېرولې. خو وروسته بیا داسې نه وه سپین ږیری به په کورونو کې وو وسله والو به جنګ کاوه، او بې وسله ځوانانو به په نږدې غرونو کې قوه څارله او ځانونه به یې ګوښه کول.

مجاهدینو ځای پر ځای سړک بند کړي و. او هم دغه ځایونو ته ځېرمه به چې پوځ او ټانکونه د لارې په بېرته کولو اخته وو د مجاهدینو د بریدونو د پر مناسب وخت و ـ مجاهدینو به پر دغسې وختو او ځایونو کې ښه د خوند حمله پېرې وکړه او خپل او د خپلو توپکو زړونه به یې له یوې مخې پرې تش او د پوځیانو پرتنو به یې سره مردک یخ کړل.

د جنګ زخمیان د نږدې کلیو په کورونو کې ځای په ځای کېدل او هلته د تور سرو له خوا د هغوی پالنه او د دارو درملو غم خوړنه کېده ـ داکلي او کورونه طبعاً د سړک غاړې ته نږدې پراته وو ځکه لیرې ځایونو ته د سخت جنګ په جریان کې د زخمیانو لېږد ډېر ګران و.

په نږدې کلیو او کورونو کې سره لدې چې د پوځیانو د برید او تالاشۍ او د ټول کور او کلي د تباهۍ ویره وه د تور سرو له خوا په کلک هوډ او په څه اراده د زخمیانو سمبالښت کېده.

له هرې ترې، کمر او شېلې څخه د جنګ، وینو او اور فوارې اوچتې غرانده لمبې ختلې د هر کلي او هر کور ـ د هر بوډا، هرې تورسرې او هر ماشوم د ورانۍ، بربادۍ

او مرګ انتظار ته ستر ګې ختلې وې.

له بمباریو سره د کورونو د کړکیو ښیښې ماتېدې او له هر یم سره به ځمکه داسې ولړزېده چې سړي به ویل پر سر یې د کور چت او دېوالونه رانړېږي.

د مجاهدینو تلفات په همغه جبهه کې زیات وُ چې د سیمې په لومړۍ کرښه کې وه او وسله یې چریکي او موشکش توپکونه وُ. پدغه جبهه کې به د سیمې وګړو پنځلس ورځې په نوبت سره پېره کوله او معین مجاهدین یې نه لرل.

قوه تر ولسوالۍ ور سېده مجاهدین هم په یوه یوه نیمه ورځ کې بېرته سره راغونډ شول او ځانونه یې د یوه کاري برید له پاره چمتو کړل دلته وه چې د غه قوه به هم لکه مغکنۍ قوې تس نس کېږي او لکه د پخوا په شېر به د مجاهدینو د ایماني پرتم پر وړاندې پوځیان یو ځل بیا د خپلو اسلافو په څېر سلامي کېږي او د حق د لارې د سر ښندونکو د ډلې په مقابل کې به یو ځل بیا د باطل او نا روا د سرټیټي او شرمېدلي ماتې صحنه تکرارېږي.

خو چې مجاهدین د همدغسې یوې حماسې په لارکې په خپلو لیکو کې ځای په ځای کېدل چې اوس به نو یوه بله ویاړمنه سوبه او پر سوا شکست یوله بل سره ستر ګې لګوي او هوډ یې ازموېي نو د تانکونو کتار د دوړو او لوخړو په توپان کې د تېښتې مخه اخیستې وه او دغسې د حق د لارې د سرتېرو خپل او د توپکو زړونه د ګټ پاته شول.



# ...او تول یې د روس پر ضد یوه کوټلي سرتاسري قیام ته چمتو کړي وو!

د ژمي سړه هوا چلېده. پر ځمکه د واورې سپینه بړستن غوړېدلې وه. خلک له کار او خوارۍ وزګار شوي وو، هسې هم د کلو زړي په بیکارۍ او د ساده کلیوال محیط په مجلسونو کې تېرېږي ځکه خو پېښاور ته هماغسې د پخوا په څېر مجلسونه ګرم وو. د جومات ونو تا واخاني بنې تر ډېرې وې. د مجاهدینو په مرکزونو کې د پېړۍ لسیزې دوام در لود او کلي ته به چې هر مجاهد له پېرې راغبرګ شو نو د جومات د تبې سر او پېښاور کې د بند او به د هغې په لید نو کتنو بنه ګرم وُ.

خلک د پسرلي په تمه وُ او دا یې نره منلې وه چې د یخني په تېرېدو به مجاهدین پر کابل یو عمومي یرغل کوي، په ځانګړې اندازکې به یې تر لیرې لیرې د اوږې غوړېدلې څادر ته وکتل او بیا به یې په داد منه لهجه وویل چې بس وار دا د واورې لمن ورټوله شي بیا به وګورې چې پر کابل د اسلام بیرغ رپېږي او نو د کابل په فتحې پاته څه دي. تر ارغندي شا و خوا سیمه ټوله مجاهدینو نیولې ده، له قضا ما پښتین ور رسته د کابل کندهار په پادشاهي سړک بیله مجاهدینو

اومرګ انتظارته سترګې ختلې وې.

له بمباریو سره د کورونو د کړکیو ښیښې ماتېدې او له هر یم سره به ځمکه دامې ولړزېده چې سړي به ویل پر سر یې د کورچت او دېوالونه راپرېوتل.

